نومورکي مؤرخين

لیکوال

پوهاند عبدالحی حبیبي

Ketabton.com

The Digital Library

د افغانستان او پښتنو د تاریخ نوموړکي مؤرخین

لیکوال :

پوهاند عبدالحی حبیبي

دا کتاب د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه علمي او کلتوري مرکز او "رشاد خپرندویه ټولنې" په ګډه مرسته چاپ سو .

د کتاب پېژندنه :

د کتاب نوم	:::	نوموړکي مؤرخین
لیکوال	:::	پوهاند علامه عبدالحی حبیبي
لومړی چاپ	:::	۱۳۵۹/لمریز کال کابل
دوهم چاپ	:::	۱۳۸۳ /لمریز کال کندهار
خپروونکی	:::	د لوی احمدشاه بابا علمي او کلتوري مرکز
ډیزاین/کمپوز	:::	رشاد کمپیوټر اداره
چاپ شمېر	:::	(۵۰۰) ټوکه
چاپ چاري	:::	صحاف نشراتي مؤسسه

m: The Digital Library

فهرست

گڼه	سرليک	مخ
۱.	د خپرونکي يادښت	۱
۲.	د افغانستان او پښتنو د تاريخ ځيني مؤرخين	۳
۳.	يادښت	۴
۴.	مؤرخين د لوی مؤرخ له نظره	۶
۵.	سلېمان ماکو د (تذکره الاولياء) ليکوال	۲۲
۶.	شېخ کټه د (لرغوني پښتانه) ليکوال	۲۳
۷.	شېخ قاسم د (تذکرهٔ اولياء افغان) ليکوال	۲۵
۸.	شېخ امام الدين د (تاريخ افغاني) ليکوال	۲۶
۹.	محمد بن علي البستي د (تاريخ سوري) خاوند	۲۷
۱۰.	احمد بن سعيد اللودي د (اخباراللودي) ليکونکی	۲۹
۱۱.	دوست محمد کاکړ د (غرغښت نامې) ليکونکی	۳۱
۱۲.	شېخ بستان بړېڅ د (بستان الاولياء) ليکونکی	۳۲
۱۳.	علي محمد کندهاری د (حالنامې) ليکوال	۳۳
۱۴.	اخوند درويزه د (مخزن الاسلام او تذکرې) ليکونکی	۳۳
۱۵.	کامران خان سدوزی د (کليد کامرانی) مؤلف	۳۴
۱۶.	الله يار د (تحفهٔ صالح) ليکوال	۳۶
۱۷.	محمد رسول هوتک د (بياض) ليکونکی	۳۷
۱۸.	نعمت الله هروی د (مخزن افغانی) ليکوال	۳۷
۱۹.	هيبت خان کاکړ د (مخزن افغانی) ليکمرستونکی	۳۸
۲۰.	شېخ عباس سروانی د (تاريخ شېرشاهي) ليکوال	۳۹
۲۱.	مولانا محمود د (تاريخ ابراهيم شاهی) ليکوال	۴۰

The Digital Library

گڼه	سرلیک	مخ
۲۲.	احمد خان د (مجمع التواريخ) ليکوال	۴۰
۲۳.	ملا مست زمند د (سلوک الغزاه) ليکوال	۴۱
۲۴.	شيخ رزق الله مشتاقي دهلوي د (واقعات مشتاقي) ليکوال	۴۲
۲۵.	ابراهيم بټنی د (تاريخ شيرشاهي) بشپړوونکی	۴۳
۲۶.	غلام حسين سليم د (رياض السلاطين) ليکوال	۴۵
۲۷.	شيخ ملي د (دفتر) ليکوال	۴۵
۲۸.	ګجو خان رانيزی د پښتنو د تاريخ ليکوال	۴۷
۲۹.	خوشحال خان خټک د (بياض) ليکوال	۴۸
۳۰.	حافظ رحمت خان د (خلاصه الانساب) ليکوال	۴۹
۳۱.	نواب مستجاب خان بړيځ د (ګلستان رحمت) ليکوال	۵۱
۳۲.	سعادت يار خان بړيځ د (ګل رحمت) ليکوال	۵۱
۳۳.	نياز احمد "هوش" د (تاريخ روهيل کهنډ) ليکوال	۵۲
۳۴.	محمد سليمان خان اسد د (تاريخ افغانستان) ليکوال	۵۲
۳۵.	نواب محبت خان د (رياض المحبه) ليکوال	۵۳
۳۶.	..... د (تذکره الملوک) ليکوال	۵۵
۳۷.	خان جهان لودي د (مرآت الافاغنه) ليکوال	۵۷
۳۸.	منشي عبدالکريم د (تاريخ احمد) ليکوال	۵۸
۳۹.	اکبر د يوې تاريخي رسالې ليکوال	۵۹
۴۰.	..... د (نادر نامې) ناظم	۶۰
۴۱.	..... د (سلطان اويس) د تاريخ ليکوال	۶۰
۴۲.	ميا عمر څمکني د (شجرهٔ نسب افغانان) ليکوال	۶۱
۴۳.	محمد د (پټې خزانې) ليکوال	۶۲
۴۴.	رېدی خان مهمند د (محمودنامې) ناظم	۶۴
۴۵.	د (صولت افغاني) ليکوال محمد زردارخان ناغر	۶۴
۴۶.	افضل خان خټک د (تاريخ مرصع) ليکوال	۶۵
۴۷.	ميرزا عطاء محمد شکارپوري د (نوای معارک) ليکوال	۶۶
۴۸.	حاجي محمد عارف قندهاری د (مطلع او مقطع) ليکوال	۶۷
۴۹.	سلطان محمد خالص د (تاريخ سلطاني) ليکوال	۶۸
۵۰.	قاسم علي خان د (محاربهٔ کابل) ناظم	۷۰
۵۱.	رساله نسب نامه فرقه غلجي	۷۱
۵۲.	روزنامهٔ غزوات هندوستان	۷۲
۵۳.	ائمه الافاغنه	۷۳
۵۴.	د ملا محمدخانمير چارمقاله	۷۴
۵۵.	اسرار الافاغنه	۷۴
۵۶.	خواجو ملېزی د (تواريخ افاغنه) ليکوال	۷۵
۵۷.	د پير معظم شاه (تواريخ رحمت خان)	۷۶
۵۸.	سعادتنامهٔ افغاني	۷۷
۵۹.	محمد امين سرپرېکړي د (جګړه د محمود افغان)	۷۸
۶۰.	عبدالغفار هوتک د کورنۍ د حالاتو ليکوال	۷۹
۶۱.	د باروزو جنګنامه	۸۰
۶۲.	تذکير البار (حالات باروزائی)	۸۰
۶۳.	منظومه جنګنامه	۸۱
۶۴.	د (تذکره الملوک) نومورکی ليکوال	۸۱
۶۵.	موسی بن جرجيس د (تاريخ العجم و الافغان) ليکوال	۸۲
۶۶.	د قاسم علي افريدي تاريخ	۸۲
۶۷.	محمد امين ګلستانه د (مجمل التواريخ) ليکوال	۸۴
۶۸.	د (حقيقت بناء و عروج فرقهٔ سکهان) ليکوال	۸۴
۶۹.	حسين علي د (زيب تاريخها) ليکوال	۸۵
۷۰.	محمدحسيني د (تاريخ احمدشاهي) ليکوال	۸۵
۷۱.	عبدالرحمن بن احمد روشن خان د (تاريخ احمدشاه	۸۶
۷۲.	شيخ حسين الله د (فتح نامې) ناظم	۸۶
۷۳.	امام الدين حسيني چشتي د (تاريخ حسين شاهي) ليکوال	۸۷
۷۴.	تاريخ محاربهٔ کابل يا ظفرنامه اکبري	۸۷
۷۵.	فداحسين د (تاريخ افغانستان) ليکوال	۸۸

The Digital Library

ګنه	سرلیک	مخ
۷۶.	کاشي راج پنډت د (احوال جنګ بهاو و احمدشاه	۸۸
۷۷.	غلام حسین ثمین د (حالات امدن احمدشاه درانی	۸۹
۷۸.	عبدالکریم کشمیری د (بیان واقع) لیکوال	۸۹
۷۹.	محمود الموسوی د (کتاب اقوام و فرقه های افغان) لیکوال	۹۰
۸۰.	محمدعلي انصاري د (تاریخ مظفري) لیکوال	۹۰
۸۱.	محمد اسلم د (فرحت الناظرین) لیکونکی	۹۱
۸۲.	محمدیوسف سدوزی د (کلیات ریاض) لیکوال	۹۱
۸۳.	د اکماس کردي (جنګنامه)	۹۲
۸۴.	محمدجعفر شاملو د (منازل الفتوح) لیکوال	۹۲
۸۵.	د (تاریخ فیض بخش) لیکوال شیوپرشاد	۹۳
۸۶.	عروج و خروج احمدشاه درانی	۹۳
۸۷.	سوهن لال سوري د (عمده التواریخ) لیکوال	۹۳
۸۸.	(تهماس نامه) د تهماس خان لیکنه	۹۴
۸۹.	تاریخ احمدشاهی	۹۴
۹۰.	مراسلات احمدشاه	۹۴
۹۱.	(شاهنامه احمدیه) د نظام الدین عشرت مثنوي	۹۵
۹۲.	د قدرت الله صدیقي (جام جهان نما)	۹۵
۹۳.	د شیرمحمدخان (زبده التواریخ)	۹۵
۹۴.	تاریخ بلوچستان	۹۶
۹۵.	د میرزا احمدعلي کتابچه	۹۶
۹۶.	انندرام د (بدایع وقایع) لیکوال	۹۷
۹۷.	هانوی جونس د (انقلاب پارس) لیکوال	۹۷
۹۸.	د محمدحسن مستوقي (زبده التواریخ)	۹۸
۹۹.	میر عبدالکریم ندیم د افغان او بخارا مؤرخ	۹۸
۱۰۰.	محمد رحیم بخش د (دولت درانیه) لیکوال	۹۹
۱۰۱.	د میرمحمد باقر یاداښتونه	۹۹
۱۰۲.	محمد طاهر وحید قزویني د (عباس نامې) مؤلف	۱۰۰
۱۰۳.	د محمد علي حزین تذکره	۱۰۰
۱۰۴.	د بصیرت نامې لیکوال	۱۰۰
۱۰۵.	عبدالنبي بهبهاني د (بدایع الاخبار) لیکوال	۱۰۱
۱۰۶.	تاریخ خاندان سدو و میر افغان	۱۰۱
۱۰۷.	عبدالله د (تاریخ داوری) لیکوال	۱۰۱
۱۰۸.	ملا اختر د تاریخ لیکوال	۱۰۱
۱۰۹.	محمد کاظم مروی د (نامهٔ عالم آرا) لیکوال	۱۰۲
۱۱۰.	احمد علي خان وزیری د تاریخ کرمان لیکوال	۱۰۲
۱۱۱.	د ایران او اروپا روابط د صفویانو په وختو کي	۱۰۳
۱۱۲.	ظفرنامهٔ خسروی	۱۰۳
۱۱۳.	خاینکوف د بخارا د خانی او علمي تحقیقاتو لیکوال	۱۰۳
۱۱۴.	نورمحمد د (تاریخ سلیمانی) لیکوال	۱۰۴
۱۱۵.	شاه محمد د (تاریخ خاندان سدوزائی) لیکوال	۱۰۴
۱۱۶.	محمدحسن خان مراغی د (مطلع الشمس) لیکوال	۱۰۵
۱۱۷.	فریه فرانسوی ګرزندوی د افغانانو د تاریخ لیکوال	۱۰۵
۱۱۸.	فارسي اخبارات و مراسلات	۱۰۶
۱۱۹.	د فارسي ژبي د اطلاعاتو کالنی	۱۰۶
۱۲۰.	بګدان اسلانوف د افغاني راپور لیکوال	۱۰۷
۱۲۱.	دیفریموف یادداشتونه په روسي ژبه	۱۰۷
۱۲۲.	د جان فاستر د سفر یادداشتونه	۱۰۸
۱۲۳.	راورتي د پښتو او افغاني پېژندني ستر لیکوال	۱۰۸
۱۲۴.	پاتروسینسکي د (انقلاب ایران) لیکوال	۱۰۹
۱۲۵.	میرزا محمد خلیل صفوي د (مجمع التواریخ) لیکوال	۱۱۰
۱۲۶.	میرزا احمدشاه رضواني د (تحفه الاولیاء) لیکوال	۱۱۰
۱۲۷.	تاریخ افغانستان	۱۱۰
۱۲۸.	د ملتان د سدوزو د تاریخ لیکوال احمد نبي خان	۱۱۱
۱۲۹.	علي قلي میرزا د (تاریخ وقایع و سوانح افغانستان) مؤلف	۱۱۲

The Digital Library

مخ	سرلیک	گڼه
۱۱۲	بهاري لال د (احوال نجیب الدوله و علي محمد خان	۱۳۰
۱۱۲	فقیر محمد د (جامع التواریخ) لیکوال	۱۳۱
۱۱۳	عبدالقادر کابلی د (اویماق مغل) لیکوال	۱۳۲
۱۱۳	محمود بن امیر ولي د (بحر الاسرار) مؤلف	۱۳۳
۱۱۳	میرزا سنګ محمد بدخشي د (تاریخ بدخشان) مؤلف	۱۳۴
۱۱۴	هنورام د (تاریخ بلوچستان) مؤلف	۱۳۵
۱۱۴	تاریخ قندهار در عصر درانی	۱۳۶
۱۱۴	رای چنرس د (چهار ګلشن) مؤلف	۱۳۷
۱۱۵	عصت الدین د (خلاصه الاخبار) خاوند	۱۳۸
۱۱۵	سید محمد طباطبائي اصفهاني د (نسب نامه افاغنه) مؤلف	۱۳۹
۱۱۵	ثاقب د (تاریخ افاغنه) لیکوال	۱۴۰
۱۱۶	احمد د (معدن اخبار احمدی) لیکوال	۱۴۱
۱۱۶	محمد بدرالرحمن د (واقعات درانی) مؤلف	۱۴۲

د خپروونکي یادښت

پښتنو د تاریخ په اوږدو کي د خپل تاریخ د روښانه کولو لپاره هڅي کړي، تاریخونه یې لیکلي، ادبي تذکرې یې لیکلي، ادبیات یې روزلي، د خپل هیواد او حتی سیمي په کچه یې د هغوی د جغرافیایي موقعیت او پولو د روښانه کولو په باره کي آثار کښلي دي.

دا هڅي له ډیري اوږدې زمانې راپیل سوي دي، د اړوندي موضوع په باره کي په لسګونو او سلګونو تاریخي او ادبي کتابونه لیکل سوي دي.

خو ! بدبختانه زموږ هیواد تل د پردو یرغلګرو تر ناروا یرغلونو لاندي راغلی دی چي د دغو یرغلونو په اوږدو کي د دې هیواد تاریخ او فرهنګ ته هم نه زغمونکي زیانونه اوښتي، زموږ تاریخي او ادبي آثار ورک سوي یا یرغلګرو د ځان سره وړي او حتی داسي هم پېښه سوې چي کتابونه څه د کتابو او لیکوالو نومونه هم دغو خړو سېلابي سېلیو د ځانه سره وړي دي.

خو د دې هیواد او تاریخ زېږوونکي اولس وروستنیو پوهانو د خپلو مشرانو پر پله پل ایښی او د دغه ډول پېښو د مونډني لپاره یې لیځي رانغښتي وې او دي، چي د سر په لیکه کي یې د هیواد د نامتو تاریخ لیکونکي، ادبپوه او جغرافیه پوه پوهاند علامه عبدالحي حبیبي رحمة الله علیه نوم راځي. چي تر ډیري اندازې په دې برخه کي بریالی سوی او توانېدلی دی چي زموږ د تاریخ او ادب ډیري تیارې روښانه کړي. هغوی د زیاتو شمېر نورو لیکلو او چاپي آثارو په لړ کي یو هم د "نومورکي مؤرخین" په نوم کتاب دی، چي ۱۳۸ تنه نومورکي تاریخ لیکونکي او یا هم د هغوی کتابونه راپېژني.

د دې چاپ کړې کتاب د نه پیدا کېدو او مهموالي له امله په کندهار کي د "لوی احمدشاه بابا رحمه الله علمي او کلتوري مرکز" او "رشاد خپروندویه ټولنې" وپتیل چي دا کتاب د دوهم ځل لپاره چاپ او د تاریخ څېړونکو او مینه والو ته وړاندې کړي.

خدای ﷻ دې وکړي چې د دې کتاب په بیا چاپېدو سره ځوان تاریخ لیکونکي او د فرهنګ مینه وال خپلې راپیل کړې هڅې بشپړې او ګړندۍ کړي.

په همدې هیله

د لوی احمدشاه بابا رحمه الله علمي او کلتوري مرکز

او

رشاد خپرندویه ټولنه

he Digital Library

د افغانستان او پښتنو د تاریخ ځیني مؤرخین

زما د یادداښت په کتابچو کي دا (۵۰) کاله ځیني کتابونه یا د نوموړکو تاریخ لیکونکو نمونه سره راټول سوي وو، چي کله کله به ما په خپله له هغو یادونو څخه کار اخیست او د بل چا لپاره د ګټې وړ نه وو.

یوه ورځ ښاغلي زلمي هیوادمل ماته وویل چي دغه یادداښتونه که سره راټول سي او د یوه کتابګوټي په توګه چاپ سي، نورو ته به هم ګټور وي او فایده به یې عامه سي.

ما هغه ګرد سره راټول کړل او ده ته مي وسپارل چي دا دی د ده په همت خپرېږي. خداي دي خپلې ښې او ښادۍ د ده په برخه کي، چي په داسي کارو کي زیارونه ګالي.

کابل ــ جمال مېنه
عبدالحی حبیبي
۱ جدي ۱۳۵۹

The Digital Library

یادښت

د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځی وياړي چي د هیواد د ستر نومیالي ادبي، علمي او روحاني شخصیت میا فقیرالله حصارکي ننګرهاري د دوه سوم تلین په نمانځنه کي د یو لړ لیکچو (رسالو) په خپرولو سره برخه اخلي او په دې لړ کي د پیاوړي استاد پوهاند حبیبي دغه ګرانبیه لیکچه د سیمینار برخه والو او نورو مینه والو ته وړاندي کوي.

په دې لیکچه کي د افغانستان (۱۳۸) تنه پېښلیکوونکي (مؤرخین) ښوول سوي چي زیاتره په دغه نامه چاته هېڅو څرګند نه وو.

د دغو تاریخ لیکونکو پېژندګلوي دا راڅرګندوي چي په پښتنو کي تاریخ لیکنه لږ تر لږه له اوومي اسلامي پېړۍ (۶۱۲) راهیسي پیل سوې او تر موږه رارسېدلې ده. په دغو نومورکو مؤرخینو کي زیاتره داسي کسان راځي چي د پښتو ادب تاریخ او تذکرو په ترڅ کي نور راز راز تاریخي پيښې هم را اخلي.

په دې توګه دغه لیکچه په خپل تاریخي او ادبي ارزښت سره د پښتو ژبي او ادب پر پښتو څېړونکو او زده کوونکو سربېره له هغو ټولو هیوادوالو سره هم مرسته کولای سي چي غواړي په ټولیزه توګه د پښتنو له تېر اته سوه کلن سیاسي، ادبي او فرهنګي تاریخ څخه خبر سي.

استاد حبیبي د دغه لرغوني فرهنګپالي هیواد د یوه پیاوړي پوهاند، لیکوال، څېړونکي او مؤرخ په توګه خپل ټول ژوند همدا راز علمي څېړنو او پلټنو ته وربښلی او څنګه چي (راټولوونکی موندونکی دی) نو د داسي ډېرو پټو خزانو په رابرسېرونه بریالی سوی هم دی، د غوریانو، سوریانو، لودیانو، لویکانو، د سوات او کونړ د امیرانو او داسي نورو افغاني او بیا پښتنو واکمنانو او سوبمنانو برسېرونه او پېژندنه یې د دغو خبرو څلاندي بېلګې او ساري بلل کيږي.

د ژبو او ادبیاتو پوهنځی په داسي ترڅ کي چي د خپل مؤسس او لومړي پیاوړي استاد دغسي نوي څېړني ته په درنه سترګه ګوري او په زړه کي ورته ځای ورکوي د لا زیاتو علمي بریالیتوبونو په هیله ورته د یوه روغمن او پتمن ژوند اوږدوالی غواړي.

پوهنوال دوکتور مجاوراحمد زیار
د ژبو او ادبیاتو پوهنځی رئیس

Digital Library

مؤرخين د لوی مؤرخ له نظره

زما لپاره د خوښۍ ځای دی، چې د لوی استاد پوهاند عبدالحي حبيبي د آثارو د چاپولو او ترتيب په لړ کې د دوی د دغه قيمتي او مهم اثر "نوموړکي مؤرخين" په ترتيب او طبع بريالی کېږم.

د افغانستان او حتی منطقې په ليکوالو او مؤرخينو کې استاد حبيبي يو داسي مؤرخ دی، چې په تاريخ، ادب، اجتماعي، سياسي او ملي تاريخ او ورسره تاريخي جغرافيه کې د ډېرې پراخې مطالعې، ژور علمي نظر او دقيقو علمي او مسلکي ابتکاراتو خاوند دی.

لوی استاد لا د طلوع افغان مدير و (۱۳۰۸ ش څخه وروسته) چې د افغانستان پر اجتماعي تاريخ، لرغوني او معاصر تاريخ يې علمي او مبسوط مقالات کښل او د طلوع افغان پاڼې يې په خپلو مفيدو او مهمو تاريخي او علمي پلټنو ښايسته کولې او افغانان يې د خپل هيواد او خلکو له تاريخي عظمت او برمه خبرول، د تاريخ د ملي قهرمانانو کارنامې او ملي مفاخر يې ورپېژندل.

په دې خصوص کې د لوی استاد ليکنې او مقالات لا هماغه وخت د طلوع په پاڼو کې منحصرې نه سوې پاتې بلکې د خپل علمي، ادبي او مسلکي قوت له پلوه يې د کابل د ادبي انجمن خپرونو ته هم لاره وکړه، په کابل مجله او د کابل په نورو موقوتو خپرونو کې هم خپرې سوې، علمي دنيا او د افغانستان د تاريخ علاقمندان يې د ليکنو له علمي فيضه بهره مند سول.

په ۱۳۱۷ ش کال کې چې لوی استاد د پښتو د نوميالي شاعر خوشحال خان خټک (۱۰۲۲ ـ ۱۱۰۰ هـ ق) کليات د "خوشحال مرغلري" په نامه چاپ او نشر کړل، د دغه مغتنم او ګټور اثر په مقدمه کې يې د تاريخي

پلټنو يو کوچنی څنګ په کتابي شکل خوندي سو، او کله چې يې د عبدالقادر خان خټک (۱۰۶۳ ـ ۱۱۲۴ هـ ق) او لوی احمدشاه بابا (۱۱۶۰ ـ ۱۱۸۶ هـ ق) (طبع ۱۳۱۸ کندهار، طبع ۱۳۱۹ کابل) ديوانونه خپاره کړل، د دغو ديوانونو په مفيدو مقدمو کې يې هم خپلې تاريخي پلټنې او ګروېږنې ځای کړې.

لویْ استاد په ۱۳۲۰ ش کال د پښتانه شعراء لومړی ټوک وکيښ او په ۱۳۲۳ ش کال يې د پښتو د ادبي تاريخ او د پښتنو او افغانستان د ملي او اجتماعي تاريخ ګرانبها ذخيره د دانشمند او سترګور مؤرخ محمد هوتک پټه خزانه نشر کړه، علمي او تحقيقي شروح، تعليقات او مقدمات يې پر وکښل، چې په کتاب کې د راغلو او يادو سوو رجالو، اماکنو، کتبو او تاريخي وقايعو په څېړنه، څرګندونه او پلټنه کې د تاريخ او ادب له محققينو او محصلينو سره پوره مرسته کولای سي. په ۱۳۲۵ ش کال چې د ادبياتو د پوهنځی چاري هم ور وسپارل سوې، نو يې د پښتو د ادبياتو د تاريخ د لومړي ټوک په کښلو او نشرولو د افغانستان د تاريخ د مهمو تاريخي مسايلو او پښتو ژبې د تاريخ او قديمو ادبي او تاريخي رواياتو په باب پلټنې، تاريخي څېړنې د علم او ادب مينانو ته وړاندې کړې.

تر دغه مهاله وروسته لوی استاد د افغانستان د تاريخ او د ژبو (پښتو ـ دري) د ادب په تاريخ دومره کتابونه وکښل، رسالات او مقالات يې نشر کړل، قديم تاريخي او ادبي متون يې چاپ کړل چې تفصيل يې دلې نه ځايېږي، خو د ويلو وړ ده چې د دوی قيمتي او ادبي تاريخي ليکنې نه يوازې په افغانستان کې ارزښتنې او د درناوي وړ دي، بلکې د سيمې په هيوادو او حتی بين المللي علمي محافلو کې هم په درنه سترګه ورته کتل کيږي، دانشمندان او محققين استفاده ترې کوي.

لوی استاد د خپلو دغو علمي او ادبي او تحقيقي هڅو او زيارونو په نتيجه کې تر سلو زيات مستقل تاريخي، ادبي او علمي کتابونه د پنځو سو په شاوخوا کې علمي رسايل او تر دروزرو زياتې تحقيقي او علمي مقالې د علم او ادب دنيا ته وړاندې کړې دي چې د افغانستان، سيمې او نړۍ فرهنګي او ثقافتي تاريخ وياړ په کوي.

Digital Library

د لوی استاد ادبي او تاریخي او نور علمي آثار نه یوازي د ګران هیواد افغانستان د علمي مؤسسو او فرهنګي ادارو له خوا خپاره سوي دي، بلکې د سیمې د هیوادو علمي او فرهنګي مؤسسو او د بین المللي محافلو،علمي مجامعو هم د دوی مفید او ګټور آثار خپاره کړي دي.

د پښتو او دري ژبو د تاریخ ادب په باب د ډیرو مهمو او علمي ګټو مقالو او کتابو تر څنګه لوی استاد د افغانستان د ملي، اجتماعي او سیاسي تاریخ په مختلفو څنګونو ډېر زیات مقالات کښلي او د لرغوني او معاصر افغانستان تاریخي جغرافیا یې په مغتنم ډول د مقالو او رسالو په ترڅ کې هر اړخیزه څېړلې ده، د دغو مقالاتو یوه درنه برخه د آریانا په مجله او نورې یې د هیواد په نورو موقوتو خپرونو او د سیمې د هیوادو په موقوتو علمي نشریو کې خپرې سوي دي. له دغو رسالاتو او مقالاتو سربېره د استاد تاریخي مهم او د یادوني وړ کتب دا دي:

- افغانستان بعد از اسلام
- تاریخ مختصر افغانستان
- افغانستان در عصر ګورګانیان هند
- د افغانستان تاریخچې پېښلیک او نور ...

د نوای معارک، فضایل بلخ، طبقات ناصري او زین الاخبار ګردیزي، شروح، تعلیقات او مقدمات هم دوی کښلي دي.

❁ ❁ ❁

د تاریخي مدارکو، منابعو، وقایعو او اسنادو په څېړنه کې د استاد د څېړني روش او عمومي میتود نهایت پر علمي او تحقیقي شهادتونو او علمي استنتاجونو ولاړ دی.

د معاصري تاریخ لیکنې میتودونه په نقد او ارزیابۍ ولاړ دي او مؤرخ باید خپلو ټولو تر واک لاندي ماخذو، مدارکو، کتبي اسنادو او نورو خورو ورو پاڼو ته د نقد او کره کتني په سترګه وګوري، او کره او کوټه سره بېل کړي. د اوسنۍ زمانې پلټونکی مؤرخ دې ته اړ دی چې د خپلو ټولو

خبرو اسناد وښيي[1] د لوی استاد په ټولو لیکنو کې دغه معاصر او پر علمي معاییر برابر روش لیدل کیږي. لوی استاد د وقایعو په تحلیل کې د ډېر دقیق او مبتکر او منقد نظر خاوند دی، هره پېښه او هره تاریخي او اجتماعي پدیده د اسنادو، ماخذو او علمي مشهودو دلایلو په رڼا کې څېړي.

د تاریخ او ادب په څېړنه، پلټنه او ګروېږنه کې د دوی اتکاء په خطي او معتبرو چاپي متونو، د لرغونپوهنې د تحقیقاتو په نتایجو، ډېرلیکونو، مسکوکاتو او نورو لرغونو کلتوري او تاریخي مواریثو بنا ده.

لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي د افغانستان او پښتنو د تاریخ د بېلابېلو برخو له څېړني سربېره د مختلفو دورو د مؤرخینو پر آثارو کره کتنې او علمي نقادانه تبصرې هم کړي دي، د قدیمو او معاصرو مؤرخینو تېروتني او زیاتي، کمی یې ښوولي او د علمي اسنادو، مدارکو او شواهدو پر بنا یې د مؤرخینو پر لیکنو حاشیې او شرحي کښلي دي او همدارنګه یې د مستشرقینو تېروتني هم د تاریخ په خصوص کې یادي کړي او سمي کړي دي[2]. د استاد د دغه ډول لیکنو ځیني برخي په کتابو کې او ځیني یې هم د مقالاتو په شکل په علمي خپرونو او نشریو کې چاپ سوي، چې د څېړنو دغه برخه د استاد د تاریخي پلټنو او تاریخ نګری یو ښکلی او جلا باب دی.

د افغانستان او پښتنو د مؤرخینو پر آثارو له تبصرو او کره کتنو علاوه استاد د دغو مؤرخینو د کتابو او آثارو د معرفۍ هڅه کړې ده په دې سلسله کې استاد د رهنمای تاریخ افغانستان[3] په کښلو سره د افغانستان او پښتنو د تاریخ ۵۸۰ کتابونه او مؤرخین لنډ لنډ معرفي کړي دي چې دا دی په دې کتابګوټي کې هم د افغانستان او پښتنو ۱۳۸ تنه مؤرخین او د

[1] عبدالحسین زرین کوب، تاریخ در ترازو _ ص ۱۶۰ _ ۱۶۱، طبع تهران، ۱۳۵۴ ش.

[2] وګورئ ! آریانا مجله د ۱۳۵۹ کال ۱ ګڼه ۵۹ _ ۶۶.

[3] د دغه کتاب لومړی ټوک چې د افغانستان د تاریخ ۵۸۵ خطي او چاپي کتابونه پکښې معرفي سوي، په ۱۳۴۸ کال د تاریخ او ادب ټولني له خوا (۱۴۵) مخه چاپ سوی دی.

The Digital Library

هغـوی تـاریخي او یـا تـاریخي ارزښت لرونکـي آثـار معرفـي سـوي او د افغانستان او پښتنو د تاریخ او ادب علاقمندانو ته وړاندي کیږي.

څرنگه چي د دغه کتاب زیاتره مؤرخین د پښتني تاریخ په باب آثار او تالیفات لري او زیاتره هم پښتانه دي نو غوارم چي په پښتنو کي د تاریخ لیکني په سیر او هم د پښتنو د تاریخ په منابعو څو لنډ ټکي څرگند کړم :

په پښتنو کي د تاریخ لیکني سیر :

کله چي موږ د خپلي ژبي په کتبي آثارو کي تاریخي آثار پلټو نو له دوه ډوله تاریخي آثارو سره مخامخ کیږي : (۱) تاریخي کتابونه. (۲) تذکري.

پښتـو او پښتانه د تـاریخ اهمیـت او د خپـل ملت او وطـن او خلکـو د کارنامو مېړانه او نورو اجتماعي، سیاسي او ملي حوادثو او وقـایعو ضبط ته متوجه وو. نو په دې برخه کي یې هم د تاریخ مستقل کتابونه او هم د ادبي آثارو تذکرې کښلي چي په ضمني توگه ځینو تاریخي وقایعو ته پکښي نغوتي سوي او یا هم ځیني وقایع پکښي څېړل سوي دي. د تذکره نگاری له پلوه زموږ ژبه او ادب کابو اته سوه کلنه سابقه لري او زموږ لومړنی لاس ته راغلي تذکره د سلېمان ماکو تذکره ده چي په ۶۱۲ هـ ق کال په ارغسان کي کښل سوې، وریسې موږ د پښتو د ادبي تاریخ داسي منظمه تذکره نه ده تر لاسه کړې او یوازې د محمد هوتک پټه خزانه زموږ بله منظمه تذکره ده چي په ۱۱۴۲ هـ ق کال په کندهار کي کښل سوې ده. دغه دواړي تذکرې خاص ابتکارونه لري، څرگندوني یې د پښتو او افغانستان د تاریخ په څېړنه کي د لومړي لاس موادو حیثیت لري. دغه رنگه مستقل تاریخي کتابونه چي په ضمني توگه ادبي مآثر هم پکښي غونډ دي د ۶۵۰ په حدودو کي زموږ په ژبه کي کښل سوي دي. له دې جملې څخه تاریخ سوري، اعلام اللوذعی فی اخبار اللوذي، لرغوني پښتانه، غرغښت نامه او نور یادولای سو، چي سترگور او دانشمند مؤرخ او تذکره نگار محمد هوتک یا لیدلي او یا یې نومونه تر موږ پوري را رسولي دي او د پټي خزانې په کښلو کي یې بالواسطه یا بلا واسطه د ماخذ په توگه تري استفاده کړې ده[1].

(۱) محمد هوتک پټه خزانه : ۱۵،۱۶ ، ۱۸ ، ۱۴ ، ۳۴ ، ۳۵ ، ۴۰ ، ۴۴ مخونه او نور څلورم چاپ، ۱۳۵۷ ش کابل د ادب پوهنځی.

همدارنگـه د خواجـو ملیـزي تـاریخ افاغنـه (۱۰۳۱ _ ۱۰۳۳ هـ ق تالیف)، تاریخ مرصع، تواریخ حافظ رحمت خاني، هغه مهم تاریخي آثار دي چي د پښتنو د تاریخ د هر تیاره څنگونه روښانوي. زه دلې د ټولو تاریخي کتابو نومونه ځکه نه اخلم چي لوی استاد پوهاند حبیبي په دې رساله کي مفصل معرفي کړي دي، خو څه چي زه یې پر خبرو کولو آرزو لرم دا دي چي د پښتو ژبه د لیکل سوو تاریخي آثارو په جمله کي سعادتنامهٔ افغاني هغه مهم تاریخي اثر دی چي تر یوه دوو وروستیو کالو دمخه یې چا نوم نه و اخیستی، او دا دی د خان روشن خان د یادونو له مخي د لوی استاد په دې اثر کي هم معرفي کیږي. دغه تاریخي اثر د خپل تاریخي ارزښت تر څنگه ادبي ارزښت هم لري، او د کتاب نثر زموږ د نثر د تاریخ په څېړنه کي نه سي هېرېدای. د سعادتنامهٔ افغاني نثر دا دی :

"پښتـور تـه راغلـي پښتانـه تـول درې کـوره دي او بعضـي قبیلې د دې دریـو قبیلـو سـره یـو ځـای اوسـي چـي دوی ورتـه حصـه لکه د ورور ورکړې ده خو دغه همسایه دي او دا لویې کورنۍ درې دا دي : اول خیښـي، دویـم غـوري، دریـم کرلاڼـي اوس بـه د هـر یـو کـور تفصـیل بیانیږي چي دا دي :

تفصیل د خیښي دا دي یوسفزي گگیاني او ترکاني چي دا وخت په لغمان کي میشته دي. دا د خیښي اولاد دي، مامدزي (محمدزي) چي په اشنغر کي اوسي، دا د زمند اولاد دي، د خیښي تره وُ مگر خیښي لکه د ورور ځان سره نیولي دي ..."[1].

د خان روشن رایه دا ده چي دغه تاریخ تر تواریخ حافظ رحمت خاني (۱۱۸۱ هـ ق تـالیف) دمخه لیکل سوی دی، له دې خبري څخه ښکاري چي دغه تاریخ به د دولسمي پېړۍ په اوایلو کي کښل سوی وي نو یې نثر د خپل ادبي قوت او سلاست له پلوه د دولسمي پېړۍ له ښو نثرونو څخه گڼل کېدای سي او موږ به یې د خپل نثر په تاریخ کي ستایو.

(۱) پښتو مجله د ۱۹۷۹ ع کال ۱۱ گڼه ص ۵۰.

The Digital Library

زموږ په ژبه کي خو د تاریخ کښل کابو اته سوه کلنه سابقه لري مگر مولوی محمداسمعیل هزاروي د قاعدهٔ افغاني [1] په مقدمه کي کښلي دي :

"پوشیده نماند که در کتب تواریخ افغانی چنان یافته شده است که اول کسیکه در افغانی تصنیف شروع نموده خواجه محمد نام شخصی بود که در اوایل سال نهصد هجری کتابی مشتمل بر آمدن قوم افغان به سمت پشاور و واقعاتی که در مبادی بایشان روی داده تصنیف کرد" [2].

دا چي موږ د نوموړي مولوی د یادښت له مخي یو بل قدیم مؤرخ او د پښتو لیکوال پیژنو سمه او ښه خبره ده، مگر دا چي کښلي یې دي چي دی لومړنی مصنف دی دا خبره سمه نه ده دمخه یوازي د تاریخ په خصوص کي د شیخ ملي دوتر [3] او تر دغه دوتر دمخه تاریخ سوري، تذکره الاولیا، لرغوني پښتانه او نور کتابونه لرو چي یا په خپله کتابونه او یا یې هم مواد او روایات تر موږ پوري رارسېدلي دي.

د پښتنو د تاریخ منابع :

د پښتنو د تاریخ په کښلو کي له کتبي تاریخي او دې ته ورته آثارو سربېره ډېرلیکونه د لرغون پوهني له کشفیاتو څخه د تر لاسه سوو مدارکو او متفرقو اسنادو څخه د لومړي لاس موادو په توگه کار اخیستل کېدای سي.

همدارنگه زموږ ادبي آثار د تاریخ د کښني لپاره له مهمو موادو څخه گڼل کیږي، که څه هم دغه آثار اساساً د نورو هدفونو او غرضونو لپاره ایجاد سوي، ویل سوي او یا کښل سوي او د تاریخي وقایعو د ضبط منظور نه دي رامنځته سوي، خو د خپلو مقاصدو د شرح په ترڅ کي یې ځای ځای داسي

---

[1] قاعدهٔ افغانی په ۱۸۶۷ ع کال ۹۶ مخه د هنري بکټ انگرېز په غوښتنه د پېښور د جیل په مطبعه کي چاپ سوې ده.

[2] قاعدهٔ افغانی ص ۲.

[3] پوهاند عبدالحی حبیبي، د پښتو ادبیاتو تاریخ ـ ج ۲، ص ۲۳۵، ۱۳۴۲ کال چاپ، پښتو ټولنه.

یادوني او تاریخي مطالب تر لاسه کیږي چي زموږ د تاریخ په لیکلو کي تري استفاده کولای سو [1] زموږ لیکنی او گړنی ادب دواړه له دې پلوه غني دی.

(۱) گړني ادب :

زموږ په گړني ادب کي لنډۍ، سروکي، غاړي، سنځرخیلي ناري [2] د هوتکو ناري [3] داسي سندري دي چي د پښتو د ملي، اجتماعي او کلتوري تاریخ په لیکلو کي له پامه نه سي غورځېدی او د لومړي لاس مهمو آثارو په توگه تري استفاده کېدای سي.

(۲) ولسي سندري :

له دغو سندرو څخه چاربیتې، بدلي او کسرونه داسي مواد دي چي هره سندره د یوې مهمي تاریخي واقعې په شننه او ښرگندونه کي له مؤرخینو سره تر هره بله ماخذه زیاته مرسته کوي، خو له بده مرغه چي زموږ د دغو اولسي سندرو قدیمي بولگې د زماني سړو سېلیو ورسره وړي دي او یوه قدیمه سندره یې هغه د بابا هوتک (۶۶۱ ـ ۷۴۰ هـ ق) ویلې او د پټې خزانې پاڼو تر موږ پوري رسولې ده [4] دغه سندره د پردو تاړاکگرو په وړاندي زموږ د مېړني اولس قهرمانانه مبارزې ښرگندوي، تر دې بدلي وروسته د ډېري مودې دغه ډول سندري له موږ سره نسته، خو هغه چاربیتي او بدلي چي دارمستتر (۱۸۴۹ ـ ۱۸۹۴ ع) د پښتونخوا د شعر هارو بهار [5] د کوټې سید محمدعمر په گلشن اشعار افغانی [6] مرحوم نصر په تاریخي چاربیتې [7] او ښېرندوی خدمتگار په تور بریښ [8] کي ضبط کړي دي داسي

---

[1] پوهاند عبدالحی حبیبي تاریخ نویسي در افغانستان، آریانا ۲۶ کال، ۴ گڼه ص ۳ ـ ۱۳۴۷ کال.

[2] پروفیسور ولي محمد سیال کاکړ، پښتو او پښتانه په سهیلي پښتونخوا کي، ص ۳۲۴ ـ ۳۳۴ د ۱۹۷۶ ع کال د کوټې چاپ.

[3] حبیب الله رفیع، د خلکو سندري ۱۳۳ ـ ۱۵۹ مخونه د تاریخ او ادب ټولنه ـ ۱۳۴۹ ش کال چاپ.

[4] پټه خزانه ص ۵ ـ ۶.

[5] دارمستتر، د پښتونخوا د شعر هار و بهار ۱ ـ ۷۴ مخونه ۱۳۵۶ ش کال چاپ ـ پښتو ټولنه.

[6] سید محمدعمر ـ گلشن اشعار افغانی (خطی) ص ۵۲، ۷۶ او نور ...

[7] تاریخي چاربیتې ۳ ـ ۱۵ مخونه ـ ۱۹۵۳ ع کال ـ پېښور.

[8] تور بریښ ۷۳ ـ ۱۴۵ مخونه ۱۳۴۷ ش کال.

e Digital Library

بدلي او چاربيتې دي چي د انگرېزي امپرياليستي لښکرو د تار او تاړاک او يرغل په مهال کي د زړه ورو پښتنو قهرمانانه مبارزې، سربښندني او مېړاني پکښي ستايل سوي. د دښمـن تيري، د خاينينو کرغېړن اعمال او د دوی ماتي او رسوايي يې پکښي بيان کړي دي او په رښتيا چي هره سندره يې د ملي تاريخ يو باب دی.

دغه رنگه په کسرونو کي د انگرېزي تاړاک له غندني[1] پرته د مروتو او ختهکو مروتو او وريرو مروتو او يوسفزو د شخړو او لانجو په باب مواد سته[2] چي زموږ د اولس د مختلفو قبيلو د تاريخ په کښلو او من حيث مجموع د پښتو د تاريخ په کښنه کي د مؤرخينو په ښه ورځي.

له گړني ادب، اولسي سندرو او کسرونو سربېره چي زياتره يې شفاهي شکل لري زموږ ليکنى ادب او ادبي آثار هم د تاريخي موادو د درلودلو له پلوه غنى دى. زموږ د مختلفو شاعرانو په دېوانونو، حماسي منظومو، د روحاني اشخاصو په مناقبو او جنگنامو کي د پښتنو د سياسي، اجتماعي او ملي ژوند د تاريخ په باب بېلابيلو دورو تاريخي مواد تر لاسه کېدلای سي، زه دلې پر دغو ټولو ادبي آثارو بحث نه کوم ځکه پر دغو موضوعاتو جلا جلا پنډ پنډ کتابونه ليکل کېدای سي خو څه چي زه دلې کاږم صرف يو اجمال دی.

(۱) د شعراوو په دېوانونو او نورو منظومو آثارو کي :

د پښتنو شعراوو له ډلي څخه د خوشحال خان آثار د تاريخي موادو د خوندي کولو له پلوه ډېر غني دي، د خوشحال په کلياتو کي د ده ځيني غزلي، قصايد[3] او ټوټې تاريخي وقايع شرح کوي، دغه ډول د ده په

[1] د مروتو کسرونو يوه ناچاپه خطي مجموعه د پېښور په پښتو اکيډيمي کي په ۳۶۲ نومره قيد ده په دغه مجموعه کي ځيني داسي کسرونه هم سته چي له انگرېزانو سره د پښتنو د جگړو بيان کوي، لکه په ۲۱ مخ کي د (کنډي) کسر چي د غازي محمداکبر خان د توري او مېړاني په ستاينه کي ويل سوی دی.

[2] د مروتو کسرونه ۱ _ ۱۲۱ مخونه ۱۹۵۹ کال چاپ پېښور.

[3] د خوشحال مرغلري ۵۶۲ _ ۷۰۸ مخونه د ۱۳۱۷ ش کال چاپ کندهار، د دغي برخي په اکثرو منظوماتو کي تاريخي وقايع رانغښتل سوي دي.

مثنوياتو کي سواتنامه[1] او فراقنامه[2] دغه خصايص لري.

فراقنامه خوشحال خان د خپل حبس[3] په زمانه کي کښلې ده په دې کتاب کي که خوشحال خان له يوې خوا د خپل وطن، دوستانو او کورنۍ څخه د ليريوالي له امله دردوونکي ناري کړي دي له بلې خوا په همدغه کتاب کي ځيني داسي انتقادي ټوټې او تاريخي منظومات گورو چي د ده نقادانه نظر او د ده د کلام عمومي روح ترې ښرگنديږي او هم د ځينو مهمو تاريخي پيښو ښرگندونه کوي، د نمونې لپاره د فراقنامې لاندي بيتونه د کتلو وړ دي :

په خوله شرع شرع نومړي   دی د شرع حکم کوم وړي
پلار ترلی پادشاهي کا   سل ناحقه گمراهعي کا
دا د خوارو زر آهونه   لور په لور اوجاړ ملکونه
سکه ورونه يې قتل کړي   ده يې مال گنجونه وړي
د سکه وراره عورته   په ستم کړه فضيحته

[1] سواتنامه د خان يوه مثنوي ده چي سوات ته له خپل اووه مياشتني سفر څخه وروسته يې کښلې ده، ټول بيتونه يې ۳۹۱ دي، د تاريخ د يوه ښنگ په کښلو کي له پامه نه سي غورځېدای. دغه مثنوی په ۱۳۵۸ ش کال د لوی استاد پوهاند حبيبي له ۷۷ مخيزو ښرگندونو سره د افغانستان د علومو اکاډمی خپره کړه (متن ۷۰ مخ).

[2] د فراقنامې يوازينی خطي نسخه د پېښور په موزيم کي خوندي ده، ۳۵ پاڼې لري. د دغي نسخې نقل په ۱۳۵۶ کي د محترم همېش خليل په وسيله زلمي هيوادمل ته رسېدلی دی چي د ده له سمونو، لمنو او سريزي سره يو ځای چاپ ته چمتو دی.

[3] د خوشحال خان د حبس او نظربندۍ زمانه (۱۰۷۴_ ۱۰۷۹ ق) ده، د خوشحال خان کليات د استاد کامل مقدمه (ص _ س) مخونه، ۱۹۶۰ کال چاپ، خوشحال خان يو ځای د خپل بند کال داسي ښوولی دی.

زر څلور اويا هجرت ؤ
هغه کال چي بندېوان سوم

(قطعات، ارمغان ص ۶۸۶)

e Digital Library

زر ناسازي زر فساده   دم وهـ لـه عدلـه داده
پـه دا هـومره قباحت   دم وهـ لـه شريعت
پـه دا هـومره رسوايي   دم وهـ لـه پارسايي
الحـذر لـه دي زمـان   الامان له دي سلطان [۱]

له دي سربېره د خوشحال خان د کورنۍ او زامنو په دېوانو کي د شعر په ژبه موږ داسي نغوتي او يادوني وينو چي د تاريخي وقايعو د ضبط له پلوه ارزښتمني يادوني دي، لکه د هجري (۱۰۴۴ ـ ۱۱۰۶ هـ ق) ځيني منظومات[۲] او يا هم د سکندر خان ختک هغه منظوم ليک چي يې اشرف خان هجري ته ليکلی دی[۳] د خپل ادبي قوت تر څنګه ځيني زموږ په تاريخ کي ارزښتمن او مهم نکات هم رانغاړي.

دغه ډول د مصري خان ګګياني (۱۱۵۰ ق حدود) په دېوان کي چي کومه قصيده د پردو سپاهيانو د وحشيانه اعمالو او د پښتني کليو د چورولو او لوټولو په باب ضبط ده[۴] زموږ د دولسمي پېړۍ د تاريخ په کښنه کي نه سي هېرېدای او يا هم هغه خبري چي د انګرېزي استعمار د مظالمو او چال چلند په باب قاسم علي خان اپريدي (۱۲۳۲ هـ ق حدود) په خپل کليات[۵] کي کړي، د ديارلسمي پېړۍ د پښتني مبارزو ځيني تياره ګوټونه روښانوي.

---

[۱] فراقنامه خطي.

[۲] د هجري دېوان د محترم همېش خليل ترتيب او سريزه، ۱۷۱ ـ ۱۷۹ او نور مخونه ۱۹۵۸ ع کال ـ پېښور.

[۳] دغه ليک او د سکندر ختک نوري غزلي او قصيدې چي تاريخي او ادبي ارزښت لري د ده د دېوان په هغه مخطوطه کي ضبط دي چي په ۱۱۷۶ هـ ق کال د محمدي صاحبزاده لپاره کښل سوې ده. دغه خطي نسخه د مصري خان ګګياني د دېوان سره په يوه جلد کي ده او د پېښور د پښتو اکيډمۍ په کتابخانه کي په (۵) نومره خوندي دي.د سکندر دغه ډول منظومات د ده په چاپي دېوان کي نسته.

[۴] وګورئ ! د مصري خان ګګياني دېوان ۳۱۹ ـ ۳۲۱ مخونه د ۱۹۵۹ ع کال د پېښور چاپ.

[۵] د دغه کليات يوه خطي نسخه د پېښور په اسلاميه کالج کي خوندي ده او په دغه کتابخانه کي يوه نومره (۱۹۱۰) تاکل سوې ده او د دېوان يوه نسخه يې په برتيش موزيم کي هم سته. (د ميکنزي فهرست ص ۸۶)

(۲) مناقب :

د صوفيانو، روحانيونو، د طريقت د مشرانو او نورو صاحب حال خلکو په مناقبو کي د شرقي ژبو ادبيات ډېر کتابونه لري، پښتانه او پښتو ادب هم په دې خصوص کي تر نورو ژبو پاته نه دي، بلکي دغه ډول مناقب ډېر پکښني ليکل سوي چي د ټولو په تفصيل سره راوړل به دلې بې ځايه وي، مګر هغه مناقب چي تاريخي مواد لري او د تاريخ په مطالعه او کتنه کي د هيرولو نه دي، دلې د ياد مناسبت لري، خو د ليکني د لنډ تنګ چوکاټ له مخي زه دغه ډول مناقب هم ټول نه سوای معرفي کولای او صرف د شيخ رحمکار (۱۰۶۳ ق مر)، کاکا صاحب، فقير جميل بېګ، ميا عمر څمکني (۱۰۸۴ ـ ۱۱۹۰ هـ ق) او اخون الياس مناقب يادوم.

(۱) مناقب رحمکار[۱] :

چي شمس الدين بن شيخ زبير (قياس الدين) بن ضياء الدين منظوم کښلي[۲] په دې مناقبو کي ځيني داسي ټکي ښکاري چي د تاريخ لپاره د ارزښتمنو موادو حيثيت لري د شيخ رحمکار د وفات په باب يې ويلي دي :

تـر اتيـا کـالو قريـب   ده حيـات درلـود مجيـب
سـن د هجـر د حضـرت   پـوره و هغـه سـاعت
پـوره دري شـپېته زر کالـه   سـن د هجـر و کمالـه
چي خطيب پاس په منبر شه   پـه خطبـه لوستو زړه ور شـه
دا خوشـحال ختـک ويلـي   پـه کتـاب کـي مـا ليـدي
چـي پـه حـين کـي د وفـات   د شيخ جـي ولـي نېـک ذات
زه حاضـر ومـه پـه ځـان   هغـه ځـای هغـه مکـان

---

[۱] د شمس الدين د مناقب شيخ رحمکار خطي نسخه ۲۳۰ مخه په ۱۸۳ نومره د پېښور په پښتو اکاډيمي کي خوندي ده. د شيخ رحمکار مناقب په پارسي ژبه جميل بېګ هم ليکلي دي (تاريخ مرصع ص ۵۶۲) چي يوه مخطوطه يې په ملي آرشيف کي هم سته. په پښتو ژبه تر شمس الدين وروسته غلام احمد نومي هم نظم کړي دي. (فرهنګ ص ۳۵۴)

[۲] شمس الدين له مناقبو سربېره نور مؤلفات هم لري ښاغلي رفيع په دوهم ټوک ادبي ستوري کي معرفي کړي دي.

he Digital Library

چـي جمـع مـه ادا کړلـه　　جنـازه مـي را اخيسـتله
ترېنـه لاندي زه پـه ځـان سـوم　　و مطلـب تـه شـتابان سـوم
زمـا نيـت د خـاطر دا و　　چـي وماوتـه پيـدا و
چـي زيـارت بـه د صـاحب　　پـه ميـره کـرم عجايـب
چـي زمـا د منـدن پولـه　　شـيخ صـاحب وي زړه قبولـه
چـي دا اوس د ده روضـه ده　　پـه ښـه شـان عجيبـه ده
چي رسيد سوو تر دې ځايه　　واړه سـتړي شـوو نېکرايـه
جنـازه مـو کـوزه کړلـه　　مـوږه خپلـه دمـه کړلـه
جنـازه نـه خوزېدلـه　　مـوږه ډېـره خـواري کړلـه

دغه ډول همدغه شمس الدين مناقب جميل بېگ(۱) هم نظم کړی دی د دې مناقبو ډيري پيښي که څه هم په رواياتو مبنی دي خو په تاريخ کي نه سي هېرېدای، په دغو مناقبو کي د کندهاري غلجي خان د آسونو د تجارت قصه او بيا له جميل بېگ سره د ده ليدنه او بيا بيرته کندهار ته د هغه تګ او ... تولي داسي خبري دي چي د محقق لپاره د غور وړ مواد ګڼل کيږي. دادين (۲) چي د ميا عمر څمکني مناقب يې د ۱۲۱۹ ق د ذوالحجې په آخر کي نظم کړي(۳) د ميا عمر د خوارقو او عاداتو د ښوولو تر څنګه ځيني تاريخي وقايع هم ضبطوي لکه : د احمدشاه بابا د مستونګ د فتحي بيان چي څو بيته يې دا دي :

---

(۱) د شمس الدين د مناقب جميل بېګ يوه خطي نسخه له پوهاند دکتور جاويد سره او بله يې د پېښور په پښتو اکيډمي کي سته، ښاغلي رفيع يې متن چاپ ته اماده کړی دی. جميل بېګ د خوشحال خان سکنی ورور و، قبر يې په تنګاړو کي دی، او زيارت يې په فقير بابا مشهور دی، د زيارت پر لوحه يې کښلي سوي دي : "روضهٔ مبارک حضرت فقير صاحب جمال خان برادر حقيقتی خوشحال خان ختک المعروف به فقير صاحب چشتی بتاريخ يازدهم جمادی الاول ۱۱۱۶ ه ... واصل الی الحق شد".

(۲) پښتانه شعراء ج ۴، ص ۹۸۴ _ ۹۸۶، ۱۳۵۷ ش کال، پښتو ټولنه.

(۳) د دغه مناقب يوه خطي نسخه له ښاغلي سليمي کندهاري سره سته. (وګورئ ! زېری د ۱۳۵۵ کال ۴۲ ګڼه د ۱۳۵۶ کال ۷ ګڼه.)

چـي يـو ځلـي احمدشـاه دردران مـي　　لـه هراتـه تلـو پـه لـوري د اېـران مـي
ولي پېښ ورته په لار د مستونګ ځړند شه　　دی پښتـون څـره غيـرت و ورتـه ړنـد شـه
هک حيران شه احمدشاه په دغه کار کي　　بـل پرې ژمی راغـی ډېر پـه دنـد و کـار کي
بـاري دی عجـب پښتـو غيـرت نيـولی　　نـه پرېـږدم زه دا عـالم داسـي نـاولی

شريف نومی شاعر(۱) چي د اخون الياس (۱۰۸۶ ق مړ) کوم مناقب (۱۳۲۱ ق تاليف) نظم کړي او يوه قديمه نسخه يې ما ليدلې، د دې مناقبو ځای ځای په تاريخي پيښو څرګندوني موندلي کيږي.

(۳) شاهنامې او جنګنامې او نور دې ته ورته منظوم آثار :

د موجود معلوماتو له مخې د پښتو ادب په تاريخ کي د شاهنامو کښل په دولسم قرن کي پيل سوي دي. حافظ مرغزي (۱۱۲۶ ه ق زوکړی) په ۱۱۷۶ ه ق کال احمدشاهي شاهنامه نظم کړه(۲) تر دې وروسته تر څورلسم قرنه ما د پښتو په ادبي تاريخ کي د شاهنامې څرک نه دی ايستلی خو په څورلسم قرن کي احمدګل (۱۲۵۸ _ ۱۳۱۰ ه ق) د امير عبدالرحمن (۱۳۱۹ ه ق مړ) شاهنامه نظم کړېده(۳).

په جنګنامو کي هغه جنګنامې چي د پښتني تاريخ په کښلو کي د موادو په توګه ښه ارزښت لري هغه دي چي د پښتنو د ملي مبارزو په دوران کي پښتو ناظمانو او شاعرانو جوړي کړي دي، ددغه ډول جنګنامو په لړ کي دوې متاخري جنګنامې يوه د صاحب الدين ختک جنګنامه چي د "فېروز نامه"(۴) په نامه يادېږي او بله هم د دلاور طالب عمرخېل د

---

(۱) تېر هېر شاعران ص ۲۵۲ د ۱۹۶۳ ع کال د پېښور چاپ.

(۲) احمدشاهي شاهنامه لومړی ځل په ۱۹۶۵ کال ۲۰۶ مخه د پېښور پښتو اکاډيمی خپره کړه، فاضل استاد پوهاند رشاد پر دغي شاهنامې د پېښور تر چاپ دمخه مبسوط کار کړی و، او زيات شروح او تعليقات يې پر کښلي وو.

(۳) فرهنګ زبان و ادبيات پښتو ج ۱ ص ۲۲.

(۴) د فېروز نامې خطي نسخه په ۱۱۳۵ ق کال کښل سوې اصل يې ۱۵۸ مخه او نقل يې ۱۷۲ مخه دی نقل يې د پښتو نوميالي ليکوال همېش خليل د چاپ لپاه تيار کړی دی.

he Digital Library

"مغل خان جنگنامه" د تاریخي موادو په لحاظ غني دي. (د دې جنگنامې یوه نسخه د علومو اکاډیمۍ په کتابخانه کي سته). ښاغلي رفیع کار پر کړی دی.

د صاحب الدین ختک فېروزنامه د کتاب د محتویاتو له مخي د سکهانو سره د هغه مهال د ختکو د یوه مشر فېروز خان ختک[1] د جنگ حالات بیانوي، د فېروز نامې څو بیتونه دا دي :

رنجیتـــی نـــومی کـــافر دی   مخ یې ورک شه لوی مضر دی
پـه یــوې سـترگي معـذور دی   یـا دجـال دی یـا یـې زوی دی؟
دی یــو سـکهـ و پـه مـاجي کـي   لکـه مـات لـوښی پچـی کـي
نــه یـې قـدر نـه یـې قـار و   د دریــو کلیــو یــو ســردار و
زور یـې کـم حکـم یـې سسـت و   هـر دښمـن پـرې بـالا درسـت و
چـي بادشـاه بـه لاړ لاهـور تـه   دی بـه وتـیښ و بـل لـور تـه
تـوان بـه یـې نـه لیـده د جـنگ   نور به یې خان کړو نو په څنگ

دغه راز دلاور طالب د مغل خان په منظومه جنگنامه کي له انگرېزانو سره د دغه پښتانه د مبارزو او جنگونو قصې او واقعې بیان کړي دي.

د سپیني هغه حماسیات چي د ۱۳۵۵ ق په حدودو کي پر هرات باندي د پردي تاړاک په زمانه کي ویل سوي ټول هغه نظمیات دي چي د خپل ادبي ارزښت تر څنگه ملي او تاریخي ښېگڼي هم لري او د دغه پردي تاړاک او د هرات د مېړنیو خلکو د دفاع او مېړاني په خصوص کي ښې خبري څني تر لاسه کیږي[2].

سربېره پر دې د پښتو ادبیات ځیني نور منظوم کتابونه هم لري چي د ځینو نورو مقاصدو لپاره کښل سوي خو د مطالبو په ترځ کښې ځیني مهم مطالب هم راغلي وي چي د یوې دورې د تاریخي وقایعو په څرگندونه کي د

[1] د دېوان امرناته په ظفرنامهٔ رنجیت سنگهـ طبع لاهور کي مي د فېروز خان نوم ونه موند (فهارس و ـ ز مخونه) خو پر هار و بهار باندي د دارمستتر د نوټونو په ۱۱ ـ ۱۲ مخونو کي د ده او د ده د زامنو نومونه یاد سوي دي.
[2] پښتني مېړمني ص ۷۴ ـ ۸۰ . ۱۳۲۳ ، پښتو ټولنه.

مؤرخینو او تاریخ د پلټونکو په درد خوري له دغه ډول آثارو څخه یو هم د ملا مست (۹۵۰ هـ ق حدود) سلوک الغزاه دی چي د ځینو پیښو او جنگونو په باب ښه معلومات لري.

لوړ ما څو کتابونه او ادبي منظومې، صرف د مثال په نیامت یادي کړې که نه وي زموږ د فولکلوري،*اولسي او کتبي ادب ډیري پاڼي ځیني مهمي تاریخي څرگندوني لري چي مؤرخ یې د تاریخي لیکلو پر وخت نه سوای هېرولای.

<u>روایات او شفاهي څرگندوني :</u>

د پښتنو مختلف قبایل، عشایر او نوري وړې څانگې د خپلو شجرو په مورد کي ځیني شفاهي او روایي معلومات لري چي زیاتره یې په انسابو او تاریخونو کي هغسي نه وي نو په همدې اساس زموږ د مختلفو قبایلو دغه روایي شجرې او د دوی د لېږد او کوزنیو په باب د دوی خپل مغلومات هم بې ځایه او بې گټې نه دي همدارنگه زموږ خلک د ځینو مهمو تاریخي وقایعو په باب هم روایتي مالومات لري، چي که راټول او اضافات ترې حذف سي نو زموږ د ملي تاریخ په کښلو کي د یوې منبع په توگه له پامه نه سوای غورځېدای.

❁ ❁ ❁

د لوی استاد پوهاند عبدالحي حبیبي دغه رساله به وکړای سي چي د مؤرخینو، د افغانستان او پښتنو د تاریخ څېړونکو ته د ماخذ او څېړني په خصوص کي گټوري لارښووني وکړي، ډېر تاریخي کتب به وروښیې. دغه رساله له تاریخ څېړونکو او پلټونکو سره له مرستي سربېره د پښتو د ادبي تحقیقاتو له پلوه هم ارزښت لري ځکه ځیني داسي پښتو تاریخ کتب یې هم را معرفي کړي چي تر اوسه بل ځای یې چا یادونه نه وه کړې.

لوی استاد ته دي خدای ﷻ صحت او عمر ورکي، چي خپلي نورې مفیدي تاریخي، جغرافي، ادبي او علمي څېړني پر پښتنو ولوروي او پښتانه یې د علم له فیضه مستفید سي.

he Digital Library

﴿ ۱ ﴾

سلېمان ماکو د (تذکرة الاولیاء) لیکوال

سلېمان د بارک خان زوی په قوم ماکو صابزی د (۶۰۰ هـ) په شاوخوا کي د کندهار په ارغسان کي اوسېدی. دا مؤرخ، سیاح او گرزند سړی و، دی په خپله لیکي چي په (۶۱۲ هـ) تللی وم او د پښتونخوا په غرو او رغو گرځېدم او د لویانو مراقد مي لیدل او پلټل.

داسي ښکاري چي سلېمان تر دغه مفید او گټور سفر وروسته موفق سو چي د پښتنو د نومورو بزرگانو په احوال کي یوه (تذکره الاولیاء) ولیکي او د دوی وېناوي او اشعار په دې کتاب کي خوندي کړي.[1] دا کتاب متاسفانه اوس ورک دی خو لومړي اته مخه یې ما تر ۱۳۱۹ ش کال دمخه خوشبختانه په کندهار کي وموندل او د هغو مخو عکسونه مې د کابل په سالنامه او په پښتانه شعراء لومړي ټوک کي خپاره کړل.

سلېمان ماکو د پښتنو پخوانی مؤرخ دی او د ده د نفیس او گټور کتاب دغه څو صفحې د پښتو د ژبې او رجالو د تاریخ لپاره داسي مفیدي ثابتي سوي چي د ادب او پښتو تاریخ به یې تر ابده مرهون وي.

سلېمان ماکو پوه سړی او سترگه ور مؤرخ ښکاري، دی د هر پښتانه لوی او نومیالي سړي سوانح او احوال لیکي، وروسته یې د شعر او وینا نمونې هم راوړي، نو د ده کتاب یوازې د ولیانو تذکره نه، بلکي د پښتو د شعر او ادب یو ډېره گرانبها مرقع هم ده، وگورئ ذکر سوې سالنامه او د پښتانه شعراء لومړی ټوک.

[1] د سلېمان ماکو د تذکرې مقدمه.

﴿ ۲ ﴾

شېخ کټه د (لرغوني پښتانه) لیکوال

دا مدقق مؤرخ او د پښتنو د یوې خوار لویې علمي او ادبي کورنۍ رکن د شېخ یوسف زوی او د شېخ متي لمسی دی. شېخ متی هغه لوی او معروف د پښتنو نوموړی دی چي په کلات بابا مشهور او اوس یې هم مرقد د کلات پر غونډۍ دی. شېخ متی عارف او عالم او ادیب سړی او په پښتو کي یې په علم او عرفان ډېر شهرت درلود.[1] شېخ متی خپلې کورنۍ ته علم، تقوی، عرفان په ارث پرېښوول او یو کتاب یې هم ولیکه، چي (د خدای مینه) یې نوم و. د ده ځیني اشعار هم پښتنو مؤرخینو رانقل کړي دي.[2]

په دې کورنۍ کي وروسته ډېر علماء، مؤرخین، عرفاء پیدا سول چي موږ یې د روښان او درویزه او خوشحال خان د علمي کورنۍ په څېر د پښتنو یوه بله لوړه علمي او عرفاني کورنۍ گڼلای سو. په دې مقاله کي زما وظیفه ده چي د دوی تاریخي کتب او خدمتونه ولیکم، نوري علمي او ادبي پلټنې یې بېل لیکونه غواړي. شېخ یوسف د شېخ متي تر مړیني وروسته د ده پر علمي او ادبي او روحاني مسند کښېناست او اوه زامن یې درلودل چي له دوی څخه شېخ کټه ډېر مشهور سو او د ده مور بي بي مراد بخته نومېده، چي په خته زمنده وه[3] دې نوموړي عالم د پښتنو د رجالو او مشاهیرو په تاریخ کي یو نفیس کتاب وکیښ چي نوم یې و (لرغوني پښتانه) دا کتاب پښتو ؤ، او د پټې خزانې مؤلف محمد هوتک ډېر ځله دا کتاب یادوي او داسي ښکاري چي د دغه مؤرخ یگانه ماخذ هم دغه و. د شېخ کټه د ژوندانه وخت نه دی ښکاره، خو د پټې خزانې په روایت د ده نیکه شېخ متی په (۶۸۸ هـ) وفات سوی دی، څکه چي د مؤرخینو په اتفاق یوه پېړۍ درو پښتو

[1] مخزن افغاني قلمي ص ۲۵۴.
[2] پټه خزانه د کابل طبع.
[3] قلمي مخزن افغاني ص ۳۰۵.

he Digital Library

لپاره مقرره ده نو باید د شېخ کته د ژوندانه وخت هم د (۷۵۰ هـ) شاوخوا وګڼل سي. د شېخ کته اولاد که څه هم د پښنور په شمالي لتو کي پراته وو، مګر داسي ښکاري چي په خپله دی سیاح سړی و، ځکه محمد هوتک په ښکاره لیکي چي شېخ کته د محمد بن علی البستي کتاب تاریخ سوري په بالشتان کي لیدلی و [1] بالشتان یا والشتان خو د غور مشهور ښار ؤ، چي په (۱۳۹ هـ) امیر پولاد سوري نیولی ؤ [2] چي د بیهقي په ضبط ګوروالشت [3] او د منهاج سراج د طبقات ناصري په یوه نسخه کي غوروالشت راغلی دی [4] او دا ښار د تکیناباد (د اوسني کندهار حدود) او د غور د مندیش تر منځ پروت و، او د سیستان په تاریخ کي هم والشتان ضبط سوی دی [5] نو چي شېخ کته والشتان ته راغلی او د غور دغه ښار یې لیدلی و، ښکاریږي چي د وطن شرقي او جنوبي خواوي به یې هم کتلي وي.

د شېخ کته نفیس تاریخي کتاب (لرغوني پښتانه) چي له نامه څخه یې هم د کتاب اهمیت ښه ښکاري اوس نسته، داسي څرګندیږي چي دغه نفیس کتاب د محمد هوتک لاس ته ورغلی و او د پټي خزانې مهمه ادبي برخه هم له دغه کتابه اقتباس دی. خوشبختانه محمد دا هم لیکلي دي چي د شېخ کته مهم تاریخي ماخذ هم "تاریخ سوري" وو چي زه به یې بېل ذکر وکړم. د شېخ کته د اولاد په خصوص کي خوشبختانه خواجه نعمت الله هروي مفصلاً کښلي دي چي ده اته زامن درلوده : د زلو معدورزی له نسه، سلطان ثابت، حاجي، سلیمان، ممی له دوهمي مایني څخه چي دغه هم زلو نومېده. په ختـه اکازی یوسفزی : ابراهیم، ملک، پاجي. [6]

---

[1] پټه خزانه.

[2] تاریخ سوري د پټي خزانې په حواله.

[3] بیهقي ص ۷، ۶.

[4] د راورټي حواشي پر انګلیسي طبقات ناصري.

[5] تاریخ سیستان ص ۲۰۶ _ ۲۰۸.

[6] قلمي مخزن افغاني ص ۳۰۶.

﴿۳﴾

شېخ قاسم د (تذکرۀ اولیاء افغان) لیکوال

دا عارف او عالم هم د شېخ متی له علمي کورنۍ څخه دی، چي پلرونه یې شېخ کته ته داسي رسي : قاسم د شېخ قدم زوی د محمد زاهد لمسی د میرداد کړوسی د شېخ سلطان کوسی او لکه دمخه چي ذکر سوه سلطان د شېخ کته زوی ؤ. [1]

د شېخ قاسم مور نېکبخته نومېده، چي د شېخ الله داد مموزي لور او د پښتو شاعره او ډېره لویه عارفه وه چي محمد هوتک د دې اشعار رانقل کوي او لیکي چي په (۹۵۱ هـ) د شېخ قدم په نکاح راغله او په (۹۵۶ هـ) یې شېخ قاسم و زېږاوه او په (۹۶۹ هـ) یې (ارشاد الفقراء) نومی کتاب ولیکه. د دې کتاب نسخه د محمد په روایت د ده پلار داود خان هوتک لیدلې وه [2] او علاوه پر دغه محمد هوتک د (اولیاءِ افغان) له کتابه چي شېخ امام الدین متی زي لیکلی دی هم د دې عالمي مېرمني احوال را نقل کوي.

نعمت الله لیکي چي شېخ قاسم د شېخ عبدالقادر جیلاني رحمه الله د اولادې له مریدانو څخه وو، او د (۹۵۶ هـ) کال په پسرلي د بډنۍ رود پر غاړه (د پښنور مشرق ته) وزېږېد او په (۱۰۱۶ هـ) وفات سو. [3]

شېخ قاسم په پښنور کي په معرفت او روحانیت مشهور سو او ډېر کلک نفوذ یې وموند، د میرزا محمد حکیم مامورین څني وېرېده او ویې غوښتل چي دا پښتون عالم او عارف مړ کړي، شادمان خان هغه وخت د پښنور حکمران ؤ او د شېخ قاسم د وژلو نیت یې وکړ، شېخ مجبور سو له پښنوره کندهار ته ولاړ او له دې ځایه د حرمینو په زیارت مشرف او په قادریه طریقه کي داخل سو. تر دې وروسته بیرته د پښنور د واوي ته راغی

---

[1] قلمي مخزن افغاني ص ۳۰۶.

[2] پټه خزانه قلمي ص ۹۸.

[3] قلمي مخزن افغاني ص ۳۰۷.

he Digital Library

او خپل علمي او روحاني اقتدار يې ټينګ کړ او په شيخ قاسم سليماني مشهور سو. د مغولو پاچهانو بيا دا شيخ نه پرېښود، د عيسى نومي په چغلي اکبر پاچا دی لاهور ته وغوښت خو شيخ قاسم په لاهور کي تر پېښور لا زيات نفوذ ومونډ نو جهانګير دی د چنارګړ په کلا کي بندي کړ، او هم هوري له دنيا څخه تېر سو، او مزار يې هم تر اوسه هوري مشهور دی. شيخ قاسم مؤلف او مؤرخ هم دی، د ده تاريخي کتاب (تذکرة اولياء افغان) دی [1] چي د پښتنو روحانيونو احوال يې پکښي ليکلي و، دا کتاب متاسفانه ورک دی او تر اوسه يې په کُتب خانو کي درک هم نسته او نه له چا څخه ما ليدلی دی.

﴿۴﴾

شيخ امام الدين د (تاريخ افغاني) ليکونکی

شيخ امام الدين محمد عنايت الله د شيخ کبير بالا پير زوی او د شيخ قاسم لمسی دی چي د شيخ کبير له (۱۲) زامنو څخه دی ډېر شهرت لري، د دوشنبې په ماښام غره د محرم (۱۰۲۰ هـ) د پېښور په بډنۍ کي وزېږېد، مور يې تاج بي بي د ملک دروېز لور او د خليلو له مشهوري کورنۍ څخه وه. شيخ امام الدين هم د خپلې کورنۍ د نورو خلکو په ډول علمي او روحاني نفوذ ومونډ او د چهارشنبې په ماښام ۲۳ د محرم (۱۰۶۰ هـ) له دنيا څخه ولاړ او په پېښور کي ښخ سو.[2]

دې شيخ يو تاريخي کتاب (تاريخ افغاني) د پښتنو پر احوال او تاريخ په پارسو وليکه، چي قلمي نسخه يې د کابل په ارګ کي وه، د کتاب له مقدمې څخه ښکاري چي شيخ امام الدين سترګور مؤرخ دی او د خپل کتاب تر ليکني دمخه يې د پښتنو ډېر مهم تاريخي کتب لوستلي او د خپل کتاب د ماخذ په ډول يې استعمال کړي دي.

(1) تذکره الابرار ص ۱۸۳ ـ ۱۸۴، مخزن افغاني ص ۲۶۰.
(2) مخزن ص ۳۰۹ ـ د ميا نعيم د قلمي ديوان خاتمه.

هغه کتب چي د شيخ امام الدين ماخذ دي او د خپل "تاريخ افغاني" په مقدمه کې راوړي دي دا دي: روضه الاحباب، مجمع الانساب، اصناف المخلوقات، تواريخ ابراهيم شاهي د مولانا مشتاقي، د خواجه احمد نظامي تاريخ، د شېرشاه احوال چي شيخ عباس سرواني کښلي دي، اسرار الافغاني [1] له دغو کتابو څخه ځيني ماته معلوم او ځيني ورک دي.

﴿۵﴾

محمد بن علي البستي د (تاريخ سوري) خاوند

دا مؤرخ هم د وطن له هغو ليکوالو څخه دی چي متاسفانه د ده احوال او کتاب هم تر اوسه لاس ته نه دی راغلی، فقط د پټې خزانې له انکشافه سره دا راته معلومه سوه چي دې مؤلف او مؤرخ يو کتاب د (تاريخ سوري) په نامه کښلی ؤ او د سوريانو د سلطنت احوال يې د اسلام له ابتداء څخه پکښي ليکلي وه. د محمد بستي د ژوندانه وخت او احوال هم نه دي معلوم. فقط دوني ويلای سو چي دی د بُست د تاريخي ښار اوسېدونکی ؤ څکه چي د ده کتاب شيخ کټه په بالشتان کي کتلی او په خپل کتاب لرغوني پښتانه کي يې مهم مطالب ځني اقتباس کړي دي، نو دا په ټينګه ويلای سو چي د شيخ کټه تر عصر يعني د (۷۵۰ هـ) دمخه محمد بستي ژوندی ؤ او په دغه عصر کي هم د ده تاريخ سوري ډېر شهرت درلود څکه چي شيخ کټه له دغه کتابه ډېر مفيد مضامين را اخيستي دي.

محمد هوتک چي د پټې خزانې ليکوال دی د پښتو ځيني مهم او ګرانبها پخواني ادبي آثار له لرغوني پښتانه څخه را اخلي او دا هم وايي چي د لرغوني پښتانه مؤلف له تاريخ سوري څخه را نقل کړي دي، په پټه خزانه کي دغه لانديني تاريخي او ادبي مواد د لرغوني پښتانه په ذريعه له تاريخ سوري څخه را نقل سوي دي.[2]

(1) د تاريخ افغاني قلمي نسخه.
(2) د مخو عدد د پټې خزانې د قلمي نسخې دی.

etabton.com: The Digital Library

۱. د پښتو د پر پخوانی شعر او د جهان پهلوان امير کرور سوري احوال له ۱۵ مخه تر ۱۷.
۲. د شيخ اسعد سوري احوال او اشعار له ۱۸ مخه تر ۲۱.
۳. د ښکارندوی احوال او اشعار له ۲۱ ځخه تر ۲۵.

گويا په پټه خزانه کي د پښتو قديمه ادبي ذخيره تولـه د شيخ کته پـه نقل له تاريخ سوري څخه را اخيستل سوې ده او دا راته څرگندوي چي تاريخ سوري يوازي د حربي او سياسي پيښو تاريخ نه ؤ بلکي ادبي رنگ يې هم درلود، او محمد بن علی البستي د پر باخبره او سترگه ور مؤرخ و، ځکه چي ده د پاچهانو احوال او حربي او سياسي وقايع رانقل کړي او هم يې د دوی د کلام نمونې راوړې دي، هغه قصايد يې په خپل کتاب کي ساتلي دي چي د غوري پاچهانو په دربارو کي به په پښتو ويلي کېدې، له دې څخه ښکارېږي چي تاريخ سوري د سوريانو او غوريانو د عصر يو ادبي او سياسي او حربي تاريخ ؤ که څه هم د دغه تاريخ ژبه واضحاً د پټې خزانې له بيانو څخه نه ښکارېږي، مگر له لوړو اقتباساتو څخه دا څرگندېږي چي تاريخ سوري بايد په پښتو ژبه ليکل سوی وي، ځکه چي درې مهم پښتو شعرونه شيخ کته ځني رانقل کړي دي. د تاريخ سوري نسخه اوس غالباً په دنيا کي نسته او د پښتو دغه غوره کتاب لکه نور علمي او ادبي آثار ورک دی. مگر پټې خزانې خوشبختانه د دې گرانبها کتاب نوم او مؤلف او ځيني اشعار او مطالب د لرغوني پښتانه په ذريعه نقل کړي او را ساتلي يې دي.

تر اوسه چي زه معلومات لرم، د دنيا په کتب خانو کي د دې نفيس کتاب کم درک نسته که کم وخت پيدا سي يا يې څرک وموندل سي نو به په رښتيا د پښتوژبي يو گرانبها تاريخي او ادبي اثر لاس ته راغلی وي، پښتانه زلمي دي هر کله تلاښ او پلټنه کوي دا خبره هم بايد هېره نه کړو چي راوړتي مستشرق د احمدشاه بابا تر عصر وروسته يو تاريخ ميندلی ؤ چي نوم يې "تذکره الملوک" ؤ د دې کتاب په ماخذو کي يو کتاب "تاريخ سلاطين سوريه" هم دی. [1]مگر دا نه سو ويلای چي دغه سوريه هغه د محمد بن علي تاريخ دی که بل؟

[1] د پښتو گرامر مقدمه ص ۹.

احمد بن سعيد اللودي د (اخباراللودي) ليکونکی

دا مؤرخ له هغو خلکو څخه دی چي تر پټې خزانې دمخه مو نه پېژاند، نه يې کتاب راته معلوم ؤ.

محمد هوتک ليکلي دي چي کامران خان په (۱۰۳۸ هـ) خپل کتاب کليد کامراني وکيښ او په دغه کتاب کي يې د احمد لودي له کتابه د ملتان د لودي پاچهانو احوال نقل کړ، احمد د سعيد لودی زوی په (۶۸۶ هـ) يو کتاب کښلی ؤ چي نوم يې و (اعلام اللوذعی فی اخبار اللودی) د محمد هوتک په قول دغه کتاب د کامران خان په لاس کي ؤ او په کليد کامراني کي يې نقل ځني کړی دی. [1]

د محمد هوتک له بيانه چي د کليد کامراني په ذريعه يې له اخبار اللودي څخه نقل کړی دی داسي ښکاري چي احمد بن سعيد خپل کتاب د پښتنو پخوانو لودي پاچهانو پر احوال ليکلی دی، دغه کورنۍ د پښتنو مشهور پاچهان دي چي د الپتگين او سبکتگين له وخته (۳۵۱ _ ۳۶۰ هـ) يې پر ملتان پاچهي کوله، لومړی پاچا يې شيخ حميد لودي ؤ چي تر ده وروسته د ده زوی پاچهي کړله، د سلطان محمود په عصر کي له (۳۹۰ تر ۴۰۱ هـ) چي ملتان يې نيو، د نصر زوی ابو الفتح له دغي کورنۍ څخه پاچا ؤ، پټه خزانه په لوړو حوالو بل سړی هم له دغي کورنۍ څخه رابښيي چي شيخ رضي نومېده او د شيخ حميد وراره ؤ، د شيخ حميد د زوی نوم متاخرو مؤرخينو (نصير) کښلی ددی مگر د گرديزي زين الاخبار نصر ښيلـه (ي) راوړی دی، په پټه خزانه کي هم دغه نوم د کليد کامراني او اخبار اللودي په حواله نصر کښل سوی دی، له دې څخه معلومېږي چي اخبار اللودي هم لکه گرديزي موثق کتاب ؤ محمد قاسم فرشته لومړی مؤرخ دی چي د شيخ حميد لودي کورنۍ پښتانه بولي او د دوی جگړې له سلطان محمود سره

[1] پټه خزانه قلمي ص ۳۰.

abton.com: The Digital Library

لیکي[١]. وروستني مؤرخین لکه شېرمحمد [٢]او حیات خان [٣] او انګرېز ملیسون [٤] هم د فرشته له قوله سره سم دغه کورنۍ پښتانه ګڼي، پخواني مؤرخین د دوی له قومیته څه نه وايي، مثلاً ګردېزی [٥]او بن اثیر [٦] او ابن خلدون [٧] ټوله د سلطان محمود او د دوی جګړې او د دغې کورنۍ د الحاد کیسې ذکر کوي خو داسې نه وايي چې دوی څوک وو پښتانه وو که یه؟ د اوسنۍ زمانې محقق لیکوال علامه سید سلیمان ندوي هندي لیکي چې : د دې کورنۍ په پښتنواله کې شک دی، ځکه چې محمد قاسم فرشته دوی ته له کمه سنده پښتانه ګڼلي دي، خو دوی اصلاً عرب او د جلم بن شیبان عربي نژاد حکمدار له نسله دي چې تر (٣٤٠ هـ) وروسته د ملتان لومړي قرمطي پاچا دی [٨]، د پټې خزانې تر انکشاف دمخه یقیناً د دې کورنۍ په افغانیت کې اختلاف وو، ځکه چې فرشته هم خپل سند نه دی ښوولی، او لکه علامه سید سلیمان ندوي چې لیکي د دوی نومونه هم ... عربي دي، مګر دغه تاریخي اشتباه د پټې خزانې له لیدلو څخه هیسته کیږي، ځکه دا کتاب د اخباراللودي په حواله د دغې کورنۍ د دوو تنو نصر او رضي پښتو اشعار رانقل کوي او دا ثابتوي چې دوی پښتانه او ژبه یې هم پښتو وه او اخباراللودي د دې مشهوري کورنۍ تاریخ ؤ چې متاسفانه اوس ورک دی، او که پټه خزانه نه وای پیدا سوې دغه تاریخي حقایق به هم مکتوم پاته وو او د ملتان لودي کورنۍ به عربي کېدله.

---

[١] فرشته ص ١٧ _ ٢٧.
[٢] خورشید جهان ص ٦٧.
[٣] حیات افغاني ص ٤٥.
[٤] تاریخ افغانستان ص ٤٤.
[٥] زین الاخبار ص ٥٥.
[٦] الکامل ج ص ١٣٢.
[٧] ابن خلدون ج ٤ ص ٣٦٦.
[٨] تعلقات هند و عرب ص ٣٢٨.

﴿ ٧ ﴾

دوست محمد کاکړ د (غرغښت نامې) لیکونکی

دوست محمد د بابړ خان زوی او د پښتو شاعر او مؤرخ دی چې په (٩١٢ هـ) هرات کې ؤ او په (٩٢٩ هـ) یې غرغښت نامه نظم کړه او د دغه نامور پښتون د ژوندانه احوال او حکایات یې پکښې وکښل، محمد هوتک دغه کتاب لیدلی ؤ او لیکي چې دا یو درسي کتاب ؤ کوچنو به لوست.[١]

دوست محمد لیکلي دي چې زما پلار بابړ خان (تذکرهٔ غرغښت) نظم کړې وه چې پلار مې مړ کېده زه نه وم، وروسته چې راغلم دغه کتاب ضایع سوی او له منځه تللی ؤ مګر زما یې اکثر مضامین په یاد وو، روایات مې ټول ویلي وو هغه روایات و قصص ما بیرته ټول نظم کړل او نوم مې (غرغښت نامه) کښېښو. غرغښت نامه د. محمد هوتک په لاس کې وه، په پټه خزانه کې یې یو حکایت ځنې رانقل کړی دی، او هم یې د زرغون خان نورزي احوال له غرغښت نامې څخه کښلي او د دغه مرحوم شاعر یو مثنوي ساقي نامه یې هم له غرغښت نامې اقتباس کړې ده.[٢] داسې ښکاري چې دوست محمد کاکړ سیاح او ګرزند سړی ؤ، ځکه په (٩١٢ هـ) چې هرات له تی په کجران کې یې د زرغون خان دېوان له ملا ایوب تیسنی څخه موندلی او د دغه شاعر احوال او اشعار یې ځنې رانقل کړي وو.[٣]د پټې خزانې له مقتسباتو څخه دا استنباط کولای سو چې غرغښت نامه یو ادبي موثق تاریخ وو چې د غرغښت له احواله ماسوا د نورو شاعرانو او رجالو احوال او اشعار هم پکښې وو، افسوس چې دغه کتاب هم لکه نور ګرانبها د پښتو ادبي او تاریخي آثار له منځه ورک دي او فقط پټه خزانه یې د ځینې مرغلرو سراغ راکوي.

---

[١] زرغون خان د غرغښت نامې په قول په (٨٩١ هـ) په هرات کې وو او په (٩٢١ هـ) د کندهار په دیراوت کې وفات سو. (پټه خزانه)
[٢] پټه خزانه.
[٣] پټه خزانه.

tabton.com: The Digital Library

﴿ ۸ ﴾

شېخ بستان بړيڅ د (بستان الاولياء) ليکونکی

د دې مؤرخ او شاعر احوال محمد هوتک هسې کښلي دي : "شېخ محمد بستان په قوم بړيڅ په ښوراوک کي يې کور وو، د ده پلار محمد اکرم د خدای ولي وُ او د ښوراوکه راغی د هلمند پر غاړه په يوه کوډله کي اوسېد، شېخ بستان په ځواني ولاړ هندوستان ته او هلته به ښار په ښار گرځېد، هغه وخت چي وطن ته راغی په (۹۹۸ هـ) يې د اولياء الله په بيان د بستان الاولياء کتاب وکيښ او زما پلار (داؤد خان) دغه کتاب په ښوراوک کي د حسن خان بړيڅ په کور کي ليدلی وُ، چي په دې کي شېخ بستان د ډېرو پښتنو اولياوو حالونه او کرامتونه کښلي او ډېر ډېر اشعار يې هم رانقل کړي و له نورو شاعرانو او خپلو شعرو څخه ..."(۱) د محمد هوتک له دغه بيانه تاسي په ښه ډول معلومولای سئ چي بستان الاولياء فقط د روحانيونو تاريخ نه وُ، بلکي دَ پښتنو د رجالو اشعار او احوال هم له بستان الاولياء څخه را نقل کوي (۲) او دا خبره ښه زبادوي چي دغه کتاب د پښتو ادبي تاريخ هم و.

نعمت الله هروي چي د شېخ بستان معاصر دی، د ده شرح حال په مخزن کي ليکي چي ځيني جملې يې دا دي :

"آن احسن عبادالله شيخ بستان بړيڅ در ابتدای جوانی از روه به هندوستان آمد، در قصبهٔ سمانه سکونت اختيار کرد، و خود را در لباس تجارت مخفی ميداشت. وباندک دست مايهٔ بيع و شکرا ميکرد ... و چشمان شريفش هر گز از اشک خشک نبود ... و اکثر اوقات اشعار پښتو را بصورت حزين دردناک که سنگ را بگريه آرد ميخواند ... کمترين محرر اين تاريخ در سفر در پاکه کرده بود، در خدمت ايشان رفيق بود شب و روز

(۱) پټه خزانه ص ۲۸.

(۲) پټه خزانه ص ۲۶.

اکثرخوارق بنظر درامد ... چون معاودت نمود به احمد آباد گجرات رسيدند روزی بمن فرمودند که وقت من به آخر رسيده و بيماری اسهال عارض شد به تجهيز و تکفين خواهی پرداخت ... بعد بتاريخ (۱) شهر ربيع الثانی روز جمعه (۱۰۰۲ هـ) بعد از نماز ظهر به محبوب اصلی واصل شد ..." (۱)

د نعمت الله دغه بيان چي د ده مشاهدات دي د شېخ بستان عرفاني او ادبي مقام راښيي، نور احوال او اشعار يې هم خوشبختانه پټې خزانې راساتلي دي.

﴿ ۹ ﴾

علي محمد کندهاري د (حالنامې) ليکوال

دا سړی د ابوبکر کندهاري زوی او غالباً په قوم شينوار او د پير روښان د کورنۍ مخلص او خادم وُ، په خپله بايزيد روښان (۹۳۱ ـ ۹۸۰ ق حدود) خپل حال په پارسي ژبه په حالنامه کي تر (۹۸۰ ق) دمخه کښلی وُ، خو د (۱۰۵۰ ق) په شاوخوا کي علي محمد چي ځان د روښان د کورنۍ خدمتگار او مريد بولي، حالنامه يې نوې تحرير او بشپړه کړه او د روښان د کورنۍ د نورو رجالو احوال يې ور زيات کی. د هند د علي گړ په کتابخانه کي د حالنامې يوه خطي نسخه سته چي (۵۲۶) مخه ده او دا کتاب موږ ته د روښاني نهضت ارزښتمن معلومات راکوي.

﴿ ۱۰ ﴾

اخوند درويزه د (مخزن الاسلام او تذکرې) ليکونکی

مشهور عالم دی چي د زرم هجري کال په شاوخوا کي ژوندی وُ، د جيون بن جنتي له نسله او پلار يې گدائی د سعدي زوی نومېدی، دوی په خپله په کندز کي اوسېدل خو درويزه شرقي غرو ته راغی د ملک دولت

(۱) قلمي مخزن افغاني ص ۲۵۰.

ملي زي خور يې وکړه او د پېښور په شاوخوا کي ميشته سو.[1] اخوند درويزه او کورنۍ يې په پښتو کي ډېر شهرت لري ده خپل کتاب مخزن الاسلام او په پارسو کتاب (تذکره الابرار والاشرار) کي د خپل عصر احوال وليکه، وروستنی کتاب په (۱۰۲۱ هـ) تمام سوی دی (ارشاد الطالبين) هم په فقه کي د ده دی، اخوند درويزه که څه هم ملا دی مؤرخ نه دی، خو د ده دوه کتابونه مخزن او تذکره داسي ډېر مضامين لري چي د پښتنو په تاريخ او ادب او د رجالو په احوال او تاريخ کي استفاده ځني کيږي، نو ځکه دی د مؤرخينو په ټولۍ کي هم ګڼلای سو.

اخوند درويزه (۹۴۰ _ ۱۰۲۸ هـ . ق) په پېښور کي مړ او هم هورې ښخ دی[2] د ده کورنۍ د پښتنو له مشهورو ادبي او علمي او روحاني کورنيو څخه ده، چي د پښتو د ادب په تاريخ کي د دوی مقام ښکاره دی. مخزن الاسلام لومړی پلا د اخوند دروېزه ننګرهاري زوی اخوند کريمداد (۱۰۷۳ هـ . ق مړ) په (۱۰۲۴ هـ . ق) کال راټول کړی دی، د مخزن نوی چاپ پېښور (۱۹۶۹ م) او د تذکره الابرار چاپ (۱۳۰۹ ق)

﴿ ۱۱ ﴾

کامران خان سدوزی د (کليد کامراني) مؤلف

دا مشر هم د پټې خزانې په ذريعه د يوه مؤلف او مؤرخ په ډول پېژنو محمد هوتک د شيخ رضي لودي په احوال کي هسي ليکي چي : "کامران بن سدو خان په ښهر صفا کي په (۱۰۳۸ هـ) يو کتاب وکيښ چي کليد کامراني يې نوم ؤ په دي کتاب کامران له کتابه د شيخ احمد بن سعيد اللودي چي په (۶۸۶ هـ) يې کښلی او نوم يې اعلام الوذعي في اخباراللودي دی هسي نقل کا ...[3]"

---

[1] تذکره الابرار والاشرار ص ۳۱ _ ۱۰۵ _ ۱۰۷.
[2] تذکرۀ علمای هند ص ۵۹.
[3] پټه خزانه ص ۳۰.

ketabton.com: The Digital Library

کامران خان سدوزی د پښتنو له خورا نوموړو خلکو څخه دی او د دوی کورنۍ په کلو کلو پر کندهار حکمراني او پاچهي کړېده، د کامران خان پلار هغه معروف سدو خان دی چي د سدوزو د پاچهانو ټبر ټول د ده اولاد دی، د سدو پلار عمر خان ؤ، د عمر پلار معروف بن بهلول بن کانی بن بامی دی چي دغه خلک په کندهار کي ډېر مشهور وو د سدو پلار عمر د صفويانو په عصر کي د کندهار مرزبان او واکمن ؤ، په خپله سدو خان د (۹۶۵ هـ) په ذيحجه کي زوکړی او (۷۵) کاله ژوندی او د کندهار واکمن ؤ سدو پنځه زامن درلودل : خواجه خضر خان، مودودخان، زعفران خان، کامران خان، بهادر خان[1] لکه له پټې خزانې څخه چي ښکاره سوه، کامران خان عالم او مؤرخ او ليکوال واکمن ؤ، د سدو خان تر مرګ وروسته د ده مشر زوی خضرخان پر کندهار واکمن سو، او تر ده وروسته يې زوی چي خداداد سلطان نومېدی د اورنګزېب له درباره هم د کندهار په حکمداري پېژندل سوی ؤ، د خضر خان بل زوی شېرخان نومېدی چي لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د ده له پښته دی.

کامران خان د شاه جهان مغولي پاچا معاصر ؤ (۱۰۳۷ _ ۱۰۷۶ هـ) او د هغه پاچا سره يې دوستانه روابط درلودل، په (۱۰۴۷ هـ) دی د شاه جهان له خوا رسماً د کندهار په حکمداري پېژندل سوی ؤ او په (۱۰۵۰ هـ) د ربيع الاول په درېيمه کامران خان او د ده ورور مودود (مغدود) خان ډهلي ته تللی ؤ.[2]

د کامران خان د مرګ تاريخ نه دی راته معلوم، خو د ده ورور مودود خان د (۱۰۵۳ هـ) په شوال له هغه مير يحيی سره جنګ وکړ چي د شاه جهان له خوا د کابل حاکم ؤ او په دغه جنګ کي ومړ.[3] د کامران خان کليد کامراني کتاب ما نه دی ليدلی او نه يې په کمه کتبخانه کي درک لرم. خو د محمد هوتک دغه کتاب په لاس کي ؤ او لکه دمخه چي هم وويل سوه د

---

[1] حيات افغانی ص ۱۱۸، خورشيد جهان ص ۱۸۱، تذکره الملوک.
[2] پادشاه نامه ج ۲ ص ۳۲ _ ۳۶ _ ۱۱۵.
[3] پادشاه نامه ج ۲ ص ۳۴۸.

tabton.com: The Digital Library

ملتان د لودي کورنۍ تاريخ او هم د دوی پښتو اشعار يې له دغه کتابه رانقل کړي دي، چي د پښتو ژبي خورا پخواني ادبي آثار ګڼل کېږي. داسي ښکاري چي کليد کامراني هم د پښتنو سياسي او د پښتو ژبي ادبي تاريخ ؤ او کامران خان په تاريخ پوه او عالم پښتون حکمدار ؤ چي په خپل کتاب کي يې له اخبارالودي څخه هم مطالب نقل کړي وه.

﴿۱۲﴾

الله يار د (تحفهٔ صالح) ليکوال

تحفهٔ صالح هم د محمد هوتک له ماخذو څخه ده او دغه کتاب ملا الله يار الکوزي د خپل استاد او مرشد شيخ محمد صالح الکوزي په نامه کښلی او په هغه کي يې د خپل او نورو پښتنو مشاهيرو احوال او اشعار راوړي وو. شيخ محمد صالح د خپل عصر عالم او زاهد سړی ؤ چي د کندهار په جلدک کي يې عمر په تدريس او ارشاد تېراوه او دوی د شاه بېګ خان د کندهار د صوبدار معاصرين دي.[1] د تاريخ له مطالعې دا راته ښکارېږي چي شاه بېګ خان کابلي په (۱۰۰۳ هـ) د جلال الدين اکبر له خوا د کندهار حکمران او تر (۱۰۱۴ هـ) پوري هم هورې و[2] نو د الله يار د ژوندانه اوقات هم د (۱۰۰۰ هـ) حدود تخمين کولای سو. محمد هوتک په خپل کتاب کي له تحفهٔ صالح څخه يو د شيخ محمد صالح احوال او اشعار اقتباس کوي او بل ځای د علي سرور لودي احوال او اشعار هم ځني را اخلي[3] له دغه اقتباسه ښکاري چي تحفهٔ صالح د پښتنو د رجالو او اديبانو پر احوال او اشعارو مشتمل ؤ او الله يار د پښتو ژبي يو مؤرخ او تذکره ليکونکی مؤلف دی.

---

[1] پټه خزانه ص ۴۸.

[2] اکبر نامه، تزک جهانګيري، اقبال نامه، منتخب اللباب.

[3] پټه خزانه ص ۴۸ _ ۵۰.

﴿۱۳﴾

محمد رسول هوتک د (بياض) ليکونکی

دا سړی د پټي خزانې په تصريح د کندهار د کلات هوتک ؤ چي د ده يو بياض د محمد هوتک څخه وو او په پټه خزانه کي يې هم درې ځايه ځيني مهم مطالب له دغه بياضه رانقل کړي دي او د محمد رسول ليکونه د پټي خزانې له مهمو ماخذو څخه دي د سلطان بهلول او خليل خان نيازي اشعار محمد هوتک له دغه بياضه را اخيستي او هم يې د رحمان بابا رحمه الله سوانح او مهم حالونه او هم يې د خوشحال خان رحمه الله اشعار او احوال له محمد رسول څخه اقتباس کړي دي.

د پټي خزانې له مقتبساتو ښکارېږي چي محمدرسول يو ډېر مدقق ليکوال ؤ او په خپل بياض کي يې ډېر مهم حوادث او احوال او اشعار ليکلي وو، ځکه چي د رحمان بابا رحمه الله سوانح په دغه ډول هيچا ته نه وه معلوم، خو د پټي خزانې په ذريعه د محمد رسول له بياضه ډېر غنيمت مواد لاس ته راغلل.

﴿۱۴﴾

نعمت الله هروی د (مخزن افغاني) ليکوال

نعمت الله د خواجه حبيب الله زوی او د هرات له پښتنو څخه ؤ، چي د پټي خزانې په قول اصلاً نورزی دی. دا سړی د (۱۰۰۰ هـ) په حدودو کي ژوندی ؤ او د جهانګير د مشهور وزير خان جهان لودي له نوکرانو څخه ؤ په (۱۰۱۸ هـ) چي خان جهان لودي دکن ته مقرر سو، نعمت الله هم ورسره ؤ، او هيبت خان کاکړ هم د ده ملګری او د خان جهان له سرو څخه ؤ. نعمت الله د پښتنو احوال او تاريخ د خان جهان په امر او د هيبت خان کاکړ په ملګري د ذيحجې په شلمه (۱۰۲۰ هـ) شروع کړ او خپل کتاب يې (تاريخ جهاني يا

abton.com: The Digital Library

مخزن الافغاني) وبأله.[1] مخزن افغاني په پارسو ليکل سوی او د پښتنو د تاريخ خورا مهم کتاب دی او د پښتنو احوال او علمي او روحاني رجال ډېر بيانوي، د کتاب قلمي نسخې سته او پروفيسور ډورن Dorn په (۱۸۳۶ ع) د دغه کتاب انګليسي ترجمه له لندنه خپره کړه.

لکه د شيخ بستان بړيڅ په حال کي چي مو ولوستل نعمت الله د هغه مؤرخ معاصر دی او لکه چي پخپله يې کښلي دي کم وخت يې په درياب کي سفر کړی او په (۱۰۰۲ هـ) کال د ګجرات په احمد آباد کي و.

خلاصه : نعمت الله د پښتنو يو خورا لوی مؤرخ دی او د مخزن افغاني په ليکنه کي ډېر تاريخي کتب کتلي دي چي دلته به زه هر يو ببل ببل دروښيم. دا کتاب په (۱۹۶۰ م) کال دوه ټوکه په ډهاکه کي چاپ سو.

﴿۱۵﴾

هيبت خان کاکړ د (مخزن افغاني) ليکمرستونکی

هيبت خان د سليم خان زوی له پښتنو فضلاوو څخه دی، چي د نعمت الله سره يو ځای د جهان خان لودي په دربار کي وُ او ده د مخزن افغاني په ليکلو کي هم مرسته هم تشويق کړی دی. نعمت الله د مخزن په مقدمه کي دی (محبت اطوار او فضيلت شعار) بولي او وايي چي مخزن مي د ده په سعی او کوښښ ليکلی دی.

د مخزن افغاني د يوې قلمي نسخې په پای کي د هيبت خان يوه پارسو قصيده د خان جهان لودي په مدح کي درج ده او داسي ښکاري چي دی عالم او اديب سړی وُ په دغه نسخه کي ده د خپل خاندان احوال هم مفصل کښلي دي او دا زباديي چي دی له پښتنو اميرزاده ګانو څخه وُ او پلرونه يې په هند کي د لويو مرتبو خاوندان وو.

دی ليکي چي زما پنځم نيکه ملک فيروز د سلطان بهلول لودي په عصر کي له پښتونخوا څخه راغی او د سلطان محمود شرقي په جګړو کي

(۱) د قلمي مخزن افغاني مقدمه د پښتو ټولني د کتب خاني.

يې ميړانه ښکاره کړه او په هند کي يې ډېر جاګير وموند. وروسته ملک ملهی د سوريانو په وخت د پنځوسو زرو منصب درلود او د کور د ولايت حکمران وُ او ملک لقمان هم د سلطان سکندر لودي په اوقاتو کي لوړ مناصب درلودل. او دغه پښتانه په سامانه کي ميشته وو. د لقمان زوی ملک بستان او د بستان زوی ملک ښادي خان وُ، چي د هيبت خان نيکه او د سليم خان پلار دی.[1] دغه کورنی له ابتداء څخه تر آخره د پښتنو په پاچهی کي معتبره او مقتدره وه او دغه رجال ټول په جنګ او اداره کي مشهور دي.

﴿۱۶﴾

شيخ عباس سرواني د (تاريخ شېرشاهي) ليکوال

تاريخ شېرشاهي د شېرشاه سوري او د ده د کورنی په احوال کي شيخ عباس خان سرواني ليکلی دی، سرواني د پښتنو يو قوم دی. دا پښتون مؤرخ د سوري پاچهانو د کورنی احوال له ابتداء څخه د اسلامشاه تر مرګه مفصلاً ليکي. تاريخ شېرشاهي د نعمت الله په ماخذو کي هم دی چي د مخزن افغاني په مقدمه کي يې يادوي.

د دې کتاب قلمي نسخه له ما څخه سته خو د ابراهيم بټني تکملې هم لري، د تاريخ شېرشاهي متن دوې برخې دی : لومړی برخه په خپله شېرشاه او دوهمه برخه د ده د زوی اسلامشاه مفصل احوال دي. ژبه يې پارسو ده او موثق تاريخ دی چي عباس سرواني غالباً خپل مشاهدات کښلي او د دغو دوو تنو پښتنو پاچهانو حال او د سلطنت حوادث يې مفصل ليکلي دي.[2] شيخ عباس فاضل او عالم او سترګه ور مؤرخ ښکاري او د ده کتاب هم د سوري کورنی ذ تاريخ لپاره ډېر غنيمت دی، موجوده نسخه په کندهار کي د نورو کتابو سره يو ځای په (۱۱۱۳ هـ) ليکلې سوې ده. د مؤلف احوال

(۱) د مخزن افغاني قلمي خاتمه ص ۳۷۷.

(۲) د تاريخ شېرشاه قلمي نسخه.

يې اوس نه دی را معلوم او د کتاب د نورو نسخو درک هم نه لرم. شېخ اما الدين په تاريخ افغاني کي ليکي چي دغه کتاب هم زما ماخذ دی[1] د شېرشاهي تاريخ فارسي متن وروسته په هند کي چاپ سوی ؤ او يوه پښتو ترجمه يې په (۱۳۵۴ ش) کال په کابل کي چاپ سوه له دې ترجمې څخه ښکاري چي عباس د شېخ علي سرواني زوی ؤ، او د ده نيکه بايزيد د شېرشاه په وخت کي د ده حضور ته له روهه هند ته راغلی ؤ او دغه کتاب د اکبر پادشاه په امر عباس ليکلی دی.

﴿ ۱۷ ﴾

مولانا محمود د (تاريخ ابراهيم شاهي) ليکوال

محمود د ابراهيم کالواني زوی يو مؤرخ دی چي د (۹۰۰ هـ) په شاوخوا کي ژوندی ؤ. ده د سلطان ابراهيم لودي په نامه (تاريخ ابراهيم شاهي) ليکلی او د هغه پښتون پاچا او د لودي کورنۍ احوال يې پکښې راوړي دي. دا کتاب هم د نعمت الله په ماخذو کي دی او د مخزن افغاني په ليکنه کي استفاده څني کوي.[2] او شېخ امام الدين هم په تاريخ افغاني کي دغه کتاب خپل ماخذ بولي، د خواجه نظام الدين احمد د طبقات اکبري په ماخذو کي هم شامل دی.

﴿ ۱۸ ﴾

احمد خان د (مجمع التواريخ) ليکوال

دا تاريخ هم د مخزن له ماخذو څخه دی، او د نعمت الله په لاس کي ؤ او داسي يې ستايي: "و معدن اخبار احمدی که فصاحت شعاز و بلاغت دثار احمد خان بن بهيگخان کنبوله در سنهٔ يکهزار و بيست تصنيف نمود و

[1] د تاريخ افغاني قلمي مقدمه.

[2] د مخزن مقدمه په يوه قلمي نسخه کي.

ketabton.com: The Digital Library

مجمع التواريخ نام نهاده و الحق که تواريخ باين خوبی بنظر در نيامده است ..."[1] نعمت الله وايي چي: دغه تاريخ د پښتنو احوال لري او ما اقتباس څني کړی دی اما اوس د دغه کتاب کمه قلمي نسخه نه ده معلومه، خو د نعمت الله له قوله يې پېژنو او داسي معلومېږي چي "معدن اخبار احمدی" هم نومېد.

﴿ ۱۹ ﴾

ملا مست زمند د (سلوک الغزاة) ليکوال

ملا مست زمند د (۱۰۴۰ هـ) په حدودو کي په يوسفزو کي اوسېد، او روحاني او عالم سړی ؤ، دی د اخوند چالاک نومي روحاني پير ؤ او په خپل عصر کې ډېر روحاني نفوذ ومومند اخوند چالاک د اباسين په لتو کي د مغولو پر خلاف ډېر ملي حرکات وکړل او ملامست هم په دغو جګړو کي لاس درلود.[2]

ملا مست د پښتو ژبې ليکوال دی او يو کتاب يې د (سلوک الغزاه) په نامه کښلی دی چي قلمي منحصر بفرد نسخه يې په پښتو ټولنه کي سته په دې کتاب کي ده د خپل عصر تاريخي احوال ليکلي او د پښتو مشران يې ښوولي دي د ډېرو جګړو بيان يې کړی او د خپل عصر هغه احوال يې کښلي دي چي په نورو تاريخو کي نه سو موندلای.

ملا مست عالم، اديب سړی دی په فقه، تفسير، عقايد، اخلاق کي ښه معلومات لري او د پښتو ژبې له پخو ليکوالو څخه ګڼل کيږي، که څه هم د ده کتاب يوازي تاريخ نه دی خو بيا هم ډېر تاريخي حوادث څني څرګندېږي او دی د مؤرخينو له ډلي څخه نه سو ايستلای. د مست زمند قبر تر اوسه د ننګرهار د شينوارو په غرو کي مشهور دی او خلک يې پېژني. د ملا مست په کتاب کي د سلطان محمود ګډون پښتانه قايد په خصوص کي

[1] احمد خان بن بېل خان کنبو.

[2] د سلوک الغزاه قلمي نسخه. دغه نسخه اوس په ملي ارشيف کي خوندي ده.

etabton.com: The Digital Library

هم ښه معلومات لاس ته راځي او د اخوند چالاک جهادونه بيانوي. له (سلوک الغزاه) څخه د اوسني عصر پر ذوق او تاريخي تدقيق برابر لاندني ښيښي اخيستلای سو :

۱. د هغه عصر د پښتنو ځيني مشران او خوانين راښيي.
۲. د هغه عصر د پښتنو اوضاع په مشرقي خوا او پېښور کي ښکاره کوي.
۳. ابنيه او اماکن او د کليو او مشهورو ځايو نومونه راښکاره کوي.
۴. هغه حوادث او وقايع چي د مست په عصر کي تېر سوي دي لږ لږ او څه څه بيانوي.
۵. د هغه عصر عمومي د پښتنو روح او اخلاق او عواطف ځني ښکاره کيږي.

په اصل کي کتاب تر ديني احساس لاندي ليکل سوی دی، اکثري برخي يې هم ديني او اخلاقي او وعظي دي خو ځای ځای د قوم د تخضيض لپاره تبليغ کړی نو د غازيانو نومونه اخلي، وقايع هم ليکي، مشران او قايدين هم يادوي، د ځايو نومونه هم ځرگندوي، د عصر عمومي اخلاقي رجحان هم ځني ښکاريږي. موجوده نسخه ډېره ناقصه او بې پايه او له منځه هم پرې پرې او ډېره پرېشانه ده، ډېر مطالب مبهم او ناځرگنده پکښي پاتېږي او داسي ښکاري چي بله نسخه دې هم نه وي، د دې ټولو نواقصو سره هم ډېره غنيمت او قيمتي ده او بې له تاريخي بها ادبي پلو هم لري چي پر هغه بحث کول دلته نه ښايي.

《۲۰》

شيخ رزق الله مشتاقي دهلوي د (واقعات مشتاقي) ليکوال

دا مؤرخ غالباً د ډهلي اوسېدونکی او د وفات کال يې (۹۸۹ هـ ۱۵۸۱م) دی نعمت الله هروي په مخزن کي دغه کتاب خپل ماخذ گني او په مقدمه کي داسي وايي چي : مشتاقي د هند د پښتنو پاچهانو احوال په خپل

تاريخ کي کښيلي دي[1] مگر نعمت الله د دې کتاب نوم نه ښيي. تر نعمت الله هروي وروسته شيخ امام الدين متی زی هم د خپل کتاب تاريخ افغاني په مقدمه کي د مشتاقي تاريخ خپل ماخذ گني، مگر د کتاب د نامه تصريح نه کوي[2]. خو دوني ښکاريږي چي دغه مؤرخ وروستنيو پښتنو تاريخ ليکونکو ته معلوم نه وو، خواجه نظام الدين احمد بخشي د محمد مقيم الهروي زوی چي خپل کتاب "طبقات اکبري" يې په (۱۰۰۱ هـ) کښلی دی په خپلو ماخذو کي "واقعات مشتاقي" هم يادوي[3] او له دغه تاريخه د مشتاقي د کتاب نوم پيدا کولای سو، د مؤرخينو له احوالو او اقوالو څخه داسي ښکاريږي چي مولانا مشتاقي ښه مؤرخ وو، ځکه ثقه مؤرخينو د ده کتاب په خپلو ماخذو کي راوړی او گڼلی دی، مخصوصاً نظام الدين احمد هروي چي د اکبر پاچا د دربار سړی او هم غټ ليکوال او مؤرخ دی. د واقعات مشتاقي يوه خطي نسخه په برټش موزيم کي سته نمبر ۱۹۲۹.

《۲۱》

ابراهيم بېټني د (تاريخ شېرشاهي) بشپړوونکی

دمخه وويل سوه چي تاريخ شېرشاهي شيخ عباس سرواني کښلی دی. تر (۱۰۲۰ هـ) وروسته چي نعمت الله خپل مخزن وکيښ ابراهيم چي په خټه بېټنی وُ راولاړ سو او مخزن افغاني او تاريخ نظامي (هغه طبقات اکبري چي نظام الدين احمد هروی کښلی و) او نور کتب يې وکتل او غالباً يې ځيني حوادث په خپله هم وليدل نو يې د شيخ عباس سرواني تاريخ شېرشاهي تکميل کړ. لکه دمخه چي مي وويل : زما څخه د تاريخ شېرشاهي يوه قلمي نسخه سته، چي په (۱۱۱۳ هـ) په کندهار کي کښل سوې ده، دا نسخه د ابراهيم بېټني تکملې هم لري او دی په خپله د کتاب په پای کي هسي کاږي:

[1] د مخزن افغاني مقدمه.
[2] د تاريخ افغاني مقدمه.
[3] طبقات اکبري ج ۱۰ _ ص ۴.

etabton.com: The Digital Library

"مصنف اصل این تاریخ شیرشاهی عباس خان سروانی است. چون بعضی مقدمه چنانچه احوال بازیها درو وقایع کرړنیان و مذاکرهٔ نوحانیان و بعضی معرکه ها داخل در این تاریخ نبوده بنا بران نواقص می نمود. دراینولا احقر العباد ابراهیم بیتهنی انرا از تاریخ نظامی که او نیز احوال شیرشاهی و اسلام شاه نوشته است و بعضی مقدمه از کتاب مخزن افغانی که آن نیز از تصنیف نعمت الله سامانی است انتخاب نموده داخل این تاریخ کرده باتمام رسانید ..."[1].

په دې ډول ابراهیم پر تاریخ شیرشاهي تکمله او اضافات لیکلي دي او هغه کتاب یې بشپړ کړی دی. داسي ښکاري چي د شېرشاه او اسلام شاه احوال په خپله عباس کښلي وو ابراهیم پر هغه تاریخ دا لاندیني وقایع اضافه کړه :

١. د عدلي او بازبهادر د پاچهۍ احوال او د کرړانیانو او نوحانیو د تسلط وقایع.

٢. په مالوه کي د بازبهادر سلطنت چي دا پاچا هم د سور له قبیلې څخه دی او ابراهیم یې شرح حال مفصل کښلی دی د کرړانیو احوال په دې فصل کي د تاج خان او عماد خان او نورو پښتنو امراوو احوال د جهانګیر تر عصره راغلي دي. د ابراهیم دغه تکملې د پښتنو د ګمنانو پاچهانو په احوال کي زموږ سره ډېر کومک کوي او ډېر هغه رجال راښیي چي په هغو کي وختو کي یې سلطنت کړی دی.

څکه چي ابراهیم د خپل تاریخ په پای کي جهانګیر ستایي او وایي چي په دغه عصر کي دی په هند کي ژوندی او اوسېدونکی و نو موږ دا ویلای سو چي ابراهیم د جهانګیر معاصر دی او د ده د ژوندانه دوره هم تر (١٠٠٠ هـ) وروسته شروع کېږي. د ابراهیم له لیکه ښکاري چي دی ښه لیکوال او پلټونکی مؤرخ دی، د تاریخ کتب یې ډېر کتلي او استفاده یې څني کړې ده.

(١) د تاریخ شېرشاهي د قلمي تکملې خاتمه.

﴿ ۲۲ ﴾

غلام حسین سلیم د (ریاض السلاطین) لیکوال

په دې نامه سلیم د بنګال د پاچهانو یو تاریخ کښلی دی چي په هغه کي د ډېرو پښتنو پاچهانو ذکر او احوال هم راغلي دي. دغه مؤرخ هم لکه ابراهیم غوندي د پښتنو د څینو نوموړکو رجالو او پاچهانو نمونه او احوال راښکاره کوي چي دوی په بنګال کي حکمراني کړې او د هند په تاریخ کي د نامه خاوندان او مشهور دي. غلام حسین د هند د زید پور و او سلیم د ده تخلص دی، کتاب یې په پارسي د مستر جارج باډلي په نامه په (١٢٠٠ هـ) کښلی دی. یوه مقدمه او څلور روضې لري د بنګال جغرافیا او د ښارو بیان مفصل د کتاب په سر کي لیکي، کتاب یې له هره پلوه مفید او د پښتنو پاچهانو او نوموړکو حکمدارانو د احوال لپاره ډېر غنیمت دی، او څني داسي مباحث لري چي هغه په نورو تاریخو کي لږ موندل کېږي.

دا کتاب په (١٨٩٠ ع) د بنګال د ایشیایي جرګې له خوا د (عبدالحق عابد) په تصحیح چاپ سوی هم دی، مګر له دې جهته دلته ذکر سو چي زموږ د هیواد خلکو ته دغه معلوم نه و او نه په موږ کي شهرت لري.

﴿ ۲۳ ﴾

شیخ ملي د (دفتر) لیکوال

دا سړی د پښتنو یو معروف قاید او لیکوال او مؤرخ دی چي شهرت یې په شیخ ملي سره کړی و. د مؤرخینو په قول د ده د پلار پیرکی وه، اخوند درویزه او افضل خان ختک او نور مؤرخین او هم د خلکو عنعنه دا وایي چي د شیخ ملي نیکونه د کندهار په ارغسان کي اوسېدل او له هغه ځایه دوی د ننګرهار او پېښور لتو ته راغلي دي[1]. هغه پښتانه تر اوسه هم وایي : چي

(١) تاریخ مرصع، تذکره الابرار، حیات.

موږ له غوري مرغې څخه راغلي یو "مرغه" خو هم لوی ځای ؤ چي اوس یې یوه برخه په ارغسان او بله په کدني اړه لري ګویا "مرغه" د کوړک دغره شاوخوا تر ړوبه رسېده.

دغه لښنه مؤرخین د میرزا الغ بېګ په عصر کي ګڼي (۸۱۲ ـ ۸۵۳ هـ) مګر داسي ښکاري چي له قدیمه د پښتنو دغه تګ راتګ شروع ؤ، او ښایي چي دغه هم وروستني لښنه او یون وي. څکه محمد هوتک کښلي دي چي: د کند او زمند اولادو دمخه په لښنه پیل کړی ؤ[1] زما مقصد دلته دا نه دی چي د شیخ ملي شرح مفصل ولیکم خو دلته د یو مؤرخ په حیث د ده پېژندنه مقصد ده چي شیخ ملي د پښتنو احوال او د خپل عصر وقایع او د دوی د راتګ حوادث او د مځکو وېش په یوه کتاپ کي وکښل چي د دغه کتاب نوم (د شیخ ملي دفتر) ؤ، خوشحال خان دا کتاب داسي رانښیي:

په سوات کي دي دوه څیزه که جلي دي که خفي
مـخزن د دروېزه دی یا دفـــتر د شـــیخ ملي

معلومه ده چي د خوشحال خان تر عصره هم دغه کتاب په سوات کي شهرت درلود او د مخزن سره یې په شهرت کي سیالي کوله خو پټ (خفي) ؤ.

د ناروې مشهور مستشرق مارګن سټرن وایي چي: راورټي (مشهور انګلیسي مستشرق) کښلي دي چي شیخ ملي خپل دفتر په (۱۴۱۷ ع ـ ۸۲۰ هـ) وکیښ او دا کتاب ما موندلی دی د پښتو ژبي یو خورا قدیم لیک دی[2] راورټي په پښتو کي یو مدقق سړی دی، دغه نقل هم له ده څخه بالواسطه رارسېدلی دی. محمد عبدالسلام هم د شیخ ملي د دفتر په خصوص کي شرحه لیکي او داسي ښکاري چي ده هم له راورټي څخه استفاده کړېده.[3]

په هر صورت د شیخ ملي د دفتر نسخه اوس ماته معلومه نه ده چي سته که نسته؟ خو دوني ویلای سو چي تقریباً سل کاله دمخه دغه نسخه له

---

[1] پټه خزانه ص ۲۱ قلمي.
[2] د هند د زړو آثارو مجله ۱۹۳۹ ع.
[3] نسب افاغنه ص ۱۱۳.

abton.com: The Digital Library

راورټي څخه وه او په پښتو ژبه یو د پښتنو تاریخ ؤ، چي د یوسفزو د هجرت حال یې پکښي کښلی او د دوی د مځکو وېشونه یې هم پکښي کړي وه، اخوند دروېزه وایي چي تر دغه وخته د شیخ ملي وېش معتبر دی او تر اوسه څوک څه نه سي پکښي کولای[1] او یوسفزي تر اوسه هم ارثي جایداد ته د (شیخ دفتر) وایي.

خلاصه:

شیخ ملي د پښتو یو لیکوال مشر او یو تاریخي سړی ؤ چي مدفن یې په اشنغر کي دی، او د مرګ تاریخ یې تر اوسه ماته نه دی معلوم خو د ژوندانه وخت یې د (۸۰۰ هـ) شاوخوا دی. (وګورئ: زما تاریخ ادبیات پښتو دوهم ټوک دکابل چاپ.)

﴿ ۲۴ ﴾

ګجو خان رانیزی د پښتنو د تاریخ لیکوال

مارګن ستیرن مستشرق لیکي چي راورټي د پښتو ډکشنري په مقدمه کي کښلي دي چي له ده څخه د خان ګجو راني زي یو پښتو تاریخ سته چي په هغه کې د پښتنو تاریخي حوادث او وقایع لیکلي دي.

د دې تاریخي کتاب د لیکني وخت راورټي (۱۴۹۴ م ـ ۹۰۰ هـ) ښوولی دی[2] خو داسي ښکاري چي خَان ګجو خان د شیخ ملي تر عصر وروسته د پښتنو مشر ؤ تر اوسه د دې کتاب په خصوص کي نور څه معلومات له ما څخه نسته خو دوني ویلای سو چي په سوات او اطرافو کي له یوسفزو څخه یو قوم تر اوسه رانیزي پراته دي. د حیات خان په قول تر اوسه له دغو یوسفزو څخه درې کورنۍ مشهوري دي چي یوه یې له دغو درو څخه ازي خېل دي چي ازي د علي زوی او علي بن رانی بن اکو بن یوسف دی. د ازي خیلو دغه مشهوره کورنۍ (کاجوکور) بولي چي پخوا د دوی

---

[1] تذکره الابرار.
[2] د هند د زړو آثارو مجله ص ۵۶۶ ج ۱۱.

نفوذ او اقتدار خورا ارت ؤ مگر اوس په پاسني سوات کي شپږ زره کوره په دوی اړه لري چي د (۱۲۸۰ هـ) په شاوخوا کي د دغي کورنۍ مشر صحبت خان نومېدی، بل ځای حيات خان وايي چي خان کجو د شېرشاه معاصر ؤ[1] چي دغه خبره هم صحيح ښکارېږي نو دغه مشهور کاجو يا کجو خان د پښتنو يو خورا نوميالی مشر ؤ چي لکه شيخ ملي د علم څښتن هم ؤ او د ده يو تاريخي کتاب راورټي ليدلی او موندلی ؤ چي اوس متاسفانه ورک دی او ښايي چي د برطانيا په موزيمو کي پيدا سي ځکه چي د راورټي ټول کړي کتابونه تر ده وروسته نه دي ضايع سوي او اکثر د لندن په موزه خانو کي خوندي دي.

﴿ ۲۵ ﴾

خوشحال خان خټک د (بياض) ليکوال

مرحوم خوشحال خان د پښتنو هغه نوموړی او علامه سردار او مشر شاعر دی چي ښايي داسي پښتون به نه وي چي دی نه پېژني. دا مرحوم د پښتو پلار او د پښتنو يگانه ملي اديب او هم نوموړی ليکوال دی، مگر دا مشهور او معروف مشر تر اوسه د مؤرخ په ډول لږ پېژندل سوی دی.

خوشحال خان د پښتنو مؤرخ هم گڼل کيږي، ده خپل تاريخي مطالب او د پښتنو د تاريخ مهم وقايع په خپل يوه کتاب کي کښلي وو، افضل خان خټک په تاريخ مرصع کي ډېر مقاصد له دغه کتابه رانقل کوي او وايي چي خان عليين مکان په خپل (بياض) کي هسي کښلي دي.[2]

راورټي مستشرق هم هسي ليکي چي خوشحال (تاريخ افغان) ليکلی دی چي اوس ډېر ناياب دی[3] نه پوهېږم چي راورټي هم هغه بياض چي افضل خان يې رانښيي يادوي که يې مقصد يو بل مستقل کتاب دی. په هر

(۱) حيات افغاني ص ۱۷۴ _ ۱۹۰.

(۲) تاريخ مرصع.

(۳) د پښتو گرامر مقدمه.

tabton.com: The Digital Library

صورت خوشحال خان د پښتنو مؤرخ ذی تاريخ افغان يا بياض د ده تاريخي کتاب وي.

﴿ ۲٦ ﴾

حافظ رحمت خان د (خلاصة الانساب) ليکوال

نواب حافظ رحمت خان د شاه عالم خان زوی د محمود خان لمسی د شهاب الدين کوټا بابا کړوسی دی چي اصلاً د کندهار د ښوراوک برېخان دي، شيخ شهاب الدين روحاني سړی ؤ او د پېښور د يوسفزو مرشد ؤ چي تر اوسه يې مزار د سرحدي صوبې په هزاره کي دی. تر ده وروسته يې کورنۍ مشهوره سوه او په بدايون او بريلي کې د پښتنو مشرتوب کاوه او د اعليحضرت احمد شاه بابا رحمه الله په عصر کي د دې کورنۍ مشهور مشر حافظ رحمت خان ؤ، دی عالم فاضل ليکوال او شاعر سړی ؤ او په روهيل کهنډ کې حکمراني درلوده. حافظ رحمت خان د مشهور نواب علي محمد خان افغان ملگری ؤ او دواړه علمي او ادبي خلک وه چي علم يې ښه روزلی، مگر علي محمد په دغه وخت په (۱۱۶۲ هـ) وفات او هغه وخت چي اعليحضرت احمدشاه بابا رحمه الله هند ته ولاړ نو حافظ رحمت خان هر وار له ده سره ښه ښه کومکونه وکړه او د احمدشاه بابا رحمه الله رشتين ملگری او مرستی ؤ، د پاني پت په جگړه کي هم دې نوموړي پښتون د خپل ملگري احمدشاه بابا رحمه الله سره ټينگه ملگري وکړه او په (۱۱۸۸ هـ) کال په يوه جنگ کي شهيد او په بريلي کي ښخ سو.[1]

حافظ رحمت خان عالم، اديب، ليکوال، متديّن او شاعر او مؤرخ سړی ؤ ده يوه مفصله کتب خانه هم درلوده چي دکتور اسپرينگر مشهور مستشرق د هغو کتابو فهرست په (۱۸۵۴ ع) يو جلد نشر کړ او دی وايي چي دا کتابونه څلوېښت صندوقه او اکثر هم پښتو وه لويه برخه يې په

(۱) د حيات حافظ رحمت خان په نامه يو مفصل کتاب سيد الطاف علي بی ای ليکلی او په هند کي په ۱۹۳۳ ع چاپ سوی دی. دا کتاب ډېر مفصل او مستند دی دغه مطالب څني اقتباس سول.

ketabton.com: The Digital Library

(۱۸۵۷ ع) د لکهنو په فساد کي برباد سوه.[۱] حافظ رحمت خان د پښتو او پارسو د شعر دېوان هم درلود، ډار مستېتر وايي چي ددغه دېوان وجود ماته د هند پښتنو په ټينګه ووايه او جان استريچي ليکي چي ماته له هنده څني پارسو غزلي راورسېدې چي هغه د حافظ رحمت خان وې، علاوه پر دغه ډار مستېتر وايي چي ماته په رامپور کي يوه پښتانه د پښتو اشعارو يوه مجموعه راکړه چي د حافظ رحمت خان او نورو پښتنو سردارانو اشعار پکښې وه او دغه مجموعه اوس د برټش موزيم په شرقي آثارو کي ساتلې ده، يو د حافظ رحمت خان شعر په دغه مجموعه کي د حاکمو طبقو غندنه وه[۲] حافظ رحمت خان د پښتنو په تاريخ کي يو کتاب کښلی دی چي خلاصه الانساب نوميږي او د لندن په برټش موزيم او په هند کې نسخې سته.[۳] د دغه کتاب يوه نسخه په پښتو ټولنه کي هم سته او تر لمبر (۱۲۳۴) لاندي خوندي ده.

مؤلف د دې کتاب په ليکنه کي د اخوند درويزه تذکره الابرار او مخزن افغاني خانجهاني، او تاريخ شېرشاهي او نورو کتابو ته حواله کوي. د اعليحضرت احمد شاه بابا رحمه الله دري سفره هند ته يادوي او په ښه نامه يې ستايي. کله کله د خوشحال خان په بيتو هم استناد کوي. کتاب له لومړي مخه تر (۷) حمد و نعت دی، وروسته د خپل نيکه شېخ کوټا بابا تګ هند ته بيانوي او د سړبنو برېڅو انساب ښيي له (۳۴) مخه دوهم فصل او د بېټني د اولاد بيان شروع کيږي په (۳۶) مخ کي دريم فصل او د غرغښت بيان دی نور کتاب تر (۵۶) مخه اخلاقي مضامين او د تسنن په ملتيا خبري اتري دي. دی وايي: چي دغه کتاب ما له دې جهته وليکی، چي د هند پښتانه خپل اصليت هېر نه کړي او د خپلو اجدادو په حال خبر وي.[۴] د کتاب ژبه پارسو ده په عربي جملو او خبرو هم ډېر مشحون دی. راورټي مستشرق د پښتو ګرامر په مقدمه کي دغه کتاب نواب الله يار خان ته منسوبوي چي د حافظ الملک زوی دی مګر دا خبره د دې مستشرق غلطي ده او نه ښايي چي موږ په خطاوزو. د خلاصح الانساب تاليف د ختم تاريخ رجب ۱۱۸۴ ق کال دی چي د حافظ رحمت خان تر شهادت ۱۱۸۸ ق څلور کاله دمخه تاليف سوی وُ چي په (۱۹۷۳ م) کال

(۱) د روهيلو جنګ د جان استريچي.
(۲) د جان استريچي د روهيلو جنګ.
(۳) حيات حافظ ص ۲۹۸.
(۴) له قلمي خلاصه الانساب لنډونه.

پښتو اکاډيمی د ښاغلي روښن خان يوسفزي په همت په (۱۶۳) مخه کي د پښتو ترجمي سره چاپ کی.

﴿ ۲۷ ﴾

نواب مستجاب خان برېڅ د (ګلستان رحمت) ليکوال

د پښتنو برېڅو پاچهانو علمي او نوموړي کورنی څخه د حافظ رحمت خان زوی دی چي د خپل پلار د شهادت پر وخت د (۱۳) کالو وُ په دوشنبې (۲) د شوال (۱۲۴۸ هـ) په بريلي کي وفات او په هغه باغ کي ښخ دی چي دده په نامه ياديږي.

مستجاب خان د خپل پلار په ډول ډېر عالم او متقي مشر وُ په عربي، پارسو او پښتو کي ماهر ليکوال او هم د خپل عصر ښه مورخ دی. د ده له تاريخي آثارو څخه (ګلستان رحمت) دی چي د خپل پلار د ژوندانه احوال او د هند د پښتنو معاصر تاريخ دی. دا کتاب په پارسي ژبه په خورا صحت او روانه ژبه او ښه انشاء کښل سوی او مؤلف خپل مشاهدات او ډېر تارخي وقايع په خورا دقت او تحقيق پکښې ليکلي دي، او قلمي نسخه يې د هند په کتب خانو کي سته.

مستجاب خان اووه زامن درلوده، يو لمسی يې محمد عبدالرزاق خان هم د ډېرو تاليفو خاوند دی او د شعر دېوان هم لري.[۱]

﴿ ۲۸ ﴾

سعادت يارخان برېڅ د (ګل رحمت) ليکوال

دی د حافظ محمديار خان زوی او د حافظ رحمت خان لمسی او له هغې علمي کورنی څخه يو روڼ ستوری دی چي د (۱۲۴۹ هـ) په حدودو کي يې يو کتاب (ګل رحمت) په پارسي وکيښ، د ده شعري تخلص (صاحب) دی

(۱) حيات حافظ رحمت خان ص ۳۴۹.

abton.com: The Digital Library

او په خپل کتاب کي يې د برېښو د کورنۍ احوال او هغه حوادث کښلي دي چي د ده په عصر کي پښتنو ته ورپېښ سول.

دی د خپل عمر په پای کي د بیت الله د زیارت لپاره ولاړ، پر لاري د هند په بروده کي وفات او هم هوري ښخ سو د دې علمي او ادبي کورنۍ مشهور رکن دی. [1]

﴿ ۲۹ ﴾

نیاز احمد (هوش) د (تاریخ روهیل کهند) لیکوال

د نیاز محمد زوی او د حافظ یارمحمد خان لمسی او د حافظ رحمت خان کړوسی او له دغه علمي خاندانه څخه معروف مؤرخ او لیکوال دی چي (هوش) تخلص لري او د ډیرو مؤلفاتو خاوند دی، مثلاً کلیات هوش، ترانهٔ هوش، حدیقهٔ نعت او نور ... په اردو ډېر اشعار لري او د روهیل کهند تاریخ یې هم په اردو کښلی دی چي دغه کتاب هم د هند د پښتنو تاریخ ګڼل کیږي د (۱۲۵۰ هـ) په حدودو کي ژوندی وُ عمر یې په سیاحت تېراوه او د هند په علمي او ادبي جرګو کي شریک وُ. [2]

﴿ ۳۰ ﴾

محمد سلېمان خان "اسد" د (تاریخ افغانستان) لیکوال

محمد سلېمان خان بن محمد موسی خان بن نواب محبت خان بن حافظ رحمت خان متخلص په "اسد" هم د دغي علمي کورنۍ یو ستوری دی چي شاعر هم ادیب هم لیکوال هم وُ. د پښتنو تاریخ یې په اردو کښلی دی چي مشهور په (نقش سلیمانی) یا (تاریخ افغانستان) دی. [3]

---

(1) حیات حافظ ص ۳۲۱.
(2) حیات حافظ ص ۳۲۶.
(3) حیات حافظ ص ۳۱۹.

﴿ ۳۱ ﴾

نواب محبت خان د (ریاض المحبة) لیکوال

نواب محبت خان د حافظ رحمت خان زوی وُ چي د خپل پلار د شهادت پر وخت (۲۴) کلن او ددې کورنۍ یو نوموړی پښتون سردار او امیر دی. دی لکه خپل پلار د علم خاوند او په عربي او پارسو او اردو او پښتو کي شاعر او لیکوال وُ خو متاسفانه د ده اشعار د (۱۸۵۷ م) په اړ و دوړ کي تلف سوه په سنسکریت کي یې هم ډېر مهارت درلود. د ده ځني اردو او پارسي او عربي اشعار تر اوسه محفوظ دي. ده پارسو مثنوی د (اسرار محبت) په نامه کښلې او یوه د پارسو ژبې قاعده او صرف او نحو یې لیکلې چي (امدنامه) نومیږي محبت خان په ۱۳ د صفر (۱۲۲۴ هـ) په لکهنو کي وفات او د وزیر باغ سره کشور کنج ته نژدې ښخ سو. د ده له پارسو اشعارو څخه دغه دي چي استادي یې ځني ښکاري [1]:

گر کشش من اثری داشتی — یار بسویم گذری داشتی
آنکه جهان را به نگه زنده کرد — کاش به ما هم نظری داشتی
زیستمی بی تو اگر مثل تو : — ما در گیتی پسری داشتی
دانهٔ مهر ار بدلش سرزدی — نخل امیدم ثمری داشتی
گر رخت از پرده برون آمد — شام "محبت" سحری داشتی

دا بیت هم د ده دی:

زسرگذشت "محبت" از هر که پرسیدم
به عارض اشک پیاپی چکید و هیچ نگفت

محبت خان ډېر فنان او سلیم الطبع سړی وُ په موسیقي کي یې هم ښه معلومات درلودل داسي ښکلی وُ چي خلک به ورته اریان وو، غلام حسن

---

(1) حیات حافظ ص ۳۱۳.

ketabton.com: The Digital Library

مؤرخ چي د ده معاصر دی داسي ليکلي دي : "ما په خپله د حافظ رحمت خان کورنۍ په لکهنو کي وليدله، محبت خان په صورت او سيرت د سرداري ور دی، خو افسوس چي سفله پروري زمانې دوی اوس په بلا کښي ايستلي دي."(1)

خلاصه : محبت خان د دې کورنۍ نوموړی سردار وُ چي د مغولي وروستني پاچا جهاندارشاه له خوا يې د (نواب ظفر الدوله باز جنګ) لقب درلود. نواب محبت خان يو خورا مهم کتاب په پښتو کښلی دی چي نوم يې د (رياض المحبه) دی، دا کتاب راورټي ليدلی او داسي يې په موږ پېژني چي : "د سرجارج بارلو په خواهښت په (۶ _ ۱۸۰۵ ع _ ۱۲۲۰ هـ) کښلی سوی او (۷۰۰) پاڼي دی چي کوچنۍ صفحې لري د پښتو مهم لغت دي او د افعالو ګردانونه لري."(2) د راورټي له دغه بيانه ښکاري چي رياض المحبت د پښتو يو لغوي او ګرامري کتاب دی مګر يو ځای په خپله راورټي (3) ځني مهم تاريخي مطالب له دغه کتابه رانقل کوي، او داسي معلومېږي چي په دغه کتاب کي محبت خان د پښتنو تاريخ هم کښلی وُ، دغه برخه چي راورټي د دغه کتاب له پښتو مضمونه په انګريزي ترجمه کړې ده، د پښتنو احوال دي د سلطان محمود او غزنويانو په دوره کي او د دې خبري علل يې بيان کړي دي چي په هند کي ولي پښتانه (روهيله) بولي. د حيات حافظ رحمت خان ليکوال چي د دې زمانې پوه سړی دی او په خپل کتاب کي يې د دغه خاندان ټول احوال مفصل کښلي دي فقط دونې وايي : "چي محبت خان يو خورا مفصل قاموس هم کښلی وُ (4) مګر نوم يې ښايي چي نه وُ ور معلوم." (5)

(1) سير المتاء خرين.

(2) د پښتو ګرامر مقدمه.

(3) د پښتو ګرامر مقدمه ص ۱۸ _ ۱۹.

(4) حيات حافظ ص ۳۱۳.

(5) له دې کورنۍ څخه يو بل نوموړی د پښتو مؤلف نواب الله يار خان د حافظ رحمت خان زوی دی چي د عمر پر ۸۱ کال د ۱۲۴۸ هـ د شعبان پر ۹ وفات سوی او يو د پښتو لغت يې کښلی دی چي عجايب اللغات نومېږي، راورټي دا کتاب درلود او وايي چي په (۱۸۰۸ ع _ ۱۲۲۲ هـ) په ۷۴۰ مخه کي کښل سوی او هر مخ يې ۱۷ ليکي دی. دا کتاب ما نه دی ليدلی چي تاريخي مباحث لري او که يوازي لغت دی. نو څکه مي الله يار خان د مؤرخينو په ټولی کي نه وشمېره.

﴿ ۳۲ ﴾

... د تذکره الملوک ليکوال

د تذکره الملوک په خصوص کي فقط مسټر راورټي څه معلومات کښلي دي چي بل ځای څه نسته، دا کتاب لکه چي فقط يو منحصر بفرد نسخه وه او هغه د راورټي لاس ته ورغلې وه د پښتو ګرامر په مقدمه کي لاندېني معلومات ليکي : (تذکره الملوک د سدوزو تاريخ دی اته ټوکه او (۶۴۰) مخه لري، دا کتاب ډېر کمياب دی او زما په خيال به يې په افغانستان کي کمه بله نسخه هم نه وي د کتاب دوه ثلثه هغه وقايع دي چي د احمدشاه ابدالي تر مرګ وروسته واقع سوي دي، دا کتاب په پښتو کښل سوی دی او ليکونکی يې وايي چي دا کتاب فقط زه د سدوزو په تاريخ کي ليکم او له دغو کتابو مي استفاده کړې ده : تاريخ سلاطين سوريه، طبقات اکبري، ائين اکبري، مرآت الافاغنه، د صفوي شاهانو تاريخ، شاهجهان نامه، تاريخ عالمګيري، تاريخ فرخ سيری، تاريخ محمدشاهي، نادر نامه، تاريخ احمدشاهي، رسالهٔ اکبر خدکه. دا کتاب يوه مقدمه او دوه اصله او يوه خاتمه لري او د مضامينو فهرست يې دا دی :

مقدمه : د سدوزو د پلرو او نيکونو بيان.

لمړی اصل : د هغو قبيلو بيان چي په افغانستان کي اوسي.

دا اصل دوې فرعي لري : لومړۍ د هغو کورنيو بيان دی چي پر نورو يې حکومت کړی دی. دوهمه فرعه : د هغو قبيلو بيان دی چي په خپلو مېنو کي پرتي دي.

دوهم اصل : د هغو سدوزو بيان چي خپله مېنه يې پرېښې او په ملتان کي مېشته سوي دي. دا هم پنځه فرعي لري :

لومړۍ فرعه : خان مودود خېل.

دوهمه فرعه : د بهادر خېلو تاريخ.

درېيمه فرعه : د کامران خېلو احوال.

څلورمه فرعه : د زعفران خېلو احوال.

ketabton.com: The Digital Library

پنځمه فرعه : د خواجه خضر خېلو بيان چي دوی سلطان خدکه خپل بلل کيږي.

خاتمه : د خواجه خضر خېلو او د احمدشاه دراني احوال او د ده فتوحات په هند او پنجاب کي [۱] راورټي چي تذکره الملوک ليدلې وه له هغه کتابه څخه يې دغه لوړ معلومات کښلي او هم يې د دغه کتاب مقدمه په انګريزي ترجمه کړېده، داسي معلومېږي چي د دې کتاب د مؤلف نوم په خپله راورټي ته هم نه ؤ معلوم ځکه چي د کتاب ذکر مفصل کوي اما د مؤلف نوم کورټ نه اخلي.

د تذکره الملوک ماخذونه چي مؤلف ذکر کړي دي او هم هغه انګرېزي ترجمه چي د کتاب له مقدمې څخه د راورټي په مشکوره سعی پاته ده موږ ته د مؤلف په خصوص کي داسي فکر راکوي :

د تذکره الملوک مؤلف پوه او عالم او مؤرخ او د پښتو ژبي يو نثر ليکونکی اديب ؤ، ښه مؤرخ ؤ ځکه چي د خپل کتاب ماخذونه يې ثقه ښوولي دي، او د مقدمې مطالب هم غوره او مستند ښکاري (د هغه وخت له تاريخي معلوماتو سره سم) د تذکره الملوک د مؤلف د ژوندانه عصر هم د تيمورشاه زمانه يعنی (۱۲۰۰ هـ) تاکلای سو، ځکه چي راورټي وايي چي د کتاب يوه برخه هغه وقايع دي چي احمدشاه بابا [رحمه الله] تر مړيني وروسته پېښي سوي دي.

د کتاب مقدمه چي راورټي په انګريزي ترجمه کړې ده عمده مطالب يې دغه دي :

د پښتنو د اصليت په باب کي هغه قصې او روايات چي کلاسيکي مؤرخينو ذکر کول (او اوس مدار د اعتبار نه دي) د پښتنو د نومورو او مشاهيرو ذکر دغه بحثونه تدقيقي رنګ لري. او د استفادې وړ دي د پښتنو احوال د کسي په غره کي بيانوي او بيا د ملک ابدال احوال ليکي څو د ملک سدو عصر ته رارسيږي، دلته د سدوزو په خصوص کي خورا ښه او غنيمت مواد ليکي، د دې کورنۍ اقتدار او روابط د هند له لوديانو او

(۱) د پښتو ګرامر مقدمه ۹ _ ۱۰ _ ۱۱ و غيره.

سوريانو سره بيانوي، چي دغه تاريخي څېړني يې ډيري ښې او د استفادې وړ دي.

خلاصه : د تذکره الملوک د مؤلف نوم متاسفانه نه دی رامعلوم او نه يې اوس کتاب موندل کيږي هغه نسخه چي د راورټي څخه وه نه ده رابنکاره چي څه سوه خو تذکره الملوک په پښتو ژبه د پښتنو د تاريخ يو مهم او ګرانبها کتاب ؤ. سلطان محمد قاسم کندهاري هم ليکي چي ده په کندهار کي د سردار محمد علم خان بن سردار رحمت الله خان څخه يو کتاب ومومند چي د سدوزو په پاچهي کي کښل سوی او د دغه عصر حوادث مفصل پکښي راغلي دي.[۱] د دې کتاب نوم سلطان محمد نه ليکي خو د خپل کتاب په مقدمه کي يې (مجموعهٔ ابدالي) بولي، ځکه چي له دغه کتابه د سلطان محمد اقتباس د راورټي له ترجمې سره نژدېوالی لري نو ويلای سو چي دغه کتاب هم هغه تذکره الملوک و. (د هوتکو د وختو تذکره الملوک بل کتاب دی دغه دواړه مه سره ګډوئ.)

﴿ ۳۳ ﴾

خان جهان خان لودي د (مرآت الافاغنه) ليکوال

راورټي دا کتاب د مرآه الافغانيه په نامه د تذکره الملوک په ماخذو کي ذکر کوي او د مؤلف نوم يې نه ښيي [۲] له نورو کتابو څخه معلومېږي چي د کتاب صحيح نوم مرآه الافاغنه دی او مؤلف يې خان جهان لودی ؤ [۳]

د هند له مشهورو پښتنو څخه موږ دوه تنه په دې نامه پېژنو : لومړی خو هغه خان جهان لودی دی چي ذکر يې د مخزن افغاني په تفصيل کي وسو، بل خان جهان لودي هم د سلطان سکندر لودي (۸۹۴ _ ۹۲۳ هـ) له مشهورو امراوو څخه دی چي په دغه وخت کي د لوی وزير حيثيت لري او د راپزي

(۱) تاريخ سلطاني ص ۵۲.
(۲) د پښتو ګرامر مقدمه ص ۸.
(۳) تاريخ سلطاني ص ۵۲ _ ۵۷، خورشيد جهان ص ۸۷ _ ۸۹.

ketabton.com: The Digital Library

جاگیردار دی [1] د نعمت الله په قول خان جهان لودي په (۹۰۱ هـ) وفات سوی او تر ده وروسته یې زوی احمد خان د (اعظم همایون) په خطاب سرلوړی سوی وو. [2] دا پښتون سردار لکه چي عالم او لیکوال او مؤرخ تېر سوی دی چي مرآه الافاغنه د ده تاریخي اثر دی او داسي ښکاري چي د پښتنو د پاچهانو چي په هند کي تېر سوي دي او مخصوصاً د سلطان سکندر لودي احوال یې مفصل کښلي وو، ځکه چي د کتاب نسخه نه ده لیدلی سوې او لوړ روایات هم پوره کفایت نه کوي، نو د مرآه الافاغنه انتساب هم دغه خان جهان لودي ته زما په عقیده سل په سل کي مثبت دی، شل کاله دمخه ما د دغه کتاب یوه خطي نسخه د ښکارپور په ګړي یاسین کي ولیدله چي د خان جهان په نامه وه مګر کوم خان جهان؟ او د کوم وخت؟

﴿ ۳۴ ﴾

منشي عبدالکریم د (تاریخ احمد) لیکوال

د دې کتاب نسخه له قاري عبدالله خان سره وه نه پوهېږم چي څه سوه؟ دا کتاب د پښتنو د سلطنت مفصل تاریخ دی چي منشي عبدالکریم د شجاع الملک سدوزي په وخت کي کښلی دی ژبه یې پارسو ده.

منشي عبدالکریم علوی مدقق او پوه مؤرخ دی د نادر افشار احوال او د احمدشاه بابا رحمه الله د سلطنت وقایع یې خورا مفصل کښلي دي او داسي ښکاري چي د دې تاریخ په لیکنه کي هم مقصد د دغه عصر حوادث وه او د احمدشاه بابا رحمه الله په نامه یې بللی دی، دا کتاب په اردو هم ترجمه سوی او د (واقعات درانی) په نامه په کانپور کي په (۱۲۹۲) چاپ سوی دی. فیض محمد یې هم په خپلو ماخذو کي ذکر کوي. د افغانستان په تاریخ کي ډېر قیمتي معلومات لري او له مهمو مراجعو څخه ګڼل کیږي. د دغه عبدالکریم په نامه ما دوه چاپي کتابونه لیدلي دي :

---

[1] خورشید ص ۸۹.

[2] مخزن افغاني ص ۷۶.

۱. تاریخ احمد یعني محاربات سلاطین درانیه باسکهان وبهاؤ و جهنکو طبع لکهنو ۱۲۶۵ هـ.
۲. محاربهٔ قندهار : مصنفهٔ عبدالکریم طبع لکهنو (۱۸۴۸ م) کانپور (۱۲۶۷ ق) دی د ډېرو کتابو مترجمو، تر (۱۲۹۲ ق) دمخه مړ دی.

﴿ ۳۵ ﴾

اکبر د یوې تاریخي رسالې لیکوال

دا رساله راورتي د تذکره الملوک په ماخذو کي راوړي او وایي چي د تذکرې خاوند له (رسالهٔ اکبر خدکه) استفاده کړې ده، داسي معلومیږي چي اکبر نومی پښتون یوه تاریخي رساله درلوده چي د تذکره الملوک د څښتن په لاس کي وه [1] خدکه راورتي په لاتیني حروفو داسي ضبطوي **khadkah** او لکه چي دمخه د تذکره الملوک په بیان کي وویل سوه د سدو یو زوی خواجه خضر چي احمدشاه بابا رحمه الله هم د ده له نسله دی اولاد یې په (سلطان خدکه) مشهور دی دې تسمیي وجه حیات خان او سلطان محمد او نور مؤرخین هسي کاږي چي د خضر خان زوی سلطان خداداد نومېدی او دغه سړی په خپل عصر کي ډېر مقتدر مشر و پښتانه لکه چي هر نوم د اعزازو لپاره تصغیر کوي دی یې (سلطان خدکی یا خدکه) باله نو په سدوزو کي هم د خواجه خضر اولاد چي سلطان خودکي ته منسوب دي ټوله خودکي بولي [2]. په هر صورت اکبر د دغي طایفې څخه یو مؤرخ دی چي رساله یې د تذکره الملوک د خاوند په لاس کي وه.

---

[1] د پښتو ګرامر مقدمه.

[2] حیات او سلطاني.

ketabton.com: The Digital Library

﴿ ٣٦ ﴾

... د (نادرنامې) ناظم

د دې مؤرخ نوم نه دی راته معلوم، خو دوني ويلای سم چي دی اصلاً د خراسان و او د ده نيکه قاسمي شاعر دی، چي د مشهور مستشرق پروفيسور براون انګليس په قول يې د فردوسي د شهنامې په ډول اشعار ويلي او قلمي نسخه يې د انګلستان د کيمبرج په دارالفنون کي سته.[1]

د نادرنامې ناظم د قاسمي شاعر لمسی او د احمدشاه بابا معاصر دی چي يو کتاب يې د (نادرنامې) په نامه د خراساني نادر افشار په شرح حال کي په (١٧) زره بيته د حسين خان فراهي په امر منظوم کړی دی چي دغه حسين خان د احمدشاه بابا ﵀ له خوا د خراسان حاکم وو. دا کتاب د اعليحضرت احمدشاه بابا ﵀ په نامه د (١١٧٢ هـ) د لومړی خور په مياشت پای ته رسېدلی دی.[2]

د نادرنامې ناظم د هوتکو د سلطنت او داحمدشاه بابا ﵀ د نيکونو احوال مفصل ليکي او بيا د احمدشاه بابا ﵀ د حيات ډېر وقايع ذکر کوي. د دې کتاب يوه قلمي نسخه کي زما څخه وه د بلي نسخې درک نه لرم، پارسو شعر يې خوږ او د قدر وړ دی.

﴿ ٣٧ ﴾

... د (سلطان اويس) د تاريخ ليکوال

نه د دغه کتاب وجود له بله ځايه رامعلوم دی او نه يې مؤلف پېژنم خو دوني راته ښکاره ده چي د مرحوم حاجي ميرويس خان هوتک ﵀ په احوال کي په لوړ نامه يو کتاب په عربي چا ليکلی دی، شېرمحمد مؤرخ تصريح

(١) د براون د پارسو ادب تاريخ.

(٢) قلمي نادرنامه.

کوي چي په دغه کتاب کي د حاجي ميرويس خان ﵀ او د ده د ورور عبدالعزيز د عهد وقايع مفصلاً راغلي دي[1] خو افسوس نه دی د دغه کتاب بيان ليکي او نه له بل چا څخه ما د دغه کتاب په باب کي څه اروېدلي او ليدلي دي نو په خپله د کتاب وجود هم محل د تامل دی ځکه چي په دغه عصر کي عربي کتاب ليکل له رواجه لوېدلي وه او هم معاصرينو لکه محمد هوتک د دغه هيڅ ذکر نه دی کړی.

﴿ ٣٨ ﴾

ميا عمر څمکني د (شجرهٔ نسب افغانان) ليکوال

محمد عمر د ابراهيم زوی چي اصلاً د باجوړ د ميا کلي وو، وروسته د پېښور په څمکني کلي کي ميشت او هم دلې په ٢٩ جمادي الثانيه ١١٩٠ ق وفات سو، دی د روحاني او علمي لوړ شخصيت خاوند او د اټک د شېخ يحيی څخه په نقشبندي طريقه کي ماذون وو احمدشاه ابدالي ﵀ د ده له متعقدانو څخه وو او په زرو نور ارادتمندان يې هم لرل په عربي او دري او پښتو ډېر آثار لري لکه مالي شرح، قصيده امالي په دري ٩٣٨ مخه او توضيح المعاني په پښتو د خلاصهٔ کيداني شرح او پښتو شمايل نامه چي په (١١٦٣ ق کال) منظومه کړې ده. د ده بل کتاب شجرهٔ نسب افغانان و غيره يو تاريخي اثر دی، چي ما ددغو کتابو خطي نسخې د پېښور د بالامانۍ د مرحوم فضل صمداني په کتابخانه کي ليدلي وې. ميرزا هادي عشرت د احمدشاه ﵀ د دربار منشي د ده د وفات تاريخ داسي ويلی دی:

تاريخ وفات سر اقطاب زمان
رهنمون شد خرد از لطف بمن گفتاقم
اربيرون بحساب جملش تادانی
(عددی بيست نهم شهر جمادی دوم)

د وروستنۍ مصراع ابجدي ارزښت (١٢٦٨) دی که عدد (ـ ٧٨) څني کم کو (١١٩٠ ق) پاتېږي.

(١) خورشيد ص ١٣٢.

ketabton.com: The Digital Library

﴾ ۳۹ ﴿

محمد د (پټې خزانې) ليکوال

لکه چي دمخه تاسي ولوستل پټه خزانه د پښتنو د ادب او رجالو او هم د ښارو مهم تاريخ دی چي د شاه حسين هوتک په عصر کي د شوال په (۲۴) هجري کال (۱۱۴۲ هـ) يې ليکل پای ته رسېدلي دي.

محمد هوتک د پښتو مدقق مؤرخ او د پښتو ژبي نوموړی ليکوال او شاعر دی چي خپل کتاب يې د هغه معارف پالونکي پاچا په نامه کښلی دی.

خوشبختانه محمد هوتک د کتاب په پای کي د خپلي کورنۍ احوال هم ليکي، په دې ځای کي زما لپاره ډېر غنيمت دی او لنډوم يې:

"محمد د داؤد خان زوی د قادر خان لمسی په قوم هوتک چي اصلاً په مرغه کي اوسېدل او قادر خان له هغه ځايه سيوري ته راغلی وو له دغه ځايه يې يون وکړ او د کندهار کوکران ته راغی، په سن د (۷۶) کالو کي په (۱۰۵۸ هـ) وفات او هلته ښخ سو اما داؤد خان د مؤلف پلار په (۱۰۲۹ هـ) کال په کوکران کي وزېږېد او په صباوت کي يې علوم ولوستل شاعر او عالم سړی سو. داؤد خان په ږوب او د کسي په غره او پېښور کي سياحتونه وکړل او د حاجي ميرويس خان مرحوم رحمه‌الله سره د آزادۍ غوښتلو په جګړه کي ملګری وو، په (۱۱۲۶ هـ) داؤد خان د حاجي ميرويس خان رحمه‌الله له خوا په فراه او سيستان او ګلستان کي د پښتنو د سپه سالار په ډول مقرر وو او هلته يې د متجاوز پردو لښکرو سره جګړې کولې. داؤد خان په (۱۱۳۶ هـ) وفات او په کوکران کي ښخ سو. د ده د ادب او علم د نمونې په ډول دغه دوې رباعی وګورئ چي د تجنيس په صنعت کې ځوني قيمت لري:

چي د چا په زړه کي اور د مـيني بل سي
په اور بل يې لمبې ګډې حال يې بل سي
اور د مـــــيني کله مري د زړه له ميني
د اور بل مـــينه که تل د زړه په تل سي

که يې ويني ويني تل ځاځي له زړو څخه
ځوک چي ويني تا له خوانو يا زړو څخه
د زړو له زړه که ويني ويني ځــــــاځي
په کړو د غم لوېدلي ستا له کـــړو څخه

اما په خپله محمد د پټې خزانې ليکوال په (۱۳) د رجب (۱۰۸۴ هـ) په کوکران کي وزېږېدی، او تر اتلسم کاله يې مروجه علوم لکه: فقه، تفسير، اصول او د فصاحت علوم لکه: قافيه، عروض، بيان، معاني او نور ولوستل ځکه چي د پلار او نيکه ښه مناسبات يې د هوتکو د شاهي کورنۍ سره وو نو د شاه حسين په امر کندهار ته راغی، او هر کله به د دغه زلمي پاچا په دربار کي وْ او د حضور ادبي ليکوال وْ هغه ادبي او علمي مجلسونه چي د دغه پوهنوال پاچا په دربار کي به هر کله کېده يو رکن يې محمد وْ، دی په پټه خزانه کي د دغو ادبي مجلسو او تولنو حال ښه ليکي. محمد بې له پټې خزانې يو بل کتاب (خلاصه الفصاحه) هم په پښتو کښلی چي د فصاحت علوم يې پکښې راوړي دي، بل علمي پښتو اثر يې (خلاصه الطب) دی چي په (۱۱۳۹ هـ) کال يې د هغه زلمي پاچا حضور ته وړاندي کی او سل طلاوي يې جايزه ومونده. محمد د شعر ديوان هم لري دغه څو بيتونه د ده دي:

ساقي پاځه د سرو ملو ډک يو جـــــام را
ستـــــــــــا له غمه ناآرام يمه آرام را
نه نشاط سته نه مستي سته نه رندي سته
چي ســم رند هــغه اوبه عـلى الـدوام را
په اوبو مي سوړ زړګــی لږ څه را تود که[1]
"محمـــــد" ته دداور ډک يو هسي جام را

پټه خزانه څو واره په کابل کي چاپ سوې ده:

۱. ۱۳۲۳ ش ـ پښتو تولنه
۲. ۱۳۳۹ ش ـ تاليف او ترجمه
۳. ۱۳۵۴ ش ـ اطلاعات او کلتور
۴. ۱۳۵۷ ش ـ د ادب پوهنځی

[1] پټه خزانه ۱۰۷ ـ ۱۰۸ ـ ۱۰۹ ـ ۱۱۰ ـ ۱۱۱ د قلمي نسخې.

...etabton.com: The Digital Library

﴿ ۴۰ ﴾

ريدی خان مهمند د (محمودنامې) ناظم

ريدی خان مهمند د غياث خان زوی او د مسعود خان لمسی دی چي پلرونه يې د کندهار شرقي خوا د مهمندو په کلي کي اوسېدل، غياث خان د مرحوم حاجي ميرويس خان رحمه الله ملگری ؤ او په خپله ريدی خان د محمد هوتک معاصر دی په (۱۱۳۶ هـ) اصفهان ته ولاړ او هلته د اعليحضرت شاه محمود بريالي سره وو له هغه ځايه چي راغی، د هغه اعليحضرت د فتوحاتو په احوال کي (محمود نامه) نظم کړه چي څلور زره بيته وه.[1]

داسي ښکاري چي ريدي خان په دغه خپل کتاب کي د مرحوم حاجي ميرويس خان رحمه الله د ملي نهضته رانيولې بيا د اصفهان تر فتح پوري ټوله وقايع په پښتو خواږه مثنوي نظم کړي دي.

محمد هوتک په پټه خزانه کي له دغه کتابه يو باب رانقل کوي چي د حاجي ميرويس خان رحمه الله د ملي مجاهدت او د گرگين د وژلو قصې دي.

﴿ ۴۱ ﴾

د صولت افغاني ليکوال محمد زردار خان ناغر

دا مؤلف د نولسمي سدۍ په منځ کي له هغو افغانانو څخه و چي په هند کي يې ځای او جايگير درلود. ده په اردو ژبه د پښتنو پر تاريخ باندي صولت افغاني وکيښ چي په ۱۸۷۶ ميلادي کي چاپ سو. دا کتاب خصوصاً د هندي افغانانو له مشاهيرو او غټو کورنيو او قبيلو چي په هند کي ميشته سوي دي غوره معلومات راکوي. ناغر کاکړان چي په هند کي يې نسلونه پاته دي ښه راښيي، او هغه سياسي اقدامات چي د انگرېزي استعمار په وختو کي د پښتنو آزادو قبيلو او د افغانستان په خاورو کي د

(۱) پټه خزانه قلمي ص ۷۱.

انگرېزانو په گټه سوي دي بيانوي او گرده معاهدې ليکي چي انگرېزانو په زوره په قبايلي مشرانو يا د افغانستان په حکمرانانو امضاء کړي وې.

﴿ ۴۲ ﴾

افضل خان خټک د (تاريخ مرصع) ليکوال

دا مؤرخ د اشرف خان زوی او د خوشحال خان لمسی دی ځکه چي ما يې په پښتانه شعراء لومړي جلد (ص ۲۲۸) کي مفصل حال کښلی دی نو دلته يې تکرار ضرورت نه لري. تاريخ مرصع هم ده په پښتو کښلی دی، د پښتنو او د خوشحال خان د کورنۍ په باب ښې خبري لري خو هيوز انگليس ليکي چي دغه يو عمومي تاريخ دی د پښتنو او مخصوصاً خټکو احوال پکښي ذکر کېږي او اکثر مطالب يې له مخزن افغاني او دروېزه څخه اقتباس سوي دي. هيوز دا هم وايي چي د تاريخ مرصع اصلي نسخه د افضل خان په لاس کي ده چي په جمال گړۍ کي اوسي، دوې نوري نسخې يې هم سته چي يوه په ما اړه لري.[1] راورتي په گلشن روه او هيوز په کليد افغاني کي له تاريخ مرصع څخه يو يو باب چاپ کړی دی. (دا هغه معلومات و چي ما ۳۷ کاله پخوا کښلي وو) اوس دا پر زياتوم : دا کتاب په ۱۴۹۴ مخو کي د ښاغلي دوست محمد کامل مومند له نوټونو سره په ۱۹۷۴ م کال له پېښوره چاپ او خپور سو. چي اصلي متن يې ۶۲۴ مخه دی او د خوشحال خان له بياضه هم دېرش مخه مفيد مطالب رانقل سوي دي په تاريخ مرصع کي وقايع د ۱۱۳۶ ق کال تر پايه ليکل سوي او د مؤلف وفات يې ۱۱۸۳ ق دی. (د تفصيل لپاره وگورئ د چاپي تاريخ مرصع مقدمه)

(۱) د هيوز د کليد افغاني مقدمه.

ketabton.com: The Digital Library

﴿ ۴۳ ﴾

میرزا عطامحمد ښکارپوري د (نوای معارک) لیکوال

د پښتو ټولنې په کتابخانه کې په لمبر (۶۴۴) یو کتاب سته چې دا کتاب پر شنه پخواني کاغذ کښل سوی او تقطیع یې (۱۱/۵ × ۶) انچ دی. په هر مخ کې (۱۴) لیکې او ټوله (۴۶۰) مخه دی. خط یې د شکست او نستعلیق تر منځ او ښه نه دی. د مؤلف او کتاب نوم ښکاره نه معلومېږي پارسي انشا یې هم تکلف ته مایله ده.

کتاب په حمد او نعت شروع کوي وروسته وایي زه په زلمیتوب په ښکارپور کې وم او بیا مې د خراسان، هرات، کندهار، کابل، پېښور سفر وکړ، او د شاه شجاع د جګړو وقایع مې په سترګو ولیدل نو وروسته مې د ایسټویک انګلیس په خواهښت دا کتاب وکیښ.[1]

مؤلف خپل تاریخ د نادر افشار له مرګه شروع کوي بیا د احمدشاه بابا او تیمور شاه او شاه زمان او شاه محمود ذکر مختصر کوي. وروسته د شاه شجاع او محمدزو د سلطنت ابتدایي وقایع مفصل شروع کوي د وزیر فتح خان او د ده د ورونو تسلط بیانوي د کابل، کندهار، پېښور او ټوله افغانستان د دغه عصر وقایع مفصل راوړي، د انګلیسانو د لومړي جنګ ذکر هم خورا مفصل کوي. داسې ښکاري چې مؤلف خپله نسخه په (۲۵) د جمادی الثانی (۱۲۷۱ هـ) تمامه کړې ده او دغه موجوده نسخه هم په (۶) د روژې (۱۲۷۱ هـ) لیکلې سوې ده. د کتاب د پای لیک داسې دی: "بقلم حقیر پر تقصیر میرزا محمد حسن خلف مولانا میرزا عطامحمد". له دې لیکه د مؤلف د نامه په خصوص کې یو استنباط کولای سو چې د مؤلف نوم میرزا عطامحمد و، ځکه چې د کتاب په پای کې څو ځایه د (عطا) په نامه تلمیح کوي مثلاً: "با تمام این نسخه موسومه تازه نوائی معارک پرداخته شد ... امید از اهنگ نوازان ساز ... اگر فقط به نقد تحسین و آفرین متاع

(۱) له قلمي نسخې څخه ص ۱ تر ۱۱.

هنرم را بخرند عین عطائی بر عطاست و الا بزبان عیب جوئی و نخوت نام عطا بخطا نبرده معاف دارند ... هر گاه از راه لطف و عطائی به مطالعه این نسخه پردازند ..."

له دغه بیانه سړی داسې تخمین کولای سي چې میرزا محمد حسن د دغې نسخې لیکونکی د مولف میرزا عطامحمد زوی و، ځکه د تالیف د ختم او د دغې نسخې د لیکلو تر منځ فقط دوې میاشتې فاصله ده. متاسفانه د دغې نسخې یو څو پاڼې پرې سوې او ناقصې دي چې له دغو څخه یو څو پاڼې په بل خط بیا تکمیل سوي دي او داسې ښکاري چې د کتاب بله نسخه هم موجوده وه. دغه کتاب وروسته ما په کراچۍ کې له څو خطي نسخو څخه ترتیب او چاپ کی. (کراچي سندھ ادبي بورد ۱۹۵۹ م) دغه میرزا عطامحمد د عبدالرحیم لمسی او د ښکارپور له ممتازې علمي کورنۍ څخه یو منشي و چې په کلو کلو یې په کندهار او هرات کې د افغاني دربار منشي توب لاره او تر ۱۲۷۲ ق پورې لا ژوندی و. په (۱۲۲۵ ق) د خپل اکا سره چې په کابل کې د سنده سفیر و کابل ته راغلی و. د دې کتاب د کراچي چاپ مصور او ۱۱۱۵ مخه دی.

﴿ ۴۴ ﴾

حاجي محمد عارف قندهاری د (مطلع او مقطع) لیکوال

حاجي محمد عارف د قندهار دی او د یوه خورا مفصل تاریخ لیکونکی دی چې لومړی ټوک یې (مطلع) نومیږي او بل یې (مقطع). محمدعارف په کندهار کې د بیرم خان میرسامان و.[1] او د هغه سړي سره یې تر مرګه ملګري درلوده. هند ته ورسره ولاړ چې بیرم خان ووژل سو نو عارف له کجراته حجاز ته ولاړ له حج وروسته تر (۹۸۵ هـ) د مظفر خان سره و، په (۹۸۶ هـ) د اکبر پاچا دربار ته ولاړ او د پنجاب په دیواني مقرر سو. مګر ژر یې استعفا وکړه او د مظفرخان سره په ټانده کې اوسېدی. په (۹۸۸

(۱) مآثر رحیمي ج ۲ ص ۱ _ ۸.

ketabton.com: The Digital Library

هـ) په دغه ځای کي د مظفرخان سره يو ځای ووژل سو. محمد قاسم فرشته د ده له کتابه ډېر مطالب رانقل کوي[۱] او داسي ښکاري چي نسخه يې د ده کتب خانه کي ده د دې نسخي لومړنۍ او وروستنۍ پاڼي نسته خو خوشبختانه دغه ناقصي پاڼي د انګلستان د کيمبرج په کتبخانه کي خوندي دي. په (مطلع) کي د همايون د عصر حوادث ضبط وو او په (مقطع) کي د سلطان محمود له عصره بيا تر (۹۸۶ هـ) پوري د هند د ټولو پاچهانو او د پښتنو د سلطنت احوال کښلي دي. نو حاجي عارف کندهاري پوه پښتون مؤرخ دی چي په هند کي يې خپل کتب ليکلي دي . دی شاعر هم و امين زاري يې دغه دوه بيتونه ضبط کړي دي :

صد ارزو است در دل تنگم گره زدوست
دل نيست در برم گـــــره آرزوی اوست
ای بسا توبه که چون توبه ديرينه من [۲]
خوبرويان بشکنند بيـــک چشم زدن

د حاجي عارف د (مطلع) درک اوس نسته او دغه کتاب ورک دی.

﴿ ۴۵ ﴾

سلطان محمد خالص د (تاريخ سلطاني) ليکوال

سلطان محمد په نوموړکو تاريخ ليکونکو کي نه راځي، ځکه چي د ده کتاب چاپ سوی او مشهور دی مګر له دې جهته چي څوک د ده په احوال نه دي خبر نو يې شهرت هم کم دی، زه لاندېني معلومات د دې مؤرخ په خصوص کي لرم : "سلطان محمد خان د موسی خان زوی په قوم نصرت زی بارکزی د کندهار له پوهانو څخه و، چي په شعر کي يې خالص تخلص کاوه، ده خپل تحصيلات په کندهار کي وکړل او په پارسو کي ښه ليکوال او منشي سو. د امير شېرعليخان په دوره کي د کندهار له مشهورو خوانينو څخه و او

[۱] فرشته مقالهٔ ۴ _ ۷ _ ۹.
[۲] هفت اقليم.

ډېر عمر يې په کلات کي حکمراني کړله، هغه وخت چي غازي محمد ايوب خان په کندهار کي پاچا سو، دی يې ملګری و او د ميوند په جهاد کي يې هم برخه درلوده، د (۱۲۹۷ هـ) د روژې تر مياشتي وروسته چي غازي محمد ايوبخان له کندهاره ايران ته ولاړ، نو د ده ملګري هم سره ېېل سول او سلطان محمد خان مرحوم کراچي ته ولاړ او هورې اوسېد ، ده په کندهار کي لا يو مفصل تاريخ کښلی و چي تاريخ سلطاني نومېد ، لومړی جلد يې په (۱۲۹۸ هـ) په بمبيي کي په خپله طبع کړ دا جلد تر (۱۲۷۹ هـ) پوري له ابتداء څخه د پښتنو احوال لري او هم وقايع په خورا ښه صورت ليکي، د سلطان محمد د تاريخ دوهم ټوک چي د ده د عصر وقايع او هم مشاهدات وو ده ليکلي او هم چاپ سوي دي چي د هغه نسخې متاسفانه د امير عبدالرحمن خان په وخت کي ضايع کړلي سوې او اوس نه ميندلي کيږي، مګر له پخوانو خلکو څخه روايت دی چي له هغه کتابه يو څو نسخې پاته سوي او ضايع سوي نه دي د تاريخ سلطاني د دوهم جلد که کمه نسخه اوس وميندله سي د وطن د تاريخ لپاره به ډېر غنيمت وي.

سلطان محمد په زيارت د بيت الله شريف هم مشرف سوی و او پسله (۱۳۰۰ هـ ق) غالباً له کراچي څخه تللی او د هغه عصر د تورکيې په عربي مملکتو لکه : شام، عراق او نورو ... ګرزېدلی او هم هورې وفات سوی دی. خالص يو د پارسو شعر دېوان هم درلودی چي د ده تر مرګ وروسته محمدابراهيم او د ده زوی هغه اشعار سره ټول کړي وو ، له دغه کتابه فقط لومړنۍ درې پاڼي زما څخه وې، ابراهيم ليکي : زما پلار چي بيت الله ته ولاړ بيا يې احوال معلوم نه سو څو کاله وروسته د سلطان محمد خان ورور حاجي جان محمد کندهار ته راغی او وې ويل چي حاجي سلطان محمد په تورکو کي وفات سو ، ابرهيم وايي: چي د پلار ډېر اشعار او منشور ليکونه زما څخه وو ، هغه مي سره ټول کړل او د (دېوان خالص) په نامه مي وبلل.[۱] ما (حبيبي) د خپلي کورنۍ له لويانو څخه (خدای ﷻ دې وبخښي) اروېدلي وو چي سلطان محمد خان عالم او خورا پوه ليکوال و ، په کندهار کي به هر

[۱] د تاريخ سلطاني مقدمه او د دېوان خالص لومړنۍ قلمي پاڼي.

ketabton.com: The Digital Library

کله له پوهانو او علماوو سره محشور و، او د مشهور حبو اخوندزاده له زوی عبدالرحیم اخندزاده څخه یې استفاده او لوست کړی و، او د هغه ملګری هم و، چې له کندهاره فرار سو نو هم د مولوی عبدالرحیم اخندزاده د زوی مرحوم عبدالروف خان سره یو ځای کاکړستان ته ولاړ.

دا دوه بیته د ده له یوه مناجاته را اخیستل کیږي[1]:

اگر فضیلت نگردد دستگیرم
زشر نفس خود در دم بمیرم
زشر نفس و شیطان ده امانم
مگر دان جز بذکر خود زبانم

﴿۴۶﴾

قاسم علي خان د (محاربهٔ کابل) ناظم

دا سړی د هند دی، په (۱۲۶۰ هـ) یې د (محاربهٔ کابل) په نامه د فردوسي د شهنامې په وزن یو کتاب تخمیناً په نه زره بیته کي نظم کړی دی دا کتاب د فیض محمد له ماخذو څخه دی. چې د سراج التواریخ په کښلو کې استفاده ځنې کړې ده. قاسم علي د شاه شجاع له عصره خپل تاریخ شروع کوي. د افغانستان د اړو دوړ او انقلاب حوادث او د پردو د حملو او جګړو وقایع په کندهار او کابل کي څرګندوي. که څه هم دا کتاب د متجاویزینو په طرفداري کښل سوی دی خو بیا هم د وطن د تاریخ د دغي دورې لپاره بد نه دی، او استفاده ځنې کېدای سي. د کتاب ادبي جنبه او شعر خوږ او روان دی په (۱۲۷۲ هـ) د اګرې په لیماني مطبعه کي چاپ سوی دی. مګر نسخې یې اوس لکه قلمي کتابونه ډېري نه میندلي کیږي او دغه کتاب هم لږ خلک پېژني، مؤلف د کتاب په سر کي لیکي: چې زه د سند په

(۱) د دیوان خالص قلمي پاني.

سفر ولاړم چي راغلم خلکو د سفر معلومات راځخه غوښتل ما هم نظم کړل د نمونې په ډول د کتاب د پای څو بیتونه ولولئ:

ستایش به یزدان که این نامه ام
سراپا برار است از خامه ام
مگر جان فردوسی پاک زاد
ز فردوس در قالبم رونهاد
که زان همت این نامه را گفته ام
سخن همچو سلک گهر سفته ام
بدریای معنی شدم غوطه خور[1]
بسه سال اندوختم این گهر

﴿۴۷﴾

رساله نسب نامه فرقه غلجي

دا رساله میا عبدالحکیم کاکړ لیکلې ده، چي دی د ۱۱۴۵ ق په شاوخوا کي د کندهار د خلکو لوی لارښوونکی او د میا فقیرالله جلال آبادي مرید او معاصر و (۱۰۷۰ _ ۱۱۵۳ ق) دا عالم او متصوف مشهور سړی د ډېر نور تالیفونه هم لري او مرقد یې د کاکړو د لورلائي په تل چوټیالي کي دی.

میا عبدالحکیم پسله ۱۱۵۰ ق یوه رساله د پښتنو د قبیلو او لنډ تاریخ په باب کي په دري ژبه وکښله، چي اوس یې یوه خطي نسخه ماته پرته ده. دا د پښتنو یوه لنډه تاریخچه ده چي لومړي فصلونه یې د غلجو نسب نامه او د دوی د پاچهانو او مشرانو احوال بیانوي لکه: د توخو مشران، سلطان ملخي او حاجي ایدل او د هوتکو مشران حاجي میرویس او شاه محمود او شاه اشرف او شاه حسین د نادر افشار تر حملې پورې.

(۱) له محاربهٔ کابل څخه.

ketabton.com: The Digital Library

نور فصلونه د لودي اولاد او په هندوستان کي د پښتنو شاهانو او د سوريانو او د شېرشاه احوال په لنډ ډول بيانوي.

د دغي رسالې په پای کي داسي کښلي دي: مؤلف رساله ملا عبدالحکيم کاکری است بموجب ارشاد عمهٔ زمان ... محب العلماء جناب عبدالعزيز خان غلجی توخی محمدزی برهان خيل که از کندهار بقصد سپه گری بهندوستان امده بود و به رتبه اميری رسيده و چند گاه نائب دار السلطنته لار (؟) بود ... و هر افغان که از ولايت بهندوستان امدی از نوازش او محروم نرفتي ..."

د ميا عبدالحکيم دغه رساله که څه هم کوچنوټې ده خو حاوي او مفيده ښکاري.

﴿ ۴۸ ﴾

روزنامهٔ غزوات هندوستان

دا کتاب د امير تېمور کورګان د فتوحاتو بيان دی، تر هغه وخته چي دی په ۸۰۱ ق کال هندوستان نيسي. مؤلف يې غياث الدين علی بن جمال الاسلام دی چي په فارسي ژبه يې دا لنډ کتابګوټی کښلی و.

د افغانستان او پښتنو په تاريخ کي دا کتاب له دې جهته ګټه ور دی چي د امير تېمور سفر او جنګونه له هراته تر کابله او اباسينه رانېسي، او په اوسني پختيا ولايت کي د پښتنو مشرانو نومونه او قبيلې او جغرافي ځايونه هم ذکر کوي.

د دې کتاب يوه خطي نسخه چي په ۱۰۱۵ ق کال کښلې سوې وه په پتروګراد کي وه او يوه روسي محقق ليوز يين تصحيح کړه چي بيا نو ۲۱۲ مخه متن او ۲۰ مخه فهرستونه له يوې روسي مقدمې سره واسيلي بارتولد د پتروګراد د دار العلوم په مطبعه کي چاپ کړه ۱۹۱۵ م.

﴿ ۴۹ ﴾

ائمهٔ الافاغنه

امير افضل جدون د لاهور په هفته وارسيف ۷ سپتمبر ۱۹۹۵ م کال ليکي : ملا خانمير يوه چارمقاله لري، چي په ۱۱۵۵ ق تاليف سوې ده، او دی له بله عربي کتابه ډېر مطالب رانقل کوي. چي هغه کتاب ائمه الافاغنه دی او مؤلف يې ابو الخطيب شيرازي نوميږي چي په ۵۳۵ ق کال مړ دی.

دا کتاب هم په فارسي او هم په پښتو ترجمه سوی دی چي سيد عبدالجبارشاه د سوات معزول امير يې دواړي نسخې درلودې. فارسي مترجم يې محمدجواهر خان سواتی و. چي دغه نسخه يې امير افضلجدون ليدلي وه، او مستر التيرا امريکايي په پښتو ګايډ کي ليکي : چي ما هم د ائمه الافاغنه فارسي ترجمه په باجوړ کي د يوه خانه سره ليدلې ده. د ملا محمد خانمير د چارمقالې په يوه حاشيه کي داسي کښلي وه چي : "بدانيد که اکثراً اخبار حواشی از کتاب ائمه الافاغنه است و ائمه الافاغنه از ... ابوالخطيب شيرازی يوشع بن ابراهيم بن معصوم بن عبدالجبار بن سليمان شيرازی بن ليث کاکری است ... ابوالخطيب برای تحصيل علم از شيراز به بغداد رسيده در تلامذهٔ ابوبکر داخل شد." (سيف طبع لاهور ۱۹۵۵ م)

داسي ښکاري چي په دغه سنه ۵۳۵ ق کي به تحريف او سهوه راغلې وي. ځکه چي ابوبکر احمد بن علي مشهور په خطيب بغدادي په ۳۹۲ زوکړې او په ۴۶۳ ق کي مړ دی، نو که موږ د دغه ابوالخطيب شيرازی عمر ۸۰ کاله هم وګڼو، د بغدادي خطيب د مرګ پر وخت به دی بيخي کوچنی هلک وي. چي د بغدادي خطيب د شاګردۍ سن ته به نه وي رسېدلی.

ځکه چي د ائمه الافاغنه نسخې ثقه خلکو ليدلي دي، نو د منلو وړ خبره ده. (وګورئ په وروسته بيان کي د ملا خانمير چارمقاله)

ketabton.com: The Digital Library

﴿ ۵۰ ﴾

د ملا محمد خانمیر چارمقاله

لکه چي تاسي په ۴۹ عدد کي د ائمه الافاغنه تر نامه لاندي ولوستل دغه کتاب په فارسي ژبه ليکل سوی او ځيني برخي يې له ائمه الافاغنه څخه را اخيستي دي، لکه امير افضل جدون چي د راولپنډي د تعمير په ورځپاڼه ۴ فبروري ۱۹۵۶ م کي کښلي دي: چار مقاله په ۱۱۵۵ ق ملا خانمير تاليف کړې ده چي دوې خطي نسخې يې دغه سړي د ضلع هزاره په نوان شهر کي لرلې.

د چارمقالې په حاشيه کي داسي کښلي دي، چي دغه حواشي اکثر له ائمه الافاغنه څخه رانقل سوي دي، او مطالب يې هغه داستانونه وو چي پخوا د پښتنو د کسي غره او کيس نيکه لپاره، سره راجوړول سوي وو او بيا د نعمت الله په مخزن افغاني او نورو تاريخي کتابو که هم رانقل سوي چي له تاريخي واقعيتَه سره څنگ نه لگوي.

په دغسي کتابونو کي کله کله ډيري گټوري خبري پيدا کيږي چي د اوسنيو تاريخوالو په کار ورځي خو ځيني داسي خبري هم پکښي وي چي هغه نه عقل مني او نه له تاريخي پرله پيېلو واقيعتو سره سميږي. ځکه چي ما په خپله دا چار مقاله نه ده ليدلې نو تر دې زيات څه نه سوای پر ويلای.

﴿ ۵۱ ﴾

اسرار الافاغنه

دا کتاب په پښتو ژبه صابر د خضر زوی کښلی و، چي دغه خضر د شاه قاسم سلېمان مريد و، مستر ډير ستارټ د ايشيا ټک ريسرچز د دوهم ټوک په ۷۰ مخ کي ليکي چي دغه کتاب بيا له پښتو څخه خير الدين نومي ليکوال په فارسي ژبه خلاصه کی. (تاريخ افاغنه ۸۹/۲)

په لوړ بيان کي خضر د شاه قاسم مريد و، لکه چي د دغه رسالې په دريم عنوان کي ويل سوي دي دغه شيخ قاسم سلېماني د شيخ قدم زوی او د شيخ

متی له علمي او روحاني کورنۍ څخه و. چي په ۹۵۶ ق زېږېدلی او په ۱۰۱۶ ق د هند په چنارگړه کي مړ سوی دی، نو که د اسرار الافاغنه مؤلف خضر د ده معاصر او مريد وي نو د کتاب د تاليف وخت د ۱۰۰۰ ق کال شاوخوا اټکل کولای سو. خو د دغه کتاب پښتو يا فارسي نسخه ماته نه ده معلومه.

﴿ ۵۲ ﴾

خواجو ملېزی د (تواريخ افاغنه) ليکوال

دا کتاب د ۱۰۳۱ ق او ۱۰۳۳ ق تر منځ په پښتو ژبه د خواجو ملېزي په قلم تاليف سوی و، چي دی د يوسفزو د لوی مشر خان کجو له مصاحبينو څخه يوسفزی ليکوال و، او په خپل تواريخ افاغنه کي يې له ۸۸۰ تر ۹۹۴ ق پوري د پښتنو قبيلو هجرتونه او جنگي او اجتماعي پيښې د خان کجو تر مرگه ليکلي وې.

د دې کتاب يوه نسخه د ۱۱۸۰ ق په شاوخوا کي د هندوستان د شهاجهان پور د پښتنانه نواب بهادرخان داود زي په کتابخانه کي وه. او هغه يې د روهيل کهنډ مشهور حافظ خان برېخ ته واستوله، کله چي دغه پښتون حکمران دغه نسخه وليدله نو يې د خپل دربار يوه پښتون ليکوال پير معظم شاه ته وويل چي دا نسخه واخله په ساده ژبه يې د عامو خلکو د کتلو لپاره ترتيب او تهذيب کړه. نو معظم شاه هم دغه کار په گډه وډه پښتو او فارسي تر سره کی چي د تواريخ رحمت خاني تر غنوان لاندي ښودل سوی دی (نمبر ۵۳)

متاسفانه د خواجو اصل کتاب تواريخ افاغنه اوس نسته خو د دوهم مؤلف پير معظم شاه سره را اوړلی او سم کړی کتاب د تواريخ رحمت خاني په نامه چاپ سوی دی.

خواجو خورا پوخ او سترگه ور سپېڅلی مؤرخ دی چي معظم شاه يې (مؤرخ محقق قاصی اين قصص) بولي او په کتاب کي يې داسي مشران او واقعې ښودلي سوي دي چي بل ځای يې نه مومو، او داسي ښکاري چي

ketabton.com: The Digital Library

خواجو د پښتو ژبي شاعر هم و، چي د ده د يوه نظم نمونه هم په تواريخ رحمت خاني كي راغلي ده. (ص ۴) خواجو په خپل تواريخ كي د خان كجو د مرگ يادونه هم كوي، نو ځكه ويلاى سو چي د كتاب په ټولونه او ليكنه به د كجوخان تر مرگ وروسته پيل سوى وي. خداى دي خافظ رحمت خان او معظم وبخښي، چي د خواجو ورك سوى تواريخ يې موږ ته په تواريخ رحمت خاني كي را خوندي كړى دى.

﴿ ۵۳ ﴾

د پير معظم شاه (تواريخ رحمت خان)

په دې كتاب كي د پښتنو قومونو د هغه هجرت وقايع راغلي دي چي د هجري نهم قرن په دوهمه نيمايي كي يوسفزي د كندهار او ارغسان له سيمو څخه د كابل له لاري ننگرهار او د پېښور سيمو ته تر اباسين او سواته پوري خپاره سوي وو.

د كتاب مؤلف د پېښور د پير سباک كلي پير معظم شاه ولد پير محمد فاضل دى، چي د حافظ رحمت خان بړيڅ په غوښتنه يې په ۱۱۸۱ ق كال په هندوستان كي په روانه او خوږه پښتو كښلى دى، او دغه اوه مقامه لري:

۱. د ښخي او غوري قومونو اصلي وطن
۲. د يوسفزو رارسېدل پېښور ته او دوابه او يا جوړ نيول.
۳. يوسفزي سوات ته ځي او بابر پاچا دلته راځي.
۴. ككيانى دوابې ته راځي.
۵. د ككيانو او د لازاكو جنگ.
۶. شيخ ملي دغه نوي نيولي سيمي سره ويشي.
۷. يوسفزي تر لنډي اوړي او د غورياخيلو سره جنگ كوي.

په دغو اوو برخو كي د ۸۸۰ هجري قمري كاله تر ۹۹۴ ق (۱۴۷۵ _ ۱۵۸۵ م) پوري تاريخي پيښي بيان سوي دي.

د دې كتاب اصلي ماخذ يو كتاب تواريخ افاغنه و، د ډهلي د پښتانه مشر نواب بهادرخان داودزي له كتابخاني څخه حافظ رحمت خان ته

را استول سوى و. (په دغه رساله كي نمبر ۵۲) او پير معظم شاه د ده په امر هغه كتاب نوى تحرير او ترتيب كى او نوم يې تواريخ رحمت خاني پر كښېښود. دا كتاب په ۱۹۷۱ م كال د پېښور پښتو اكاډيمى د ښاغلي روشن خان په همت په ۱۸۸ مخه كي چاپ كى، چي په پښتو او فارسي دواړو ژبو گڼ ليكل سوى دى، او په تاريخي لحاظ يو خورا دروند او گټه ور كتاب گڼل كيږي. (د تفصيل لپاره وگورئ د دې رسالې ۵۲ عنوان خواجو ملېزى)

دا هم زياتوم چي د تواريخ حافظ رحمت خاني په نامه يوه غټه اردو ترجمه هم د پېښور اكاډيمى په ۱۹۷۶ م په ۷۰۰ مخو كي چاپ كړېده چي د كتاب د متن ترجمه له نورو خورا مفصلو تعليقاتو سره د ښاغلي روشن خان يوسفزي په قلم ده، او ډيري گټوري خبري او شجرې پكښي زياتي كړي دي. چي د تاريخ څېړونكو ته په كار ورځي. (جزاء الله خيراً)

﴿ ۵۴ ﴾

سعادت نامهٔ افغانى

دا په پښتو ژبه د پښتنو تاريخ دى، چي مؤلف يې سعادت خان د هدايت الله زوى و او ښايي چي د پېښور د خليلو په تپه كي تيار سوى وي. دا كتاب سل كاله دمخه په پېښور كي چاپ سوى دى چي په آخر كي يې داسي كښلي دي: "سعادت نامهٔ افغانى مطبوعه ۱۸۶۶ مطابق ۱۲۹۰ هـ. دا كتاب د پېښور د جبل چاپ خانه كي د مير اكبر د اروغه په انتظام د مستر هنرى بكټ قايم مقام انسپكټر مدارس صوبه سرحد په اجازت چاپ شو"

ښاغلى روشن خان د يوسفزو يو سترگه ور ليكوال چي دغه نسخه يې ليدلې ده داسي ليكلي چي: دا كتاب د تواريخ رحمت خاني د لفظ لفظ تاييد كوي،او د تاليف وخت يې تر تواريخ رحمت خاني وړاندي ښكاري، د يوسفزو حالات په تفصيل ليكي په كاټلنگ كي د يوسفزو او د لازاكو جنگونه شوي دي، دا كتاب يې په تفصيل بيانوي، او پښتو يې د خليلو د تپې له محاورې سره برابره ده.

ketabton.com: The Digital Library

دلته د نمونې په توګه دغه څو کرښې را اخیستلې کیږي: "پښتنور ته راغلي پښتنانه ټول درې کوره دي، او بعضې قبیلې د دې درېو قبیلو سره یو ځای اوسي، چې دوی ورته حصه لکه د ورور ورکړې ده، خو دغه همسایه دي، دا لویې کورونه درې دا دي:

اول :- خیښي

دوهم :- غوري

دریم :- کرلاني

(پښتو مجله _ اکتوبر ۱۹۷۹م _ د پښتنور چاپ)

﴿۵۵﴾

محمد امین سرپرېکړی د (جګړه د محمود افغان نیول د اصفهان) لیکوال

دغه مؤلف او مؤرخ محمد امین نومیږي، چې په قوم مرانی کوچی او د مرغې د غونډان و، دی د خپل عمر په ۳۶ کال په ۱۱۳۵ ق د هوتک شاه محمود په لښکرو کې د ارسلا خان ناصر تر بیرغ لاندې اصفهان ته ولاړ، او د ایران د فتح جنګونه یې ګرده په خپلو سترګو ولیدل، او یو کتاب یې په پښتو وکیښ.

د دې کتاب نسخه ما نه ده لیدلې، خو د ده زوی حافظ نورمحمد یوه قصه د (بریښنا او خدی) په نامه په ۱۲۰۴ ق کښلې وه، چې خطي نسخه یې سته. د دغې قصې په سریزه کې نورمحمد داسې کاږي: "چې زما پلار د اصفهان په جګړه کې په ۳۵ کلنۍ برخه اخیستې وه، او کله چې بیرته راغی نو ده مبارک چې حال د دې جګړې په خپله لیدلی و، نو یې یو وړوکی کتاب په ژبه خوږه د پښتو کې په حال د دې جګړې کې لیکلی و، او نوم د دې کتاب "جګړه د محمود افغان نیول د اصفهان" دی. خو حق دا دی چې ډېر ښه او ربښتینی بیان دی، او دا کتاب په زنیو د پښتنو له جهته د بدلو د قومو قیمتي دی، او نر و ښځې او کم و لوی یې خواهښتي دي."

(د بریښنا د قصې سریزه)

ځکه چې د اصفهان د فتح په کال ۱۱۳۵ ق محمد امین د ۳۶ کالو و، نو یې د تولد کال ۱۰۰۹ ق ټاکلای سوای، چې وفات یې د نورمحمد په قول ۱۱۷۴ ق کال په ۷۵ کلنۍ کې دی.

د محمدامین زوی نورمحمد د ده له خولې وایي: "زه په دې غزا د اصفهان فتح کې ۳۶ کلنی وم د جنګ په فنونو او فتورونو کې ګرندی وم".

علاوه پر نثر او وقایع لیکنو باندې محمدامین ځینې پښتو شعرونه هم درلودل چې نمونې یې تر اوسه پاته دي.

(وګورئ تاریخي پلټنې ۱۶ د حبیب الله رفیع مقاله د کابل چاپ ۱۳۵۷ ش)

﴿۵۶﴾

عبدالغفار هوتک د کورنۍ د حالاتو لیکوال

دا لیکوال او د پښتو شاعر د حاجي میرویس هوتک د کورنۍ یو وروستنی سړی دی، چې پلار یې عبدالجبار خان د حاجي انګو زوی و، او حاجي انګو د میرویس نیکه وراره و، چې د ژوند وخت یې په ۱۲۰۰ ق کال شاوخوا اټکلولای سو.

عبدالغفار د پښتو دېوان او د پنج داستان (مثنوی) او د سوداګر بچه قصه لري، خو تر ټولو ارزښتمن کتاب یې د خپلې "کورنۍ حالات" دي چې په دې کتاب کې دی د خپلې کورنۍ حالات د ګرګین خان ګرجي له ظلمونو څخه را شروع کوي او د هوتکو د دورې وقایع لیکي، چې د ده له کتابه اوس فقط ۱۵ مخه سته، او د پای خوا یې پرې سوې ده. په موجوده وروستۍ پاڼه کې د شاه اشرف هوتک (۱۱۳۷ _ ۱۱۴۲ ق) او عثماني سپه سالار احمدپاشا د جنګ قصه راغلې ده چې دا جنګ په ۱۱۴۰ ق پېښ سوی و. عبدالغفار په خپلو اشعارو کې هم کله کله ځنې تاریخي وقایع او د خپل عصر مشاهیر یادوي، چې د تاریخ د څېړونکو په کار ورځي.

د کورنۍ حالات یوه ناقصه نسخه په سیوري کې د دغې کورنۍ له لمسو سره وه. (د تفصیل لپاره وګورئ: د پوهاند رشاد مقاله په تاریخ پلټنو کې تر ۱۱۵ مخ وروسته د کابل چاپ ۱۳۵۷ ش)

Ketabton.com: The Digital Library

﴿ ۵۷ ﴾

د باروزو جنګنامه

د باروزو قبیله د پښتنو غرغښتو ته رسیږي چي د پني له څانګي څخه ده، پخپله بارو د حسین لسمی او د پني له پښتنه څخه دی.

وايي چي د پني قبیله اصلاً د کسي له غره څخه د درهٔ بولان له لاري د سانګان سیمي ته راغلې، چي د یوځایي او سیوی تر منځ یو ځای دی. له دوی څخه باروزئی تر اوسه هم پښتو وايي او ځانونه کاکړان بولي او دغه سیمه ګرده د باروزیو په نامه مشهور ده، د سدوزیو پاچهانو په وخت کي د سیوی حاکمان هم دوی وو او احمدشاه بابا د دوی یو لوی مشر عیسی خان د ښکارپور په حکومت ټاکلی و. د دغه کتاب مؤلف قاضي ملا شیخ محمد دی. چي د باروزیو امیرانو مسري خان او بختیار خان په نامه د نونسم قرن په لومړیو کلو کي تالیف سوی دی ځیني برخي یې منظومي دي، او د باروزیو د خاندان شجره هم لري، د جنید خان احوال بیانوي، چي د شاه جهان معاصر وُ د (۱۰۵۰ ق حدود) بیا نو د مندراخان او احمدخان او بختیار خان احوالي او د دوی جنګونه د کلات د احمدزو، بلوڅو سره لیکي، او کله چي دومر کاکړان پر سانګان باندي ورخیژي او باروزی رشید خان یې مخي ته دریږي دغه شخړي هم په تفصیل لیکي.

د دغه کتاب یوه خطي نسخه په دري ژبه د سیوی د کرک د کلي د سردار احمد خان سره وه چي مرحوم سلطان محمد پني ځني لیدلې وه.

﴿ ۵۸ ﴾

تذکیر البار (حالات باروزائی)

دا کتاب د باروز پښتنو پر تاریخ باندي د ملا محمود جسکاني بلوڅ په قلم د ۱۳۰۰ ق په شاوخوا کي تالیف او کښل سوی دی. چي یوه نسخه یې د سیوی پولټکل ایجنټ میکانګی ته په لاس ورغلې وه او دی وایي چي

له ۱۴۷۰ م کاله څخه د باروزو تاریخي واقعې لري، مګر بله خطي نسخه یې تر اوسه نه ده معلومه.

﴿ ۵۹ ﴾

منظومه جنګنامه

ناظم یې په دري ژبه نورمحمد کلهوړه د قلات د میر نصیرخان د وختو قاضي القضات دی چي د علم او تقوا خاوند و او کله ځان نورمحمد ګنجابی هم بولي چي ګنج آباد د بلوڅي قلات په کچهی کي و، یوه نسخه یې د کلات د لوی خان په کتابخانه او بله یې د سکهر د مولا شیدایي څخه وه، دا کتاب د نظم او نثر برخي لري، چي د احمدشاه بابا په زمانه کي د میر نصیر خان لپاره تالیف سوی دی، او کوم جنګونه چي احمدشاه بابا له سکهانو سره کړي او په خپله مؤلف هم پکښې شامل و بیان سوي دي.

د احمدشاه بابا د وختو تاریخي وقایع ډېر لري او مستند ښکاري چي د اوم هندي لام بیان تر ۱۷۶۴ م پوري راغلی دی. دا کتاب ګنډاسنګه په انګریزي ترجمه او په امرتسر کي په ۱۹۳۹ م چاپ کړی دی.

﴿ ۶۰ ﴾

د (تذکرة الملوک) نومورکی لیکوال

دا کتاب لومړی پلا هغه وخت وپېژندل سو چي د یوې خطي نسخې له مخي په ۱۹۴۳ م د انګریزي ترجمې او ډېرو مفیدو تعلیقاتو سره د مشهور روسي مستشرق مینورسکی په همت د انګلستان په کیمبریج کي چاپ او خپور سو.

د کتاب د مؤلف نوم چا ته نه دی معلوم، خو دوني ښکاري، چي دغه ګټور کتاب د ۱۱۴۰ ق په حدودو کي د شاه اشرف هوتک په غوښتنه چا په اصفهان کي کښلی دی.

Ketabton.com: The Digital Library

موضوع یې د هوتکو د دورې ملکي تشکیلات او د دغه مملکت د ولایاتو عایدات او بودجوي مخارج او مداخل دي. چې د افغانستان د هوتکو شاهانو په تاریخ کې ښه معلومات په لاس راکوي. د دې کتاب فارسي متن په بېل ډول په ۱۳۳۲ په تهران کې هم چاپ سو.

﴿ ٦١ ﴾

موسی بن جرجیس د (تاریخ العجم و الافغان) لیکوال

دا یو عربي مؤلف دی چې د ۱۱۴۰ ق په شاوخوا کې ژوندی و او په لوړ نامه یې یو کتاب د ایران او افغانستان یو تاریخ وکښ. چې له ۹۰۶ ق څخه بیا تر خپله وخته پورې وقایع بیانوي او د هوتکو فتوحات په ایران کې ښیي.

یوه خطي نسخه یې ۲۴۰ مخه د مصر په تیموریه کتابخانه کې خوندي ده او چاپ سوی نه دی.
(دکتور لطفی ـ فهرس المخطوطات المصوره طبع قاهره ۱۹۵۷ م)

﴿ ٦٢ ﴾

د قاسم علي افریدي تاریخ

د کلیات افریدي په پیل کې د قاسم علي افریدي کښلی تاریخ موجود دی، دغه تاریخ په پارسي ژبه کښل سوی، ټول بابونه یې ۲۲ دي او د کلیات په لومړیو ۱۰۹ پاڼو کې خطاطي سوي دي.

د کلیات افریدي یوه خطي نسخه د پېښور د اسلامیه کالج په کتابخانه کې خوندي ده. او د دغې کتابخانې په کتابونو کې یې نومره ۱۹۱۰ ده.

د تاریخ په پیل کې دا بیانونه سته: نواب محمد خان بنگښ، ذکر اولاد فتح خان و میرخان و جهانهان.

باب چهارم ـ در ذکر اولاد جهان خان.

باب پنجم ـ در ذکر نیکنام خان افریدی.

بابا ششم ـ در ذکر وفات جد بزرگوار و احوالات دیگر سرگذشت پدر بزرگوار خود، که در شهر فن آباد چند مدت سکونت نموده، باز در کوهسار سکونت فرمودند و نیز وفات اینجا یافتند. و دیگر ذکر نواب احمد خان بهادر غالب جنگ و نواب مظفر جنگ.

باب هفتم: در ذکر یتیم شدن و سبب پرورش یافتن خود مدح راست و درست محمد سعید خان و عبدالرحمن بهادران قندهاری.

باب هشتم ـ در ذکر تفرقه افتادن دفعه اول در رسالهٔ محمد سعید خان بهادر قندهاری و رفتن در رسالهٔ مرزا عطابیگ خان و باز آمد در رسالهٔ خان موصوف و آمدن عبدالرحمن خان.

باب نهم ـ در ذکر امدن متعلقان من در شهر فرح آباد و سکونت ورزیدن در شهر مذکور.

باب دهم ـ در ذکر ملک متعلقه موضع اخور گویا که مسکن پدر جد بزرگوار من بود و موجبات امدن از ملک ولایت در ممالک هندوستان و سکونت ورزیدن اینجا.

باب یازدهم ـ در ذکر نشستن نواب سعادتخان بر مسند وزارت و استعفاء کردن من از نوکری، سرکار موصوف و رفتن باطراف ملک جنوب تا به سوات بندر.

باب دوازدهم ـ در ذکر حالات شهر برهانپور.

باب سیزدهم ـ ذکر رسیدن من در لشکر مهاراجه جسونت.

باب پانزدهم ـ در ذکر اوقات اسیری افواج نواب امیر خان بهادر و سرگذشت ابتداء خان غفرالله و سبب مشتهر شدن به لقب نواب امیر الدوله محمد امیر خان بهادر دلاور جنگ.

باب شانزدهم ـ حالات مقابله جنگ فرنگ و هولکر و هزیمت یافتن افواج فرنگ.

باب هفدهم ـ در ذکر سفر کردن بجانب ملک مالوه.

باب هجدهم ـ در ذکر نواب امیر خان که عبور از دریای جمن و گنگ نموده.

باب نوزدهم ـ در ذکر مصالحت و موافقت فیما بین مهاراجه جسونت سنگ و هولکر بهادر مهاراجه دولت را و سنده.

باب بیستم ـ در ذکر نوکری ملازم بودن برای چند در سرکار میرجعفر.

باب بیست و یکم ـ در ذکر ابنای روزگار و شکایت مفارقت برادران.

باب بیست و دوم ـ در ذکر معاش و حالات وفات برادر حقیقی و عقاید و ایقان معاد اهل تصوف.

﴿ ۶۳ ﴾

محمد امین گلستانه د (مجمل التواریخ) لیکوال

ابوالحسن محمدامین د مجمل التواریخ بعد نادریه مولف دی د دولسمی سدی په منځ کي د پارس اوسېدونکی و، چي د نادر شاه افشار د سلطنت او وروستیو واقعو بیان یې په مجمل کي کښلی او دا کتاب لومړی پلا په لیډن کي په ۱۸۹۱ م کال چاپ سو، چي په فارسي ژبه و ان سکارمن چاپ کی، او بیا د دغي طبع له رویه په تهران کي په ۱۳۲۰ ش د مفیدو تعلیقاتو سره چاپ سو. دغه کتاب د هوتکیانو او سدوزو او نادر افشار او زندیه شاهانو پر احوال باندي مفصل معلومات لري، او محمدامین د دې عهد یو مؤرخ ګاڼه سي.

﴿ ۶۴ ﴾

د (حقیقت بناء و عروج فرقهٔ سکهان) لیکوال

د دې کتاب لیکوال نه دی معلوم، خو د تیمورشاه معاصر ښکاري، او د خپل وخت دیرلسمي سدی د لومړیو برخو حال یې تر هغه وخته کښلی دی چي تیمورشاه بیرته ملتان ونیو. د دې کتاب یوه انګرېزي ترجمه بنرجي په ۱۹۴۲ م کال له کلکتي څخه خپره کړه خو د لندن رایل سوسایتی د کتابخانې په فهرست کي د دغه کتاب مولف په غلطه تیمورشاه ګڼل سوی

abton.com: The Digital Library

دی او خطي نسخې یې ډیري دي. د احمدشاه او تیمورشاه په وختو کي چي څه له سکهانو سره پېښ سوي دي یو معتبر ماخذ یې دغه کتاب دی.

﴿ ۶۵ ﴾

حسین علي د (زیب تاریخها) لیکوال

دا کتاب د اتلسمي سدی په نیمایي کي لیکل سوی دی، او له ۱۱۶۰ ق ۱۷۴۷ م او د احمدشاه له جلوسه څخه بیا د شاه زمان تر سقوط ۱۸۵۱ م پوري یې واقعات راوړي دي چي تش یوه خطي نسخه یې اوس د ازبکستان د تاشکند د علومو د اکاډیمی په کتابخانه کي سته (۱۶۲۶ نمبر) او داسي ښکاري چي مولف به د شهزاده همایون سدوزي له نزدېکانو څخه وي، چي خپل تاریخ یې د ۱۲۱۸ ق د صفري په میاشت (جون ۱۸۰۳ م) کښلی دی، او دا کتاب څکه چي تاریخ حسین شاهی (نمبر ۶۹) ته ډېر ورته دی نو ښايي چي مؤلف به له دې کتابه اخیستنه کړې وي.

﴿ ۶۶ ﴾

محمود حسیني د (تاریخ احمدشاهي) لیکوال

دغه منشي چي محمود د ابراهیم جامي زوی نومېږي، او د نادر افشار د منشي میرزا مهدي خان شاګرد و په ۱۱۶۷ ق کال په مشهد کي د محمد تقي خان شیرازي له خوا د احمدشاه بابا حضور ته معرفي سو، چي د "مجلس نویس" په کار مقرر سي، دی حسیني سید او د جام له اوسېدونکو څخه و چي د احمدشاه د خپل دربار په منشي ګري او وقایع لیکلو وټاکه، او ده تاریخ احمدشاهي د دې پاچا له جلوسه ۱۱۶۰ ق بیا تر مرګه ۱۱۸۶ ق وکیښ چي د هر کال وقایع بېل بېل لري، او یوه خطي خوشخطه نسخه یې اوس د لیننګراد د شرقي څېړنو په مؤسسه کي سته (د ۹۳) چي په ۱۹۷۴ م کال په دوه ټوکه ۱۳۹۵ مخه کي د اتحاد شوروي د علومو اکاډیمی عکسي چاپ کړه.

...bton.com: The Digital Library

دا کتاب غالباً دوه تحریره لري ځکه یوه خطي نسخه يې د تهران د دانشگاه په کتابخانه کي هم سته، چي د دواړو نسخو محتویات لږ سره بېل دي، او داسي ښکاري چي د لینن ګراد نسخه د مؤلف وروستنی مکمل تحریر وي، ځکه چي دغه نسخه په پای کي د مؤلف د زوی محمد اسماعیل یوه مرثیه هم لري چي د احمدشاه بابا پر مرګ يې ویلې ده.

یوه بله نسخه هم د برتانیا په موزیم کي وه (او ـ آر ۱۹۶) چي د ۱۱۷۱ ق پر واقعو باندي ختمېده او تر ۱۰۲ پاڼي وروسته ناقصه وه.

(وګورئ د ریو فهرست ۱/ ۲۱۳ د لندن چاپ ۱۸۷۹ م)

﴿ ٦٧ ﴾

عبدالرحمن بن احمد روشن خان د (تاریخ احمدشاه دراني) لیکوال

دا کتاب په فارسي ژبه حسین شیرازي کربلائی د عبدالرحمن له تاریخ احمدشاهي څخه ترجمه کړی دی، چي خطي نسخه يې په برټش موزیم کي سته خو دا نده معلومه چي عبدالرحمن خپل تاریخ احمدشاهي دراني په څه ژبه کښلی دی؟

﴿ ٦٨ ﴾

شیخ حسین الله د (فتح نامې) ناظم

دغه مثنوي د احمدشاه بابا د لومړي هندي لام پر احوال باندي په اتلسمه سدۍ کي نظم سوی، او احمدشاهي فتح يې ستایلې ده، خطي نسخه يې د پاریس په ملي کتابخانه کي سته.

﴿ ٦٩ ﴾

امام الدین حسیني چشتي د (تاریخ حسین شاهي) لیکوال

دا سړی اصلاً د افغانستان د چست له اوسېدونکو څخه و، چي په هند کي يې ژوند کاوه، او له افغانانو سره محشور و، ده خپل کتاب چي مرقع شاهان درانیه هم بلل سوی دی، په ۱۲۱۳ ق کال تمام کی، چي له احمدشاه تر زمانخان پوري د افغانستان احوال ښيي، د شاهانو او د دربار د مشرانو معرفي په ښه ډول کوي، د ډهلي له درباره سره د افغاني دربارونو روابط ښيي، د سفیرانو نومونه او کارونه کاږي، ځیني رسمي درباري خطونه هم کټ مټ لیکي، د مشهورو ځایو او لارو فواصل ښيي او د دې وختو لپاره یو عمده او باوري ماخذ دی.

یوه خطي نسخه يې د کابل په ملي ارشیف کي او نوري خطي نسخې يې د بانکي پور د خدابخش او د کلکتې د ایشیاټک سوسایټي او د برټش موزیم په کتابخانو کي سته.

﴿ ٧٠ ﴾

تاریخ محاربهٔ کابل یا ظفر نامهٔ اکبری

دا کتاب ابوالقاسم دهلوي په دري ژبه نظم کړی دی، چي نسخه يې د حیدر اباد دکن په اصفیه کتابخانه کي وه، د دغه کتاب په سریزه کي ابوالقاسم وایي چي زه د سنده د انګرېزي ریزیډنټ په حکم د بلوڅو د قلات نصیر خان ولد محراب خان ته واستول سوم، چي دی د کابل د پادشاه ورور ته غاړه کېښېږدي او شورش بند کی نصیر خان خو دا خبره ومنله، مګر د انګرېزي حکمران مطلب خو دا و چي نصیر خان په یوه چم ځانته راولي او بیا يې نو ونیسي، له دې جهته يې ابوالقاسم وتراټه.

تر دې وروسته ابوالقاسم له سنده بیرته ډهلي ته ځي او دغه خپل کتاب نظم کوي او داسي ښکاري چي د انګرېز او افغان په لومړي جنګ کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده په خپله تولي واقعي په خپلو سترګو ليدلي وې او ځيني رسمي سندونه يې هم کتلي وو. (د مولوی سيد محمد حسين اغلب موهاني نيرنګ افغان ـ ۵۴ د لکهنو چاپ ـ ۱۹۰۴ م)

د هندي مؤرخانو په اصطلاح محاربهٔ کابل د افغانستان د خلکو او انګرېزانو لومړی جنګ دی، چې له ۱۸۳۹ تر ۱۸۴۲ م پورې د انګرېزانو د هندوستان امپراتورۍ د افغانستان د خلکو پر اوږو راوځپاوه او خپل ټول لښکر او اعتبار يې دلې بايلوول، دا کتاب ظفرنامهٔ اکبري ښکه بلل سوی دی چې په لومړي جنګ کې وزير اکبرخان د امير دوست محمد خان زوی هم د خلکو ملګری و، ظفرنامه په اردو ژبه هم شيخ ذوالفقار سجونپوري ترجمه کړې وه. (وګورئ: نمبر ۱۲۳)

﴿ ۷۱ ﴾

فدا حسين د (تاريخ افغانستان) ليکوال

د دې کتاب ليکوال سيد فدا حسين ترکسواز بخاري نوميږي چې د افغانستان په لومړي جنګ کې شامل و، او د خپلو سترګو ليدلی حال يې وکيښ، وروسته دی د امير دوست محمد خان سره لودهيانې ته ولاړ او تر تقاعد وروسته په ډهلي کې اوسېدی، او خپل کتاب يې په ډهلي کې چاپ کی. دغه کتاب د پيسه اخبار د خپرونکي محبوب عالم په لاس کې و او د تذکرهٔ اصول امير دوست محمد خان په ليکلو کې يې ډيرې خبرې ځنې را اخيستې دي. (د نيرنګ افغان ۶۴ مخ)

﴿ ۷۲ ﴾

کاشي راج پنډت د (احوال جنګ بهاو و احمدشاه دراني) ليکوال

دا سړی د جنوبي هند ؤ چې د نواب صفدر جنګ او د ده د زوی نواب شجاع الدوله نوکر ؤ، چې دغه شجاع الدوله د پاني پت په جنګ کې د

احمدشاه ملګری و، ځکه چې کاشي راج د اوده په دربار کې ښلوېښت کاله منشي و، او رسمي سندونه يې هم کتلای سوای، نو د ده (بهاونامه) ثقه تاريخ کتاب ګاڼه سي. او خطي نسخې يې د هند په کتابخانه کې سته، چې جيس براون په ۱۷۹۱ په کلکته کې په انګرېزي ترجمه او چاپ کی، او بيا په اکسفورډ کې په ۱۹۱۶ م کال هم چاپ سو، او دوهمه ترجمه يې سرجادونا ته سرکار په ۱۹۳۴ م خپره کړه.

﴿ ۷۳ ﴾

غلام حسين ثمين د (حالات امدن احمدشاه درانی در هندوستان در سنهٔ ۱۱۶۹ ه) ليکوال

د دې کتاب فارسي خطي نسخه د هند د رامپور په کتابخانه او د لندن په شاهي سوسايټۍ کې سته.

کله چې احمدشاه په خپل څلورم لام کې د اګرې او متهورې پر ډګر جنګ کاوه ثمين هلته حاضر و، او خپل ليدلی حال يې وکيښ. دی د فرح آباد نواب عماد الملک (۱۷۵۶ ـ ۱۷۵۷ م) ته نژدې سړی و چې کتاب يې وليم ايروين هندي لرغون څېړونکي په ۱۹۰۷ په انګرېزي نشر کی.

﴿ ۷۴ ﴾

عبدالکريم کشميری د (بيان واقع) مؤلف

دا مؤرخ چې په ۱۱۶۶ ق يې خپل کتاب کښلی دی، د احمدشاه بابا لومړی عسکري سفر هند ته بيانوي، چې خطي نسخه يې هم په دغه کال کښلې سوې ده او څو نورې نسخې يې هم ميندلې کيږي. په خپل موضوع کې مفيد کتاب دی. (احمدشاه درانی ۴۲۶)

يادونه: دغه کشميری عبدالکريم له علوي او بخاري عبدالکريم سره مه ګډوئ. کله چې نادر افشار له هندوستانه بيرته تی، کشميری ورسره ملګری و. او دغه احوال يې د هندوستان له تاريخه سره (له ۱۷۳۹ م څخه تر

Kitabton.com: The Digital Library

۱۷۸۸ م پوري) وکښل چي انگرېزي ترجمې يې په ۱۷۸۸ م په کلکته کي خپرې سوې دي. (وگورئ عبدالکريم ۹۵ عبدالکريم علوي ۳۴)

«۷۵»

محمود الموسوي د (کتاب اقوام و فرقه های افغان) ليکوال

دا کتاب (احوال اقوام چهارگانهٔ افغان) هم بلل سوی دی، چې د پښتنو د څلورو قبيلو ابدالي يا دراني، غلجي، بردراني يا روهيلي او سور او يوسفزو بيان دی، او د هري قبيلې څانگي او مشهور خلک هم د درانو له عروجه د شاه شجاع تر مرگه ښيي. دغه مولف ظاهراً د سدوزو د دربار د منشيانو له مشهوري موسوي کورنۍ څخه ښکاري. څکه چي دغه کورنۍ خو د ميرزا هادي عشرت د احمدشاه منشئ له وختته په دربار کي وه، دغه کتاب په ۱۲۲۳ ق تاليف سوی او يوه نسخه يې په ۱۸۵۰ م کښلي سوې ده چي په برټش موزيم کي سته.

«۷۶»

محمد علي انصاري د (تاريخ مظفري) ليکوال

د ۱۸۱۲ م ليکلې خطي نسخه يې د پاريس په ملي کتابخانه او د حيدرآباد په آصفيه لايبريري کي سته. د هندوستان عمومي تاريخ دی چي د احمدشاه لامونه پر هندوستان بيانوي او خورا گټه ور معلومات لري او پر دغه موضوع يې بل کتاب بحر المواج هم کښلی دی چي نسخې يې په برټش موزيم او د پاريس په ملي کتابخانه کي سته. په دې کتاب کي تر ۱۲۱۱ ق پوري وقايع ليکل سوي دي. دغه انصاري ته يو بل کتاب هم د تاريخ احمدشاهي په نامه منسوب دئ چي په ۱۱۹۶ ق يې کښلی و او خطي نسخې يې په برټش موزيم او انډيا آفس کي سته.

«۷۷»

محمداسلم د (فرحت الناظرين) ليکونکی

دغه کتاب په ۱۱۸۴ ق د هند پر عمومي تاريخ باندي کښل سوی او د احمدشاه پر هندي لامونو باندي خورا مفيد مواد لري، خطي نسخه يې د هند د کپور تلي په حکومتي کتابخانه کي سته.

«۷۸»

محمديوسف سدوزی د (کليات رياض) ليکوال

محمد يوسف د محمدحسن خان سدوزي زوی متخلص په رياض د هرات د حکمرانو سدوزو له کورنۍ څخه دی کليات يې بحرالفوايد هم نوميږي، په ۵۷۲ مخو کي په ۱۳۲۴ ق په مشهد کي چاپ سو او دوولس برخې دي:

۱. بيان الواقعه
۲. ضياء المعرفه
۳. عين الوقايع
۴. دفتر دانش
۵. پاسخ و پرسش
۶. فيض روحاني
۷. منبع البکاء
۸. تخميسات
۹. رباعيات
۱۰. پريشان
۱۱. اوضاع البلاد
۱۲. خاتمه

په دې کتاب کي تاريخي وقايع او په هرات کي د سدوزو سوابق او اوضاع او د ذرانو د وختو ډېري واقعې ضبط سوي او مولف يې په تاريخ

ketabton.com: The Digital Library

خبر دی د خپل عصر یو فعال او په اوسنی دنیا مطلع سړی و، چې د نونسمي سدی په پای کې يې په خراسان کې ډېر شهرت موندلی و، او کله چې په لومړي جنگ کي تزاري لښکر مشهد ته راغله دی په جنگ کې ووژل سو، کتاب يې د ادبیاتو او واقعه نویسی او تاریخ لیکلو یوه گډه وډه نمونه ده او ډېر اطلاعات يې سره راټول کړي او په عین الوقایع کې يې د افغانتسان د ۱۲ جنگو بیان کښلی دی.

﴿۷۹﴾

د اکماس کردي (جنگنامه)

دا کتاب په کردي ژبه په ۱۱۷۴ ق کال اکماس کرد په ایران کې کښلی او د سلطان حسین صفوي او محمود او اشرف افغان او نادر افشار حال يې بیان کړی دی. د دې کتاب یوه خطي نسخه د ایران د سنا په کتابخانه کې ۱۷۹ مخه نمبر ۱۳۶ سته چې په ۱۸ صفر ۱۲۷۷ ق ملا فرح الله بن عزیز الله کښلی دی. "وگورئ نسخه های خطی، کتابخانه مجلس سنا ۴۵۰ دفتر ۶ تهران چاپ ۱۳۴۸ ش"

﴿۸۰﴾

محمد جعفر شاملو د (منازل الفتوح) لیکوال

دا سړی اصلاً د صفویانو نوکر و، چې د احمدشاه سره په هندي لامونو کې ملگری و، ده له کندهاره د غزني او کابل او پېښور له لاري تر ډهلي پوري د تولو پړاوونو او د پاني پت د جنگ احوال په منازل الفتوح کې کښلی دی، چې دی په دغه جنگنامه کې په خپله حاضر و، د دغه کتاب خطي نسخې په برټش موزیم او د امرتسر په خالصه کالج کې سته.

﴿۸۱﴾

د (تاریخ فیض بخش) لیکوال شیوپرشاد

د هندوستان په کاتهر کې چې کوم روهیله افغانان اوسي دا د دوی تاریخ دی، چې خطي نسخه يې په ۱۷۷۶ م کښلی سوې ده او په برټش موزیم او اشیاټک سوسایټی، لندن او د کلکتې په قومي کتابخانه کې سته.

﴿۸۲﴾

عروج و خروج احمدشاه درانی

دا کتاب د ۱۷۸۰ م په شاوخوا کې یوه نامعلوم مولف کښلی دی چې یوه نسخه يې د جان ریلنډ په کتابخانه مانچسټر کې وه، او د احمدشاه لامونه پر هندوستان بیانوي.

﴿۸۳﴾

سوهن لال سوري د (عمدة التواریخ) لیکوال

سوهن لال پلار منشي کنپت رای او نیکه يې لاله حکومت رای سوري د احمدشاه درانی او د مهاراجه رنجیت سنگ د اسلافو معاصرین وو، چې دوی د خپل عصر معلومات سره راټول کړي او سوهن لال ته يې پرېښي وو، دغه لیکوال هغه ډول یاد داشتونه په پنځه ټوکه کې سره راغونډ کړل، چې کتاب يې ډېر تاریخي ارزښت لري او په لومړي دوو ټوکو کې د احمدشاه لامونه پر پنجاب باندي بیانوي، چې په لاهور کې په ۱۸۸۵ م کال چاپ سوي دی.

abton.com: The Digital Library

﴾ ۸۴ ﴿

(تهماس نامه) د تهماس خان ليکنه

دا سړی د احمدشاه بابا په وختو کې د معين الملک او د ده د مايني مغلاني بېگم او ضابطه خان روهيله خدمتگار ؤ او خپل حال يې په خپله کښلی دی چې په هغه کې يې د پاني پت جنگ او د احمدشاه د هندوستان د لامونو په سترگو ليدلي حالات بيان کړي دي، ۱۱۹۳ ق. د امرتسر د خالصه کالج په کتابخانه کې چې يې خطي نسخه سته هغه په ۱۴۲۸ کښلې سوې ده، په برټش موزيم کې يې هم نسخه سته.

﴾ ۸۵ ﴿

تاريخ احمدشاهي

د دې کتاب د ليکوال نوم نه دی معلوم خو په ۱۱۶۷ ق يې د احمدشاه رنگيلا احوال کښلي او د احمدشاه دراني د هند د جنگي سفرونو مفيد معلومات يې سره راغونډ کړي دي. خطي نسخې يې په برټش موزيم او د امرتسر په خالصه کالج کې سته، يو لندون يې سرجادونات سرکار په انگرېزي هم چاپ کړی دی.

﴾ ۸۶ ﴿

مراسلات احمدشاه

دا يوه مجموعه فرامين او خطونه دي چې احمدشاه د ډهلي د پادشاه دوهم عالمگير او نورو روهيلي افغاني مشرانو په نامه کښلي دي، د راجپوتو خانانو په نامه هم خطونه سته چې له ۱۱۷۳ ق څخه تر ۱۱۷۶ ق پوري په واقعاتو اړه لري او خطي نسخه يې د امرتسر د خالصه کالج په کتابخانه کې وه.

﴾ ۸۷ ﴿

(شاهنامه احمديه) د نظام الدين عشرت مثنوی

دا شاعر د احمدشاه معاصر و، چې شاهنامه يې د احمدشاه په نامه نظم کړه او د پاني پت لام يې پکښې بيان کی. دا مثنوي چې عشرت سيالکوټي نظم کړې دی تقريباً ۵۰۰ بيته لري چې ۱۱۷۴ ق ويلي سوي دي لومړی عنوان يې پسله حمد و نعمته له بدقولي وزير هند و آرايش لشکر څخه شرو کيږي. څو احمدشاه په پېښور کې د ميا عمر څمکني څخه د غزا اجازت اخلي او بيا په سرهند کې د شيخ احمد سرهندي زيارت کوي ډهلي نيسي او شاهزاده والا گهر پر تخت کښېنوي، د دې کتاب يوه نسخه ما د پېښور د بالاماني په کتابخانه کې ليدلې وه په برټش موزيم او د حيدر آباد په آصفيه کتابخانه کې هم سته.

﴾ ۸۸ ﴿

د قدرت الله صديقي (جام جهان نما)

د مغولو د پاچهي تاريخ دی، چې د ۱۱۹۱ ق تر ۱۱۹۹ ق پوري وقايع ليکي، په دې کتاب کې يې د روهيلو او نورو افغانانو احوال په تفصيل کښلي دي، چې خطي نسخې يې د لندن د ايشياټک سوسايټي په کتابخانه او د هند د پټيالې په آرشيف کې وي.

﴾ ۸۹ ﴿

د شېرمحمد خان (زبدة التواريخ)

دا کتاب وقايع ملتان هم نوميږي چې د ملتان پر تاريخ يې کښلی او مخصوصاً يې د دغه ولايت پر افغانانو حکمرانانو باندي ښه معلومات سره راټول کړي دي، خطي نسخې يې د لندن د شاهي ټولني په کتابخانه او د امرتسر په خالصه کالج کې وي.

Ketabton.com: The Digital Library

﴿ ۹۰ ﴾

تاریخ بلوچستان

دا د اخوند ملا محمدصدیق تالیف دی، چي د ملا فتح محمد زوی او د فتح محمد پلار ملا حیات د ملا شهداد زوی و، چي دغه ملا شهداد له خپل وررور سره د اتلسم قرن په اولو وختو کي د بلوڅو قلات ته راغی او په مهري کي اوسېدی.

څکه چي دغه دواړه وروڼه د فضیلت خاوندان وو، نو یې د قلات د خانانو دربار ته لار وموندله او د خان قلات میر احمدخان تر وفات وروسته له دغي کورنۍ څخه صالح محمد وزیر وُ، بیا نو د میر نصیر خان په وختو کي ملا حیات د ملا شهداد زوی او بیا فتح محمد وزیران وو، د دوهم میر نصیر خان تر وختو او ۱۸۴۵ م پورې وزیران له دغي کورنۍ څخه وو.

اخوند محمدصدیق په مستونګ کي زوکړی او خپل تاریخ یې په ۱۱ رمضان ۱۲۷۶ ق ختم کړ، چي سل مخه لري او یوه خطي نسخه یې د کوټي د سید عبدالمجید شاه سره او بله نسخه یې د بلوڅو د کلات په کتابخانه کي ده.

هیتورام په خپل کتاب تاریخ بلوچستان کي له دغه کتابه نقل کوي چي د بلوڅو د قبیلو خپل داخلي جنګونه بیانوي او بیا د هوتک شاه حسین حملې پر شال او مستونګ او قلات باندي ښیي، او د میر محبت خان او نصیر خان احوال تر میر محراب خان او ۱۸۴۵ م کاله په دري ژبه لیکي.

﴿ ۹۱ ﴾

د میرزا احمدعلي کتابچه

دا هم یو خطي کتابګوټی دی چي یوه نسخه یې د قلات په کتابخانه کي وه مؤلف یې احمدعلي د خداداد خان د وختو د شاغاسي ولي محمد مخ سړی دی. (۱۸۵۷ _ ۱۸۹۳م) دغه کتابچه له ۱۸۱۷ تر ۱۸۹۳ پورې د

کلات د خانانو محراب خان او دوهم میر نصیر خان او خداداد خان احوال لري، مؤلف یې په سنده کي ملازم و، په فارسي یې شعر هم وایه خطي دیوان لري. دا کتاب د قلات د بلوڅو خانانو روابط له افغانستانه سره هم نیسي.

﴿ ۹۲ ﴾

انندرام د (بدایع وقایع) لیکوال

دا سړی چي مخلص یې شعري تخلص دی، د احمدشاه په وختو کي د هند د لاهور اوسېدونکی و، او د بدایع وقایع په نامه یې د خپل عصر واقعات په فارسي وکښل. چي په هغو کي اکثر د احمدشاه بابا د هند د جنګي سفرونو بیان راغلی دی، او یوه برخه یې په ۱۹۵۰ م د لاهور په اورینټل کالج میګزین کي چاپ سوې ده.

مخلص د ډهلي او لاهور په دربارو کي محشور سړی و. وقایع یې تر ۱۷۴۸ م پورې کښلي دي او په ۱۷۵۱ م په ډهلي کي مړ دی. د ده کتاب د احمدشاه پر لومړي هندي لام باندي مفید ماخذ دی.

﴿ ۹۳ ﴾

هانوي جونس د (انقلاب پارس) لیکوال

هانوي جونس یو انګرېز سیاح دی. چي د اتلسم قرن په نیمایي کي هغه وخت په ایران کي و چي اصفهان د پښتنو هوتکو شاهانو په لاس کي و.

ده په انقلاب ایران کي چي څلور توکه دی د افغانانو د حملو او جنګو حال په تفصیل په ۱۷۵۳ کال کښلی دی او بیا یې خپله دوه توکه د ایران سیاحت نامه په ۱۷۵۴ ولیکله، چي دغه دواړه د افغانستان د تاریخ ښه منابع دي.

(وګورئ: ببلوګرافي پرشیا ص ۹۱ د لندن چاپ)

ketabton.com: The Digital Library

﴿ ۹۴ ﴾

د محمد حسن مستوفي (زبدة التواريخ)

دا کتاب يې په ۱۱۵۴ ق کښلی دی چي خطي نسخه يې د برتانيا په موزيم کي په نمبر ۳۴۹۸ (او ـ آر) سته له ۱۹۶ پاڼي څخه يې د ميرويس او شاه محمود حال شروع کړی دی.

(وګورئ : د ريو تکمله ۲۴ لوړ نمبر)

﴿ ۹۵ ﴾

مير عبدالکريم نديم د افغان او بخارا مؤرخ

دا ليکوال د ديرلسم هجري قرن له مؤرخانو څخه دی، چي د اسماعيل افغان زوی او اصلاً د کابل د شاه محمود سدوزي د دربار سړی و په خپله وايي (از بلاد کابلم در خدمت محمود شاه).

دی په ۱۲۱۹ ق کال د بخارا په دربار کي و او د بخارا د سفير امير علاء الدين سره يو ځای روس ته وليږل سو، نه مياشتي په پترسبورګ او مسکو کي او بيا اته مياشتي په استرخان کي و.

کله چي شاه محمود سدوزي لومړی پلا له کابله بخارا ته وتښتېدی نو دی له شاه محمود سره يو ځای و او د بخارا په دربار کي يې د قراول بيګی منصب هم درلود.

په ۱۲۱۲ ق ۱۸۰۷ م عبدالکريم د بخارا د يوه بل سفيره سره د روس له لاري استانبول ته ولاړ او هلته يې يوه ترکه ماينه وکړه، تر ۱۲۳۳ ق ۱۸۱۸ پوري هلته د بخارا د سفارت منشي و او د ګانکوفسکي په قول په ۱۸۳۰ م کال په استانبول کي مړ سو (د درانو امپراتوري ۱۳ مقدمه د کابل چاپ ۱۳۵۷ ش)

د عبدالکريم له خپلو ليکنو څخه ښکاري چي دی ۱۸ کلن کشمير ته تللی او دوهمه پلا يې بيا کشمير ليدلی و په فارسي يې شعر هم وايه.

د نديم مهم کتاب په اوزبکي ژبه (افغان و کابل د بخارا و خيوق و خوقند خانګرينګ احوال و حکايات) دی چي لـه ۱۱۵۳ ق څخه بيا تر ۱۲۲۳ ق پوري چي د کتاب د تکميل کال دی، د دغو هيوادو تاريخي واقعي او ګټه ور اطلاعات پکښي ليکل سوي دي چي يوه د ۱۲۶۴ ق کال مخطوطه يې د استانبول د عارف بای په کتابخانه کي وه او اوزبکي متن يې په ۱۲۴۲ ق په استانبول کي چاپ سوی و. داسي ښکاري چي د دغه کتاب فارسي متن هم په خپله مؤلف کښلی و چي لومړی ټوک يې د مصر په بولاق کي په ۱۸۷۳ م کال چاپ سو، بيا يې فرانسوي ترجمه د تعليقاتو سره چارلس شيفر په پاريس کي په ۱۸۷۶ کال نشر کړه (ګنداسنګ، احمدشاه دراني ۴۲۶).

يادونه : دغه بخاري عبدالکريم (نديم يا نادم) له علوي عبدالکريم (نمبر ۳۴) او کشميري عبدالکريم (نمبر ۷۴) سره مه ګډوئ.

﴿ ۹۶ ﴾

محمدرحيم بخش د (دولت درانيه) ليکوال

دا کتاب په اردو ژبه ۱۴۴ مخه د ډهلي په قومي پريس کي په ۱۳۲۱ ق چاپ سو، چي مؤلف يې مولوي محمدرحيم بخش و. او د احمدشاه دراني احوال يې تر شاه زمانه (۱۱۶۰ ـ ۱۲۱۳ ق) پوري کښلي دي. دغه وقايع دمخه لا د ډهلي په قومي اخبار رفيق کي له ۲۵ اکتوبر څخه تر ۲۵ نومبر ۱۹۰۳ م نشر سوي وو، چي د رفيق اخبار د سيد ظهور الحسن په مديريت خپرېدی.

﴿ ۹۷ ﴾

د مير محمد باقر ياد داښتونه

دا مؤلف هغه وخت په اصفهان کي و چي په ۱۱۳۵ ق هوتکو پښتنو پر دې ښار حمله وکړه د صفويانو د سقوط حال يې په سترګو وليد او هغه يې

ketabton.com: The Digital Library

په خپلو یاد داښتونو کي بیان کی، چي د افغانستان د هوتکو د دورې یو ښه منبع ګڼل کیږي. (یغما شماره ۳ کال ۷)

﴿ ۹۸ ﴾

محمدطاهر وحید قزویني د (عباس نامې) مؤلف

ده خپل کتاب د دوهم شاه عباس صفوي په نامه کښلی دی او د صفویانو په وروستیو کي د هرات او کندهار ځیني تاریخي واقعې ښیي. د ایران په اراک کي په ۱۳۲۹ ق یې نسخه کښل سوې ده.

﴿ ۹۹ ﴾

د محمدعلي حزین تذکره

دا سړی د شاه محمود هوتک د حملې پر وخت ۱۱۳۵ ق په اصفهان کي و او له دغه ځایه هند ته وتښتېدی او د سترګو لیدلي واقعې یې په خپله تذکره کي وکښلې. چي د هوتکي دورې لپاره یو ماخذ ګڼه سي. دا کتاب څو واره چاپ سوی دی آخرنی طبع یې د تهران ده، په ۱۳۳۴ شمسي کال.

﴿ ۱۰۰ ﴾

د بصیرت نامې لیکوال

دا کتاب عبرتنامه هم بللی سي. یوه اروپایي ګرزندوی د هوتکو د فتح په کال په اصفهان کي وکښلی او خپل د سترګو لیدلي احوال یې پکښې تصویر کړي دي.

دا کتاب ابراهیم په ترکي او عبدالرزاق په فارسي ترجمه کړی دی. چي خطي نسخې یې په ایران کي سته او د یغما مجلې د ۷ کال په ۴ مه شماره کي له دې کتابه احوال افغان رانقل سوي دي.

﴿ ۱۰۱ ﴾

عبدالنبي بهبهاني د (بدایع الاخبار) لیکوال

دا کتاب په دوولسم قرن کي په فارسي تالیف سوی او موضوع یې د افغانانو حمله پر ایران ده چي د هوتکو پښتنو په دوره اړه لري. خطي نسخه یې په برټش موزیم کي سته.

﴿ ۱۰۲ ﴾

تاریخ خاندان سدو و میر افغان

دا کتاب په فارسي ژبه د سدوزو د کورنۍ پر تاریخ باندي کښل سوی او مؤلف یې معلوم نه دی. خطي نسخه یې د لندن په انډیا آفس کي سته.

﴿ ۱۰۳ ﴾

عبدالله د (تاریخ داودي) لیکوال

دا سړی د ۱۰۱۰ ق په شاوخوا کي د جانګیر په وختو کښې ژوندی و او دغه کتاب یې د لودیانو او سوریانو پر تاریخ باندي د سلطان بهلول لودي څخه تر (۹۸۳ ق) پوري کښلی دی، چي په کلکته کي د بنګال ایشیاټک سوسایټي چاپ کی، خطي نسخې یې په برټش موزیم او بانکي پور کي سته.

﴿ ۱۰۴ ﴾

ملا اختر د تاریخ لیکوال

دا سړی له کومه بله ځایه هیڅ ما نه دی پېژندلی خو بیلیو انګرېزي طبیب چي په ۱۸۵۷ م کال د سیاسي فد سره کندهار ته راغلی و داسي لیکي: چي ماته د کندهار حکمران سردار غلام حیدر خان د امیر دوست

Ketabton.com: The Digital Library

محمد زوی اوه توکه تاریخي کتابونه راکړل او په هغو کي یو د ملا اختر تاریخ و چي په ۱۱۶۳ ق ۱۷۴۱ م کال تالیف سوی دی، او په دې کتاب کي داسي کښلي دي چي تر قیس دمخه درې ورونه وه: بلو (د بلوڅو پلار) ازبک او افغنه.

بیلیو خو د پښتنو پر نژاد او قبیله شناسي باندي ډېر مطالب لري خو د نورو هغو کتابو نومونه یې نه دي کښلي، کوم چي سردار غلام حیدر ده ته بخښلي وو. (وګورئ د ۱۸۵۷ م د سیاسي وفد رویداد په افغانستان کي د لندن چاپ ۱۸۶۲ م)

﴿۱۰۵﴾

محمد کاظم مروي د (نامهٔ عالم آرا) لیکوال

دا سړی اصلاً د مرو وزیر و، او نامهٔ عالم آرا نادري یې د نادر افشار لپاره وکښله چي په هغه کي یې د هوتکانو د پاچهۍ احوال د میرویس خان له غورځنګه بیا د شاه محمود او شاه اشرف احوال د نادر افشار تر جلوسه کښلي دي. لومړی ټوک یې په عکسي ډول په ۱۹۶۰ م کال له مسکوه څخه طبع او خپور سو.

﴿۱۰۶﴾

احمد علي خان وزیري د تاریخ کرمان لیکوال

دا سړی د قاجاري دورې د ۱۳۰۰ ق کال د کرمان اوسېدونکی و چي د کرمان تاریخ یې کښلی او په ۱۳۴۰ ش په تهران کي چاپ سوی دی.

په دې کتاب کي د افغانانو د جنګو او د دوی د کورنیو احوال د شاه محمود هوتک له وخته تر ۱۱۳۵ ق څخه بیا د قاجاري دورې تر آخرو وختو پوري راغلي دي او د افغانانو داسي کورنۍ او اشخاص یې هم ذکر کړي دي، چي تر هوتکیانو وروسته یې د زندیانو او قاجاریانو په وختو کي د کرمان او پارس پر سیمو سرداري کوله.

﴿۱۰۷﴾

د ایران او اروپا روابط د صفویانو په وختو کي

دا کتاب له اروپایي ژبې څخه د (تاریخ ایران و اروپا در عهد صفویه) په نامه عباس پرویز ترجمه کړی او په ۱۳۱۷ ش کال یې په تهران کي چاپ کړی دی، چي په ایران کي د هوتکیانو د وختو ډېر سیاسي واقعات بیانوي.

﴿۱۰۸﴾

ظفرنامهٔ خسروی

په دې نامه یوه خطي نسخه د تاجکستان د ختیځ پوهني په څانګه کي سته، چي مؤلف یې معلوم نه دی خو ښایي چي د بخارا امیر نصرالله خان د دربار یو منشي وي، چي د (۱۸۲۶ تر ۱۸۶۰ م) کاله یې وقایع کښلي او د دغه امیر دربار یې په مفصله توګه ښوولی دی، دا کار د بل چا له لاسه نه و پوره، مګر د داسي چا چي په دربار کي به محشور و، په دې کتاب کي د بخارا او افغانستان سیاسي روابط او د شمالي افغانستان ځیني اوضاع ښوول سوي دي.

(د نظراوف د بخارا او افغانستان روابط د تاجکستان چاپ)

﴿۱۰۹﴾

خاینکوف د بخارا د خانۍ او علمي تحقیقاتو لیکوال

ن. و خانیکوف د روس د تزاري دورې یو مشهور عالم او سیاح دی چي په ۱۸۴۱ م کال د بوتینیف له سفارتي ډلي سره بخارا ته راغی او د بخارا د خانۍ هیواد پر احوال یې خپل مشهور کتاب وکیښ. بیا په ۱۸۵۷ م کال دی د افغانستان پر خوا د یوې علمي ډلي مشر و، چي امیر دوست محمد خان دوی کابل او کندهار ته نه پرېښوول او دې ډلي خپل علمي سفر

ketabton.com: The Digital Library

په هرات کي ختم کی. د دې سفر مشاهدات هم گرده په علمي ډول ترتیب سوي او په هغو وختو کي په روسي ژبه خپاره سوي دي، او د افغانستان د هغه وخت ځني اوضاع ښه راښیي.

﴿ ۱۱۰ ﴾

نورمحمد د (تاریخ سلېماني) لیکوال

مولف يې د پنجاب د میانوالی له پښتنو څخه حاجي نورمحمد سلېماني دي چي د تولد تاریخ يې ۲۶ رمضان ۱۲۵۰ ق و، دی ځیني نور تالیفونه هم لري. ارشاد نوري يې د تصوف او طریقت بیان کوي او زاده الاعوان يې تاریخ دی.

دی په تاریخ سلېماني کي د افغان اولیاوو احوال لیکي، چي له هغو څخه د خواجه سلېمان او مکي خان او ابراهیم او موسی او ملا یوسف احوال شهاب الدین خان په خپل تاریخ کي راوړي دي.

(تاریخ افاغنه ۲ _ ۹۰)

داسي ښکاري چي تاریخ سلېمان د پښتنو د تاریخ یو کتاب و، ځکه چي اکثر عرب او عجم پښتانه سلېماني بولي.

﴿ ۱۱۱ ﴾

شاه محمد د (تاریخ خاندان سدوزایي) لیکوال

دا کتابگوټی شاهزاده شاه محمد سدوزایي د سنده په ټهلی کي په دري ژبه تالیف کړی او په ۳۰ نومبر ۱۹۱۳ م غره محرم ۱۳۳۳ ق يې پای ته رسولی دی. په خپله دغه مولف ولد جان محمد بن خدادا بن تاج محمد بن پیرمحمد بن ایوب شاه بن تېمور شاه بن احمدشاه و. چي په لومړي فصل کي د ایوب شاه په دوهم فصل کي د ایوب شاه زامن په درېیم فصل کي د شهزاده پیرمحمد سفر شکارپور ته په څلورم فصل کي د دغه شهزاده مرگ په ۱۸۸۴ م کي ښیي. په پنځم فصل کي د پیرمحمد زامنو او شپږم فصل د

شهزاده شاه محمد د میرې بیان او اووم فصل د شاه محمد تکالیف اتم فصل د نورجهان او نهم فصل د شاهزاده دین محمد یادوني دي.

د دغه کتاب خطي نسخه ما د شکارپور گړي یاسین د دراني بدر عالم په کتابخانه کي لیدلې وه، او د سدوزو د کورنۍ د ایوب شاه د ټبر شجرهٔ نسب په دې دوو سوو کلو کي ځني معلومېږي.

﴿ ۱۱۲ ﴾

محمد حسن خان مراغی د (مطلع الشمس) لیکوال

دا سړی د ایران د قاجاري دربار یو مهم رکن و، چي د صنیع الدوله او اعتماد السلطنه لقب يې درلود (متوفي ۱۳۱۳ ق) او خپل کتاب يې د مطلع الشمس یعني خراسان په نامه درې ټوکه کښلی دی. چي دوهم ټوک يې د دې سیمي تاریخ له ۱۰۳۶ څخه تر ۱۸۸۵ م پوري بیانوي او ځیني واقعات يې په سترگو هم لیدلي دي.

دا کتاب د افغانستان د درانو شاهانو روابط د خراسان له یوې قدیمي برخي طوس او نشاپور سره بیانوي او د احمدشاه فوجي لامونه پر دې سیمه په تفصیلي ډول لیکي. (د تهران چاپ ۱۳۰۱ ق)

د ده بل تاریخي کتاب منتظم تاریخ ناصري دوه ټوکه په تهران کي چاپ سوی و، چي په دې کتاب کي هم د درانو شاهانو د وختو واقعات په هرات او غربي افغانستان کي بیان سوي او په دوهم ټوک کي د صفویانو د سقوط احوال او پر اصفهان د افغانانو قبضه بیانوي، چي د هوتکو د وختو لپاره ښه منبع کېدای سي، کله کله ځیني رسمي اسناد او فرامین هم رانقل کوي.

﴿ ۱۱۳ ﴾

فریه فرانسوی گرزندوی د افغانانو د تاریخ لیکوال

دا سړی یو فرانسوی سیاح او پلټونکی لیکوال دی، چي د نونسمي پېړۍ په لومړۍ برخه کي په افغانستان کي گرزېدلی، او مخصوصاً يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هرات او د افغانستان غربي سيمي ليدلي دي. د ده (تاريخ افغانان) له لندنه په ۱۸۵۸ م کي خپور سو، چي هم تاريخي مواد هم د عمومي بشر پېژندني او جغرافيا او جامعه شناسۍ ښه ذخيره لري.

﴿ ۱۱۴ ﴾

فارسي اخبارات و مراسلات

د شرقي هند کمپنۍ چي د اتلسمي سدۍ څخه بيا تر نونسمي سدۍ پوري د خپلو استعماري غرضو لپاره په افغانستان کي کوم جاسوسان يا خبريالان مقرر کړي وو او هغو به د دې ځای د رسمي او اقتصادي او اجتماعي احوالو رپورټونه خپلو مرکزونو ته ورکول داسي مواد خورا ډېر دي چي د دې سيمي د تاريخي واقعو هنداري دي.

د ډهلي په ملي ارشيف کي چي څه مواد سته له هغو څخه ۲۳۱ هغه خطونه دي چي له ۱۷۷۶ څخه تر ۱۸۰۳ م پوري د کمپنۍ او د هندوستان او افغانستان په روابطو پوري اړه لري. او دغه مجموعه ډاکتر پرماتماشرن په ۱۹۶۶ م کال له ډهلي يونيورستي څخه خپره کړه چي فارسي متن يې ۵۲۲ مخه او مقدمه او فهرستونه يې ۱۰۴ مخه دی، نقشې او تصاوير هم لري.

په دغو سندنو کي د افغانستان د تېمورشاه او شاه زمان د وختو ډېر پاخه اطلاعات سته چي زموږ تاريخ ښه را روښانه کوي او د دې عصر پر سياسي اوضاعو باندي کافي رڼا اچوي.

﴿ ۱۱۵ ﴾

د فارسي ژبي د اطلاعاتو کالنۍ

دا هم يوه د خطونو او مراسلاتو مجموعه ده چي د کمپنۍ د مامورانو او هندوستانيو حکمرانانو او نوابانو تر منځ مخابره سوي دي، او د درانو د سلطنت واقعات ښه روښانه کوي. د دغسي خطونو يوه مجموعه په نه ټوکه کي له ۱۹۱۱ څخه تر ۱۹۱۳ م پوري له کلکتې او ډهلي څخه نشر سوې ده.

﴿ ۱۱۶ ﴾

بگدان اسلانوف د افغاني راپور ليکوال

دا سړی په ۱۷۶۴ م کال عسکري کپتان و، او د روسي حکومت له خوا افغانستان ته راواستول سو چي د احمدشاه بابا د سلطنت روابط د روس د پترسبورگ له سلطنته سره ونښلوي، دا وغواړي چي د کندهار دربار دي خپل يو سفير پترسبورگ ته واستوي. خو په دغه وخت کي چي اسلانوف راغي احمدشاه په هندوستان کي و، او ده نه وکړای سوای چي له احمدشاه سره وگوري.

بگدان اسلانوف د دې سفر راپور خپل حکومت ته وړاندي کړی دی. چي اوس د روسيې د خارجي سياست په آرشيف کي (اوغاني کارونه ۱۷۶۳ _ ۱۷۶۶ م) خوندي دي.

دی د احمدشاهي دولت د خراساني توابعو او ځينو نورو سياسي اوضاعو ښه معلومات ورکوي، چي ځيني گزارشات يې گانکوفسکي د شوروي د ختيځ پوهني په مجله ۸۲ گنه ۱۹۵۸ م کي نشر کړي دي.

﴿ ۱۱۷ ﴾

د يفريموف ياد داشتونه په روسي ژبه

ف . س . يفريموف يو روسي درباري مشاور د خپل سفر ياد داشتونه په ۱۷۸۴ _ ۱۷۹۶ _ ۱۸۱۱ م کلو کي خپاره کړل دې درباري مشاور د بخارا او خيوا له لاري فارس او هند ته سفرونه وکړه چي له دې ځايه بيا انگلستان او خپل وطن ته ولاړ. د ف . يفريموف نه کلن سفر په نامه يو کتاب چي دغه سيمه د احمدشاهي امپراتورۍ يوه وړوکې برخه وه نو د يفريموف معلومات د دغي دورې د سياسي او اقتصادي اوضاعو د روښانولو لپاره گټه ور دي.

ketabton.com: The Digital Library

﴾ ۱۱۸ ﴿

د جان فاستر د سفر یاد داشتونه

دا سړی د شرقي هند د کمپنۍ یو منصبدار و، چې د معلوماتو لپاره په ۱۷۸۳ م د درانو پاچهانو په وختو کې د ګرجي سوداګرانو په لباس له کلکتې څخه د کشمیر پر لار پېښور، کابل، کندهار او هرات ته راغی او دلته یې پر سیاسي واقعاتو او د ښارونو پر حال او تجارت او کسبونو او مالیاتو او ګمرکي محصولاتو او د ولایتونو پر حاکمانو او مرکزي حکومت او د تېمورشاه پر عسکري قواوو باندې مفصل معلومات ټول کړل او په دوه ټوکه کې یې په لندن کې په ۱۷۹۸ کال چاپ کړل. چې الماني ترجمه یې په ۱۷۹۹ م او فرانسوي په ۱۸۰۸ م له پاریسه خپره سوه.

﴾ ۱۱۹ ﴿

راورټي د پښتو او افغان پېژندنې ستر لیکوال

دا سپاهي او افغان پېژندونکی انګرېز مؤلف په ۱۸۲۵ م د انګلستان د پالموت د پیتهر راورټي په کور کې وزېږېدی او تر زده کړو وروسته په عسکري ضابطاتو کې هند ته راغی.

چې په ۱۸۴۳ م د بمبي په پیاده لښکرو کې و. او په ۱۸۴۸ م یې د ملتان په محاصره کې برخه درلوده. په ۱۸۵۰ م د سوات په جنګو کې شامل و. بیا له ۱۸۵۲ څخه تر ۱۸۵۹ م پورې په پنجاب کې د کمشنر معاون و. خو یې په ۱۸۶۳ م د میجرۍ په رتبه متقاعد سو. ده د هندوستان ډېرې ژبې زده کړې وې. پر پښتو او فارسي ژبو باندې هم حاوي و، د هندوستاني اصطلاحاتو لوی قاموس یې په ۱۸۵۹ م خپور کی، او ډېر کتابونه یې کښلي دي.

چې دلته یې تش هغه کتابونه ښیو چې په افغان پېژندنې پورې اړه لري. وفات یې په لندن کې په (۲۰) اکتوبر ۱۹۰۶ میلادي دی.

(۱) پر افغانستان او د بلوچستان پر یوه برخه باندې یادداشتونه :

دا کتاب د جغرافیا او بشر پېژندنې او تاریخ یو غټ کتاب دی چې راورټي د افغاني او تاجیکو مؤرخانو او جغرافیا لیکونکو او شجره پوهانو د ناپېژندلو لیکونو په حواله سره راټول کړی دی، چې د افغانستان د خلکو د پېژندنې لپاره یو غټ تحقیقي کتاب ګڼه سي او په ۱۸۸۰ م لومړی پلا له لندنه خپور سوی دی.

(۲) د پښتو ګرامر درې واره بشپړ سوی او چاپ سوی دی. او د پښتو او پښتنو پر تاریخ یوه مفصله او ګټه وره مقدمه لري. دریم چاپ ۱۸۶۷ م.

(۳) پښتو ډکشنري په انګرېزي. دوهم چاپ ۱۸۶۷ م.

(۴) ګلشن روه ـ د پښتو ادب غورچانې ۲۱۲ مخه لومړی چاپ هرتفورډ ۱۸۶۰ م، دریم چاپ کابل ۱۳۵۶ ش.

(۵) د افغان شاعرانو له کلامه منتخبات چې له ۱۶ تر ۱۹ سدۍ پورې شاعران پکښې شامل دي. د انګلیسي ترجمې سره د لندن چاپ ۱۸۶۴ م.

(۶) د منهاج سراج جوزجاني د طبقات ناصري دوه ټوکه په انګرېزي ترجمه د تعلیقاتو سره د ۱۸۸۱ م چاپ.

(۷) د هرات تاریخ له قدیمه تر اوسه چې چاپ سوی نه دی او نسخه یې په انډیا آفس کې ده.

(۸) د افغانانو تاریخ او د دوی هیواد ـ چې له ډېرو خطي منابعو څخه راټول سوی و او د ده د مرګ پر وخت یې قلمي نسخه وه.

﴾ ۱۲۰ ﴿

پاترکروسینسکی د (انقلاب ایران) لیکوال

دغه سړی یو نصراني کشیش و، چې د هوتکو په وختو کې د اصفهان اوسېدونکی و او د شاه محمود او اشرف د عصر واقعې یې په سترګو لیدلي او کښلي دي.

انګرېز مشهور ختیز پوهاند براون وایي چې د ده کتاب انقلاب ایران په انګرېزي هم ترجمه او نشر سوی و. (د عباس نامې مقدمه ز)

ketabton.com: The Digital Library

﴿ ۱۲۱ ﴾

میرزا محمد خلیل صفوي د (مجمع التواریخ) لیکوال

دا مؤرخ په خپله صفوي او د ایران یو بصیر مؤرخ دی چې د صفویانو د وروستنیو وختو احوال او د افغانانو فتوحات او واقعې په خپل کتاب مجمع التواریخ کې تر ۱۲۰۷ ق پورې بیانوي. دا کتاب په ۱۳۲۴ ش په تهران کې چاپ سو، او د هوتکو د دورې یو مستند ماخذ دی. د مولف وفات ۱۳۲۰ ق کال دی.

﴿ ۱۲۲ ﴾

میر احمدشاه رضواني د (تحفة الاولیاء) لیکوال

دغه مؤلف د پښتو ژبې یو تکړه لیکوال او د پېښور د اکبر پورې اوسېدونکی و، چې د څورلسم هجري قرن په لومړیو وختو کې ژوندی او د شمس العلماء لقب یې هم ګټلی و. (۱۲۷۹ _ ۱۳۵۳ ش) د پښتو ګرامر وافیه او شکرستان افغاني، بهارستان افغاني د ده چاپ سوي آثار دي.

د ده یو بل کتاب تحفه الاولیاء هم په لاهور کې په ۱۳۲۱ ق چاپ سوی دی، چې د ختکو د شیخ رحمکار د کورنۍ او د هغو سیمو د نورو ولیانو احوال لري او د یوسفزو او خلیلو او مومندو د تپو ځیني تاریخي واقعې یې هم راوړي دي.

﴿ ۱۲۳ ﴾

تاریخ افغانستان

د دې کتاب مرتب او چاپوونکی په اردو ژبه میر اشرف علي د مجمع الاخبار موسس دی چې د بمبئی د افضل الدین په چاپخانه کې په ۱۲۶۱ ق ۱۸۴۵ م کال ۳۴۰ مخه چاپ سو. په دې کتاب کې له لومړي مخه تر ۹۰

مخه د سید فدا حسین ترکسوار بخاري حیدري له کتابه چې په ډهلي کې چاپ او خپور سوی و (وګورئ: ۷۱) را اخیستل سوي مطالب دي. له ۹۲ تر ۱۴۰ د انګریز او افغان د لومړي جنګ او اکبرخان د وختو واقعې بیان سوي دي، چې دغه برخه هم د شیخ ذوالفقار الدین سجونپوري له اردو تاریخ افغانستانه اقتباس ښکاري. له ۳۲۰ تر ۳۳۱ مخه پورې تر لومړي جنګ را وروسته د افغانستان او سند واقعې بیاني سوي دي، چې په خپله میر اشرف علي سره راټولي کړي دي.

داسې ښکاري چې همدغه کتاب به د میرزا عطامحمد ښکارپوري په لاس کې و چې د نوای معارک په لیکلو کې به یې ګټه ځني اخیستې وي.

(وګورئ: ۴۳)

توضیح: لکه د دې رسالې تر نمبر (۷۱) عنوان لاندې چې ولیکل سوه "سید فدا حسین عرف نبی بخش بخاري حیدري د تراکسوارانو جمعهدار په ۱۸۳۹ م کال د انګرېزانو د متجاوز لښکرو سره افغانستان ته راغلی و د ده خپل مشاهدات په ۱۸۴۲ م په ډهلي کې چاپ کړل چې د میر اشرف علي د کتاب د لومړۍ برخې ماخذ و.

تر دې علاوه د ابوالقاسم دهلوي ظفرنامه (د دې رسالې نمره ۷۰) چې په فارسي منظومه تاریخچه وه شیخ ذوالفقار الدین سجونپوري په اردو ترجمه کړې وه، چې دغه هم د میر اشرف علي د تاریخ افغانستان په دوهمه برخه کې له ۹۲ تر ۱۴۰ مخه ځای سوې ده.

(د تفصیل لپاره وګورئ: نوای معارک د حبیبي چاپ د ۳۶۶ _ ۳۶۷ مخ لمنلیک)

﴿ ۱۲۴ ﴾

د ملتان د سدوزو د تاریخ لیکوال احمدنبی خان

تر احمدشاه بابا دمخه لا د سدوزو یوه څانګه چې د مودود خان او بهادر خان او زعفران خان کهولونه وو په ملتان کې اوسېدل او د هغه ځای مقامي مشران وو.

ketabton.com: The Digital Library

پـه دغو سدوزو باندي يو كتاب پـه لوړ عنوان پـه انګرېزي ژبـه د دغو سدوزو يوه كروسي احمدنبي خان كښلى او پـه ۱۹۷۷ م كال پـه لاهور كي چاپ سوى دى چي عكسونه او شجره هم لري.

﴿ ۱۲۵ ﴾

علي قلي ميرزا د (تاريخ وقايع و سوانح افغانستان) مؤلف

دا سړى د قاجاري شهزادګانو څخه و چي پـه اعتضاد السلطنه ملقب او د پوهني وزير و، پـه لوړ نامه يې د افغانستان يو تاريخ ليكلى دى، چي پـه ۱۸۵۶ م پـه تهران كي پر ډبره چاپ سوى دى.

﴿ ۱۲۶ ﴾

بهاري لال د (احوال نجيب الدوله و علي محمدخان و دوندي خان) ليكوال

دا سړى د بدري داس زوى او د نجيب الدوله منشي و، چي پـه ۱۲۰۱ ق يې دغه كتاب كښلى او د پښتنو سردارانو نجيب الدوله او علي محمد خان او دوندي خان احوال پكښي ليكلي دي پـه دې كتاب كي د نجيب الدوله روابط د احمدشاه بابـا سره پـه تفصيل راغلي دي او خطي نسخه يې د حيدرآباد د نواب سالار جنګ پـه كتابخانه كي وه، چي يو نقل يې د امرتسر خالصه كالج پـه كتابخانه كي خوندي دى.

﴿ ۱۲۷ ﴾

فقيرمحمد د (جامع التواريخ) ليكوال

دا د اسلام يو عمومي تاريخ دى چي يو باب يې د احمدشاه د هندوستان پر لامونو باندي كښل سوى دى، د كلكتې چاپ ۱۸۳۶ م د كانپور چاپ ۱۸۷۴ م.

﴿ ۱۲۸ ﴾

عبدالقادر خان كابلي د (اويماق مغل) ليكوال

ميرزا محمد عبدالقادر خان چي پـه شاه محمدخان كابلي مشهور و د ده نيكه لـه كابله ولاړ، او د هند پـه ګواليار كي اوسېدى، او عبدالقادر پـه ۱۸۵۷ م هلتـه وزېږېدى، ده يو غټ كتاب پـه فارسي ژبـه پـه ۱۹۰۰ م د مغولو د قبيلو پر احوال باندي وكيښ چي پـه ۱۳۱۹ ق يې پـه امرتسر كي چاپ كړى دى.

دا كتاب د افغانستان د سدزو او محمدزو پر وختو باندي د ډېر تاريخي ګټه ور مطالب لري او د هزاره او اوزبكو قبيلو نومونه او څانګي رابښيي.

﴿ ۱۲۹ ﴾

محمود بن اميرولي د (بحر الاسرار) مؤلف

دا سړى د بخارا د خانانو كتابدار مؤرخ او واقعه نګار و، چي تر ۱۰۳۴ ق وروسته يې پـه افغانستان او هند كي سفرونه وكړل او يو غټ كتاب يې د بحر الاسرار في مناقب الاخبار پـه نامه وكښى، چي بخارا د خانې حال يې لـه ۱۰۰۶ ق څخه تر ۱۰۵۰ ق پوري پـه تفصيل كښلى دى.

پـه دې كتاب كي د افغانستان تاريخ او جغرافيا او بشر پېژندني او اجتماعي احوال مفصل معلومات سته چي خطي نسخې يې د تاشكند او پاريس پـه كتابخانو كي سته.

﴿ ۱۳۰ ﴾

ميرزا سنګ محمد بدخشي د (تاريخ بدخشان) مؤلف

دا مؤلف د بدخشان و چي پـه لوړ تاريخ كي يې د بدخشان تاريخي واقعي لـه ۱۰۶۸ ق څخه تر خپله وخته ۱۳۲۳ ق پوري كښلي دي، يوه

ketabton.com: The Digital Library

تکمله هم لري چي ملا فضل بیگ روشاني په شلم قرن کي پوري نښلولې ده. عکسي نسخې یې په ماوراء النهر کي وې چي یوه نسخه یې عکسي هم چاپ سوې ده.

﴿ ۱۳۱ ﴾

هنورام د (تاریخ بلوچستان) مؤلف

دا سړی د شلم قرن په ابتداء کي د انګریزي بلوچستان یو مامور و.
چي د بلوچستان یو تاریخ یې په اردو په کوټه کي وکیښ. چي ۱۹۰۷ م کال په لکنهو کي چاپ سو.

دا کتاب د افغانستان او بلوڅو روابط او تاریخي واقعې د بلوڅو شجرو او انسابو سره ښه راښیي. کله جغرافي او رجالي برخي هم لري.

﴿ ۱۳۲ ﴾

تاریخ قندهار در عصر درانی

په لوړ نامه یو فارسي کتاب د لندن په انډیا آفس نمبر ۳۷۶۹ سته چي د مؤلف نوم یې نه دی معلوم.

﴿ ۱۳۳ ﴾

رای چنرس د (چهار ګلشن) مؤلف

دا سړی په هند کي اوسېدی په ۱۱۷۳ ق کال یې خپل کتاب تالیف کي چي بیا نو د ده لمسي رای بهان منشي په ۱۳۰۴ ق تکمیل کړی دی. خطي نسخې یې د هند په علي ګړ او بانکي پور او برټش موزیم کي سته او خورا ګټه ور کتاب دی چي د هند د پښتنو شاهانو تاریخي معلومات لري او د افغاني درانو د وختو دولتي عایدات هم په شرقي ولایاتو، لکه لاهور او ملتان کي ښیي.

﴿ ۱۳۴ ﴾

عصمت الدین د (خلاصة الاخبار) خاوند

دا سړی د محمداسماعیل زوی او د میر محمد لمسی و چي د امیر دوست محمد خان لنډ احوال یې تر ۱۲۵۴ ق پوري په فارسي کښلی و او دوې خطي نسخې یې د بنګال په ایشیاټک سوسایټي کي وي. چي په نهم قرن کي لیکل سوي وې.

﴿ ۱۳۵ ﴾

سید محمد طباطبایي اصفهاني د (نسب نامه افاغنه) مؤلف

دا مؤلف په دیرلسم قرن کي د ایران اوسېدونکی و چي د انګریزانو د سفیر هنري ایلیس په خواهش یې په ۱۲۲۴ ق یو کتابګوټی د (نسب نامهٔ افاغنه و کیفیت حکومت آنها) په نامه وکیښ، چي د افغانانو لنډ تاریخ او د دوی حکومت پر پاریس باندي بیانوي او د افغانستان د ښارو او اقوامو او قبیلو شرح لري، چي یوه خطي نسخه یې د بنګال د ایشیایي ټولني په کتابخانه کي وه، د ۱۲۲۴ ق کال لیک.

﴿ ۱۳۶ ﴾

ثاقب د (تاریخ افاغنه) لیکوال

مؤلف یې محمد شهاب الدین خان ثاقب دی، چي د ۱۹۰۰ م په شاوخوا کي د هند له پښتني کورنیو څخه یو لیکوال و او دا کتاب یې په دوه ټوکه کي په اردو ژبه د لاهور په حمیدیه پریس کي په ۱۳۲۳ ق کال چاپ کی. لومړی ټوک ـ ۱۲۴ مخه، دوهم ټوک ـ ۲۱۴ مخه.

دغه کتاب هم د افغانانو د اسرائلیت عنعنوي داستانونه لري خو ډیري داسي خبري هم پکښي سته، چي تاریخي اړخ یې ټینګ ښکاري او د

ketabton.com: The Digital Library

افغانانو د اولیاوو احوال يې د نعمت الله له مخزن افغاني څخه را اخیستي دي.

﴿ ۱۳۷ ﴾

احمد د (معدن اخبار احمدي) لیکوال

احمد بن بهبل د جانګیر په وختو د ۱۰۲۸ ق په حدودو کې دغه کتاب په دوه ټوکه کې کښلی او د شرق عمومي تاریخ دی، چې د هند د افغاني شاهي کورنیو لودیانو او سوریانو احوال هم پکښې سته، د کابل په ارشیف کې يې هم یوه خطي نسخه سته، د برټش موزیم او انډیا آفس نسخې يې هم معلومې دي.

﴿ ۱۳۸ ﴾

محمد بدر الرحمن د (واقعات دراني) مؤلف

دا کتاب د درانو د سلطنت تاریخ دی، له احمدشاهه د شاه شجاع تر قتله ۱۲۵۷ ق پورې چې د افغان او انګریز لومړی جنګ لا جاري و. د هند په کانپور کې چاپ سوی دی او د طبع تاریخ نه لري.

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library